د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د
تألیف لوی ریاست

د ښوونکي کتاب
د اسلامي ښوونې او روزنې
د تدریس لارښود

لسم ټولګی



د اسلامي ښوونې او روزنې د تدریس لارښود - لسم ټولګی

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، اخیستنه
او خرڅونه یې په کلکه منع ده. له سرغړونکو سره قانوني
چلن کیږي.

moe.curriculum@gmail.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا ، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

د ښوونکي کتاب

د اسلامي ښوونې او روزنې د تدریس لارښود

لسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـــ. ش.

ليکوالان

- مؤلف عنايت الله عادل د ديني علومو د ډيپارټمنټ علمي او مسلکي غړی
- مؤلف مولوی عبدالوکيل د عقايدو ديپارمنت علمي او مسلکي غړی
- مؤلف مايل آقا متقی د حديث ديپارمنت علمي او مسلکي غړی.
- د مؤلف مرستيال محمد اصغر وکيلی پوپلزی د فقې ديپارټمنت علمي او مسلکي غړی.

علمي او مسلکي ايډيټ:

- محمد آصف کوچی

د ژبې ايډيټ:

- مؤلف محمد سهراب ديدار

ديني، سياسي او فرهنگي کميټه:

- دکتور عبدالصبور فخري
- محمد آصف کوچی

د څارنې کميټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين
- دکتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس.

طرح او ډيزاين:

- حميد الله غفاري
- فيض محمد فياض

د چاپ د سمون چارې: محمد کبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئيس

بسم الله الرحمن الرحيم

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوخو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مودی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزير پيغام

ګرانو استادانو او ښوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې چمتو کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم د وخت له غوښتنوسره سم علمي او رغنده پراختيا ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

د ښوونکی د لارښود دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې بنسټ چمتو اوترتيب شوی دی. د تدريس د نويو ميتودونو له مخې فعاليتونه او معلوماتي مواد په کې ورزيات شوي دي چې په ډاډ سره به د زده‌کړې په بهير کې د زده‌کوونکو د فعال ساتلو لپاره ګټور او اغېزمن وي.

هيله من يم د دې کتاب منځپانګه، چې د فعالې زده‌کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تاليف او چمتو شوی، ستاسو درنو استادانو د ګټې وړ وګرځي. له فرصت څخه په استفادې د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه غوښتنه کيږي د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې مرسته وکړي چې په دې توګه د پوهنې د نظام موخې او هيلې ترسره شي او ځوان نسل او هېواد ته ښې پايلې او برياوې ور په برخه کړي.

زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونده مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي، چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو او ارزښتونو، د ټولنې د څرګندو اړتياوو، ملي ګټو او وطنپالنې له روحيې او د ساينس او تکنالوژۍ له نوو علمي معيارونو سره سم پراختيا ومومي.

ددې سترې ملي موخې د تر لاسه کولو لپاره د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم، چې د خپلو نظريو او رغنده ګټورو وړانديزونو له لار ې زموږ له مؤلفانو سره د درسي او د ښوونکي د لارښود کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه، چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې برخه اخيستې او همدارنګه له ملي او نړيوالو درنو موسسو او نورو ملګرو هېوادونو څخه، چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي او د ښوونکي د لارښود کتابونو په چاپ او وېش کې يې مادي يا معنوي مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم او د لا نورو مرستو هيله يې لرم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردک

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

سرلیکونه

سرلیک...مخ
له ښوونکي سره څو خبرې... ۱
د عقایدوبرخه.. ۱۰
لومړی لوست.. ۱۱
د عقایدو علم... ۱۱
د الله تعالی پر وجود ایمان.. ۱۴
د الله تعالی یوالی او وحدانیت.. ۱۷
د الوهیت توحید.. ۱۹
د الله تعالی نومونه او صفتونه.. ۲۲
د الله تعالی صفتونه ۲۵
د الله تعالی ذاتي صفتونه (قدرت او اراده) ۲۸
د الله تعالی ذاتي صفات (سمع، بصر، علم اوحیات) ۳۰
د الله تعالی د کلام صفت ۳۲
په ملائکو ایمان.. ۳۴
د حدیث شریف برخه.. ۳۷
داحادیثو اهمیت ۳۸
تدبیر په کارونو کې ۴۱
د صلحې ارزښت او د خلکو ترمنځ روغه ۴۳
په کارونوکې اسانتیا ۴۶
دظلم مخنیوي ۴۹
د غضب درملنه.. ۵۳
غوره خلک.. ۵۶
د ایمان څانګې ۵۹
تعصب (قوم پرستي) ۶۳
د مؤمن شان (حالت).. ۶۶
پر تکالیفو صبر ۶۹
د مسلمان حقوق ۷۳
دوه مخي ۷۷
د خوب آداب ۷۹
د فقهې برخه ۸۲
اسلام د ژوند کړنلاره ده.. ۸۳
د اسلام اقتصادي نظام.. ۸۶
د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې.. ۸۸

د میراث په هکله قرآني لارښوونې ۹۳
د میراث په هکله قرآني لارښوونې ۹۵
د میراث د علم مبادي ۹۶
ذوی الفروض او برخې يې او د ښځو له ډلې څخه د ذوی الفروضو حالتونه: ۱۰۱
د ښځو له ډلې څخه د ذوی الفروضو حالتونه ۱۰۳
عصبات ۱۰۴
د برخو مخرجونه ۱۰۶
عول ۱۰۸
تماثل، تداخل ... او تصحيح ۱۱۱
د ورثې ترمنځ د متروکې د ویشلو طریقه: ۱۱۳
تخارج ۱۱۷
رد ۱۱۹
جهاد ۱۲۲
د جهاد لاس ته راوړنې ۱۲۳
په جهاد کې کوم کسان مکلف دي ۱۲۷
د اسلام له نظره د جهاد ډولونه ۱۳۰
صلح او احکام يې ۱۳۲

له ښوونکي سره څو خبرې

محترم ښوونکی،

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

یوه ښوونیزه او تربیتي ټولنه د یوې پر مختللې ټولنې د ښه تشکلیل سبب ګرځي.

یوه ښه ټولنه له هغې ټولنې څخه عبارت ده چې اسلامي ارزښتونه او اخلاقي ګټې پکې مراعات شي، ځکه چې له ملي او اسلامي هویت سره د نیکو اخلاقو او هدایاتو مراعاتول ددې سبب کیږي، چې وګړي محفوظ او خوندي پاتې شي، چې دا د پوهنې وزارت یو بنسټیز او اساسي هدف دی.

درنو ښوونکو،

ددې لپاره چې د وطن بچیان مو له اسلامي ارزښتونو او له دینې زده کړو باخبره، له ملي، ټولنیزو او نړیوالو مصلحتونو باخبر او له اصیل اسلامي او افغاني فرهنګ سره لوی شي او په کړنو، رویه او ذهنیت یې مثبته اغېزه وکړي، نو هیله ده چې ښاغلي ښوونکي د همدې لارښود کتاب په رڼا کې چې د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف د ریاست د مسلکي غړیو لخوا په پوره زحمتونو سره برابر شوی، کار واخلي.

د ښوونکي لارښود دا کتاب د لسم ټولګي د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون لپاره ترتیب شوی او لکه څنګه چې د کتاب په پېښتې (بسم الله الرحمن الرحیم) تزیین شوې وروسته د مؤلفانو معرفي راځي او بیا د موضوعاتو فهرست راځي.

د درسونو جوړښت داسې دی چې د درس سرلیک د شمارې او مخ ۴۵ دقیقې، د درسي ساعت، د درسي فعالیتونه، په ځینو لوستونو کې د لغاتو مانا او د تدریس تګلاره او کړنلاره، د مواد معرفي، د درسي کومکي توکو او مواد معرفي او د ښوونکي نور اړونده فعالیتونه، د احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل او نور ګډ فعالیتونه چې د ښوونکي او زده کوونکو تر منځ وي، لکه: پوښتنې او جوابونه، انفرادي او ګروپي تکرار او یا هم مسابقه هغه لارې او تګلارې دي، چې په اساس یې مور د موخې لاسته راوړلو، لپاره ارزونه تر سره کوو او په اخر کې د لوست لنډیز او زده کوونکو ته د کورنۍ کار دنده ورسپارل کیږي.

د لوست په لاښه کولو کې، د لوست له سرلیک وروسته د لانورې تشریح په اړه کافي معلومات ورکړل شوي دي.

د ښوونکي صفتونه

تقواداره، با دیانته او نېک اخلاقه وي.

د لوړو امیدونواو هیلو خاوند وي.

په خپل نفس او ځان باور ولري.

د لوړ شخصیت څښتن او د نورو تر اغېزې لاندې نه وي.

په ځان بسیا، د لوړ مزاج او دندو د ښه تنظیم کولو وړتیا ولري.

ډاډه او له ستونزو ویره ونلري.

له زده کوونکي سره د نېک سلوک او رویې درلودونکی وي.

د قوي روحیې خاوند او زیار ویستونکی وي.

له زده کړې او پوهې سره مینه ولري.

د مطالعې او پوهې لپاره خپل خالي وخت غنیمت وګڼي.

د زده کوونکو د ښوونې او روزنې لپاره هڅه وکړي او له مطالعې او مذاکرې ګټه واخلي.

په لوست ورکولو او د ژوندانه په بهیر کې له نیکو اړیکو کار واخلي.
د هغو معلوماتو د پیدا کولو په لټه کې وي، چې پرې نه پوهیږي او د نورو له نصیحتونو ګټه واخلي.
د نوموړي لاسرسی باید په لوست پورې اړوند نه بلکې ټولیز وي.
له نورو سره صداقت، د خیانت په اړه بې فکره او د لوړ مقام او یا وسایلو د لاسته راوړلو لپاره رشوت ورنکړي.
د ژوند په ټولو چارو کې د زده کوونکو لپاره یوه ښه بېلګه وي.

د یو ښه زده کوونکي صفتونه

ښوونکي ته درناوی لري.
د پلار او مور فرمانبرداره وي.
له لوړې لیوالتیا سره ښوونکي ته غوږ نیسي.
په ټاکلي وخت خپل ټولګي ته حاضریږي.
په لومړي ګام کې خپل درسونه مطالعه کوي او بیا خپله کورنۍ دنده ترسره کوي.
په هر درسي ساعت کې د لوست مهم ټکي په خپله کتابچه کې رسوي.
د نورو درناوی کوي او د ښـــو ملګرو سره یوځای او له بدو ملګرو لیرې ګرځېدل خپله دنده بولي.
پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کوي.
درسي او ضروري توکو ته لاسرسی ولري، لکه: قلم او کتابچه او .....
د ژوند په ټولو چارو کې د اسراف نه کول خپله دنده بولي.

درسي پلان

پلان په لغت کې د تدبیر، سنجش او تصمیم نیونې په مانا دی، چې د یو کـــار د ســـرته رســـولو لپـــاره پـــه لاره اچـــول کیږي او په اصطلاح کې پلان له هغې ذهني نقشې څخه عبارت دی چې د یـــو کـــار او فعالیـــت ټـــولې اړونـــده چـــارې تنظیموي.

درسي پلان له هغې ذهني نقشې څخه عبارت دی، چې د ښـــوونکي لـــه لـــوري د ټـــولګي ټـــول اړونـــد فعالیتونـــه او د زده کوونکي اړوند فعالیتونه، چې د لوست په جریان کې راځي تنظیموي.

د درسي پلان مهمې دندې او ګټې

ــ د پیچلي او مغلق مطلب حل کېدل او د موادو لا ښه ترتیب او تنظیم،
ــ په تدریس کې له بېلابېلو لارو او تګلارو ګټه اخیستل،
ــ د ټولګي په فعالیتونو کې د زده کوونکو برخه کول،
ــ له ښوونکي سره د لوست په چارو کې مرسته کوي برخه ورکول، چې د درس لپاره مناسب توکي وټاکي،
ــ له ښوونکي سره مرسته کوي چې په ډاډه زړه لوست ورکړي او د زده کوونکو لپاره اغېزمن پریوځي،
ــ ښوونکی په تدریس کې موخې ته رسوي.

د ښوونکي د لارښوونو د محتویات کاري چوکاټ

۱ــ اصطلاحات

اصطلاحات د اصطلاح جمع د عربي ژبې یوه کلمه ده چې د صلح له ریښې اخیستل شوې او د صلحې او پخلاینې په مانا ده.

د اصطلاح نوم د فرهنګ او ډیکشنرۍ له مخې د ترمینالوژۍ (Terminology) لپاره کارول کیږي، اصطلاحات او حقایق د هر قوم، ملت، مذهب او بلاخره په ټولیزه توګه د هغو علومو څرنګوالی دی، چې د یوې مهمې او اساسي علمي حوزې، مهارتونو او د فکر او ذهنیت درلودلو په اساس یې وضع کړی وي.
د بیلګې په توګه په قرآن کریم د آیت، سوره، رکوع اصطلاحات او نور او یا لکه په دیني زده کړو کې د کلمې، لمونځ، زکات او د کعبې شریفې د حج اصطلاحات او نور.

۲– موخې

اهداف د هدف جمع ده په فرهنګ معین کې هدف داسې تعریف شوی دی: هر لوړ شی، لوړ ځړول شوی شی، نښه، تیر یا هر هغه شی، چې انسان یې رسېدو ته هڅه کوي او مقصد او هیله یې وي.
هدف یو درسي واحد دی چې پر اساس یې د ښوونې او روزنې د ټولیز نظام د مفرداتو موخې، د درسي مضمون موخې چې په ټولګې کې د درس ویلو، د مهارتونو د زده کولو او د ذهنیت په محتوا کې طرح کیږي.
د یو مضمون لپاره د کل او جزوي هدفونو ټاکل او د زده کوونکو په کړو وړو کې د یو درسي واحد په موخې د بدلون راوستلو لپاره او یا هم د زده کوونکو د ذهن د پراختیا لپاره په لاره اچول کیږي دا تغیرات همغه درسي پروګرامونه دي.
د موخه سرچینې او حدود له هغه طبیعت څخه عبارت دی چې زده کوونکي، ټولنه او استادان پکې راټول شوي او هغه وسایل چې په لاس کې مو دي اړتیاوو، نظر پوښتنو، څیړنې او مطالعې وروسته ټاکل کیږي.
د موخې او پروګرام ترمنځ درسي اړیکه او رابطه تردې مهمه ده، چې که موږ هدف ونلرو، نو کوم پروګرام یا برنامه هم نشو لرلای، په بل عبارت پروګرام جوړول (د درسي کتاب لپاره د ښوونیزو توکو برابرول او تهیه کول، د ښوونکي لارښــــود...) تر وخت پورې خپل علمي توب او منطقي والی ځانته ښیي چې ټاکلی هدف ولري.
په حقیقت کې د یو لوست محتوا، د لوست موخې دي چې زده کوونکي څومره پوهیږي؟ مهارتي هدفونه، چې زده کوونکي څرنګه عمل کولی شي؟ او ذهني هدفونه یا د وړاندې کولو د تګلارې هدفونه، چې زده کوونکي څنګه کولای شي د وګړو او اشخاصو په توګه پرمختګ وکړي او په ټولنیز ژوندانه کې فعاله ونډه واخلي، دا ټول هدفونه تر پوښښ لاندې راولي.

د درسي یا ښوونیزو توکو تعریف

درسي مواد له اشیاوو او څیزونو څخه عبارت دي چې د ښوونکو او زده کوونکو د موخو د لاسته راوړلو په لاره کې مرستندوی پریوځي او یا په بل عبارت هغه د لیدو او اوریدو وړ توکي دي چې ښوونکي د تدریس په وخت کې ترې ګټه اخلي.

۳ـ درسي کومکي توکي

درسي کومکي توکي له طبیعي او ساده توکو څخه عبارت دي چې په چاپیریال کې په اسانۍ پیداکیږي، لکه: د لوبیا دانې، نخود، میده تیږې او داسې نور. غیر محیطي توکي، لکه: چارت، فلش کارت، مودلونه (د ځمکې کوره، نقشه، تصویر) او داسې نور. د نوعیت او څرنګوالي له مخې درسي مرستندوي توکي په دوه ډوله ویشل کیږي: عمومي مواد، لکه: درسي کتاب، تخته، تباشیر، او داسې نور خصوصي مواد: لکه مودلونه، ګرافیکي توکي، سي ډي، فلم، پرجکتور، لابراتوارونه، تصویري او ساده کارتونه، مقوایي چارتونه، فلپ چارتونه، هندسي بکسونه، نقشه او داسې نور چې د ښوونکو او زده کوونکو له لوري د تدریس په چارو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي.
درسي مواد زده کوونکیله میخانیکې مرحلې، څخه (لکه طوطي چې لوست په یو ځل حافظې ته سپاري) د عینیت مرحلې او عیمقې پوهې ته رسوي، د ښوونکي لارښود په کتاب کې زموږ هدف له درسي موادو څخه عمومي مواد نه دي، لکه: کتاب، زده کوونکي، تخته او تباشیر بلکې هدف مو د هغو اغیزمنتوب دی او له ټولو هغو موادو څخه عبارت دي چې له هر ډول

سرچینو څخه، چې ښوونکی یې برابروي او یا له کومې فابریکې او نورو کومو ځایونو څخه لکه: د ښوونیزې ټکنالوژۍ دفتر لخوا چې ښوونځي ته سپارل کیږي.

۴ــ ښوونیز فعالیتونه

د فعالیتونو له راوړلو څخه زموږ موخه د لوست په تحکیم کې د زده کوونکو د ونډې اخیستل دي. لکه د رول په سرته رسولو کې، له مخې څخه په لیکلو، متن لوستلو، مشاهدې، د ارتباط په ټینګولو طبقه بندی کولو او نورو کې چې د زده کړې په وخت کې سرته رسیږي او یا له ټولګي د ښوونځي په ډګر، سیر علمي او نورو فرهنګي او دیني غونډو کې په مجموعي، یو کسیز او ډله ییز ډول سرته رسوي. په مجموعي، انفرادي او ډله ییز شکل په شخصي او ګروپي ډول د فعالیتونو لپاره په درسي پلان کې ډېر وخت په پام کې نیول شوی: چې د زده کوونکو په ذهنونو کې لوست په اغیزمن ډول ځای ونیسي او زده کوونکي ترې یو څه زده کړي، دا چې په ټولګي یا ښوونیز چاپیریال کې هر ډول ترسره شوی مهارت، خلق شوی ذهنیت په خپلو ورځنیو چارو کې تطبیق کړي او زده کوونکي د لوست په ارزښت پوهه او په ورځني ژوندانه کې ترې ګټه واخلي او هم یې په شخصي او ټولنیز اړخ کې مثبت بدلون راولي.

۵ــارزونه

د لوست له مهمو رکنونو څخه یو هم د لوست پای کې همیشنۍ ارزونه ده، په منظم او سیستماتیک ډول ارزونه موږ د موخو د سرته رسیدو په برخه کې باوري کوي چې آیا پورته ذکر شوي هدفونه ترسره شوي او که د ترسره کیدو په حال کې دي او تر کومې اندازې موږ ته ددې ډاډ راکوي، چې زموږ تدریس د موخو په لور ګامونه ایښي چې په شفاهي او تحریري ازموینو او د معیاري نومرو د جدول په اساس ترسره کیږي.

٦ ــ د لوست ارزښت

په ورځني ژوندانه کې د درس متن ویلو، د مهارتونو(د درس د څرنګوالي کوچني او واړه مهارتونه) څومره عملي او عیني جنبه لري یانې کارول کیږي، د زده کوونکو فردي پرمختګ او ټولیزې اړیکې ترکومه بریده په کومه کچه مخ ته تللي یوه ارزونه ترسره کیږي.

محترم ښوونکي کولای شي د هر درس نتیجه او پایله د لیدلو او په زده کوونکو کې د بدلونونو په راتلولو، لکه په رویه، کړو وړو، د یو زده کوونکو بل زده کوونکي سره اړیکه له مخې ارزوي او ځان ډاډه کوي.

۷ــ کورني دنده

زده کوونکي ډېر وخت په کور کې د کور له غړو سره تیروي، نو له دې امله د لوست موخو ته د رسیدو لپاره زده کوونکي ته کورني دنده سپارل کیږي چې په ساده او اسانه ډول یې حل کړي او زده کوونکي تشویق شي چې نوموړې کورنۍ دنده د ملګرو او د کورنۍ د غړو په مرسته ترسره کړي.

د تدریس اصول او تګلارې

دا یو مسلم حقیقت دی، چې انسانان هر ډول کارونه ترسره کوي، باید د کار د ترسره کولو په اصولو باندې وپوهیږي او له ترسره کولو یې مثبته نتیجه واخلي، اصول د اصل جمع ده او د اساس او بنسټ په مانا ده، په ښوونه او روزنه کې له هغه یو سلسله مقرراتو او تګلارو څخه عبارت دي، چې ښوونکي د یوې موضوع د تدریس پرمهال ترې کار اخلي او په پایله کې نوموړی ټاکلي هدف ته رسوي.

په هره اندازه، چې ښوونکی له ډېرو طریقو سره بلد وي، ځای او وخت ته په پام سره د زده کوونکو په اختیار کې د لوست محتوا او په زړه پورې مواد ورکوي او هیڅ کوم زده کوونکی د لوست په وخت کې غیر فعال نه وي او د ښوونکي تدریس ډیر په زړه پورې وي.

تدریس: له هغو فعالیتونو څخه عبارت دی، چې ښوونکی او زده کوونکی دواړه د تدریس موخې ته رسوي او تدریس دې اصولو ته د تدریس میتود یا طریقه هم وايي.

د تدریس میتود او طریقه

د یو کار د ترسره کولو لپاره د مراحلو ترسره کولو ته د هغه میتود وايي، یا د لوست هغې منظمې او باقاعده طریقې ته وايي چې ښوونکی یې له مخې نوموړی لوست وړاندې کوي یا ټولو فعالیتونو ته ویل کیږي، چې ښوونکی یې په کم وخت کې ترسره کوي او په پایله کې یې مطلب زده کوونکو ته روښانه کړي دېته متیود وايي.

د تدریس اصول بېلابېل ډولونه لري: لکه لکچر، خطابه، مشق او تمرین، سوال او ځواب، ښوودنه، د سیالۍ ترسره کول، ګروپي کار، علمي څېړنه، مناقشه او مذاکره، انفرادي تګلارې، مطالعه او داسې نور. موږ یې یوازې هغو ته اشاره کوو، چې پدې کتاب کې ترې استفاده شوې.

د ګروپي کار طریقه

۱- د یو ټولګي زده کوونکي په څو ګروپونو ویشل کیږي هر ګروپ په یوه موضوع چې د ښوونکي له خوا ورکول کیږي بحث کوي، په مشترک ډول پرې کار کوي او خپل نظریات او افکار سره تبادله کوي، ددې لپاره چې موضوع ښې ښه زده شي له یو بل پوښتنې کوي، بحث او مناقشه ترسره کیږي. په دې تګلاره کې ښوونکي د لارښود حیثیت لري. که کله په ګروپونو کې ستونزه راولاړه شي، پوښتنو ته یې ځواب وايي. له تجربو ثابته شوي چې د انفرادي زده کړې په پرتله ګروپي زده کړې ښې دي.

عمده او مهم ټکي چې ښوونکی یې د ګروپي کار په ترسره کولو سره په پام کې نیسي

۱ــ بهتره به وي که د ګروپ غړي ۳- ٦ کسان وي او په ګروپونو نومونه کېښودل شي.

۲ــ ګروپي کار او لارښوونه باید ډېر واضحه وي.

۳ــ د امکان په صورت کې د ګروپي کار لپاره زده کوونکي د دایرو په شکل برابریږي.

۴ــ د ګروپونو ترمنځ باید فاصله موجوده وي، چې ښوونکی په اسانۍ وکولای شي تګ راتګ وکړي.

۵ــ ښوونکی باید ټول زده کوونکي وڅاري او پوښتنو ته یې ځواب ووايي.

٦ــ په ګروپي کار کې زده کوونکو ته باید داسې موضوع ورکړل شي، چې د سرته رسولو قدرت او توان یې ولري.

۷ــ زده کوونکي باید په راتلونکي ګروپي کار کې بدل او را بدل شي.

۸ــ په ګروپي کار کې باید وخت وټاکل شي.

۹ــ د ګروپي کار په پای کې باید د هغو پایله اعلان شي.

۲ــ د نقش د سرته رسولو

زده کوونکي ونډه اخلي او د نوموړي ویل شوې لوست موضوع او هغه ځایونه چې د تمثیل وړ وي، باید د حقیقي صحنې په شکل تمثیل شي.

عمده او مهم ټکي چې د نقش له سرته رسولو سره په پام کې ونیول شي

۱ــ له دې تګلاره هغه وخت استفاده کیږي، چې خلک ورته په بده سترګه ونه ګوري.

۲هغه مواد او توکي چې د نقش د سرته رسولو په وخت کې ترې کار اخیستل کیږي باید مخکې له مخکې تیار شي.

۳ــ ښوونکی باید د زده کوونکو د نقش د سرته رسولو لپاره د تسهیل کوونکي او لارښود موقف ولري.

۴ــ ښوونکی باید د نقش د سرته رسولو په وخت کې د ټولګي کنترول په پام کې ونیسي.

۵_ د نقش په سرته رسولو کې باید زده کوونکو ته روښانه لارښونه وشي چې کوم زده کوونکي کوم نقش، کوم کارونه او څه وخت ترسره کوي.
٦_ د نقش په سرته رسولو کې هغه زده کوونکي باید وټاکل شي، چې د سرته رسولو توان یې ولري.
٧_ د نقش سرته رسول باید په داسې ځای او ټولګي کې ترسره شي، چې ټول زده کوونکي یې ووینې.

۳- د پوښتنو او ځوابونو د ترتیب طریقه

په دې طریقه کې موضوع په وړو وړو برخو ویشل کیږي او له هرې برخې یې پوښتنې برابریږي عمده او مهم ټکي، چې په دې طریقه کې په پام کې نیول کیږي په لاندې ډول دي.

۱_ ښوونکی باید داسې پوښتنې وکړي، چې زده کوونکي یې د پوښتنې په مفهوم پوه شي یا یې درک کړی شي.
۲_ یو زده کوونکی هغه وخت پوښتنه کوي، چې ښوونکی باید د نوموړي پوښتنه بل زده کوونکي ته راجع کوي، چې ځواب یې پیدا شي.
۳_ زده کوونکو ته ددې وخت ورکړل شي، چې له یو او بل څخه پوښتنې وکړي.
۴_ ښوونکی باید د پوښتنو او ځوابونو په وخت کې له موضوع بهر نشي.
۵_ د پوښتنو او ځوابونو په تګلاره کې باید ډیر زده کوونکي ونډه واخلي.
٦_ هغه زده کوونکي چې تل غواړي پوښتنې ته ځواب ووايي او د نورو زده کوونکو د ځواب ویلو چانس له منځه وړي، باید کنټرول شي.
٧_ وخت باید په پام کې ونیول شي.
٨_ هغه زده کوونکي، چې په پوښتنو او ځوابونو کې برخه نه اخلي هغوی دې په پوښتنو او ځوابونو کې شامل شي.
٩_ ښوونکی باید زده کوونکوته د ناسم ځواب په ویلو ګواښ ونه کړي.
١٠_ ښوونکی باید هغه زده کوونکی، چې سم ځواب یې ویلی، وهڅوي.

۴_ د مسابقې میتود

سیالي کول د تدریس اصولو څخه یو اصل دی، په دې تګلاره کې د زده کوونکو ترمنځ مثبته سیالي رامنځ ته کیږي او یـــو شمیر زده کوونکي هڅه کوي چې د بل ګروپ له زده کوونکو څخه سیالي وګټي، په دې طریقه کې زده کوونکي ډیر فعالـــل وي او د فعالیت مرکز بلل کیږي. پدې اصولو او طریقه کې زده کوونکي په دوو ګروپونو او ډیرو ګروپونو بانـــدې ویـــشل کیږي او په هر ګروپ کې په مساوي سویه زده کوونکي وي. په دې تګلاره کې په ابتدايي او ثانوي ټولګیو کې کار اخیستل کیږي.

هغه ټکي، چې د سیالۍ په طریقه کې باید په پام کې ونیول شي، په لاندې ډول دي:

۱_ د د سیالۍ لارښونه باید څرګنده وي.
۲_ د سیالۍ په وخت کې باید ټولګي کنترول شي.
۳_ د نومرو په ورکولو کې باید عدالت وشي.
۴_ د سیالۍ پوښتنې باید له اسانه ترسخته پورې ترتیب شي او له هر ګروپه په مساوي ډول پوښتنې وشي.
۵_ د سیالۍ په طریقه کې یو زده کوونکی له بل زده کوونکي پوښتنه کوي او که زده کوونکی پوښتنه ونشي کولای، ښوونکی باید پوښتنه وکړي.
٦_ په پای کې باید د سیالۍ پایله اعلان شي.

۵ــ د خبرو اترو او بحث تګلاره

په دې تګلاره کې ښوونکی فکري سوالونه برابروي او زده کوونکو ته د مناقشې وخت ورکوي. وروسته سم او صحیح ځوابونه ورڅخه ټاکي او هغه د تختې په مخ لیکي په همدې ډول مخ ته ځي څو د موضوع ټول عناصر د پوره والي خواته لاړ شي، په پای کې جمع بندي کیږي او د هغو افکارو ترمنځ ارتباط، چې زده کوونکي سره توافق ته رسیدلی د آیات او حدیث په استدلال او د فقهې په دلایلو سره، یا له نورو اقوالو او اعمالو څخه دې استفاده وشي څو ټول زده کوونکي پکې ونډه واخلي او د شریعت سرچینې او منابع له استدلال سره ثبوت شي.

۶ــ د مسالې د حل طریقه

په دې طریقه کې یو شکل او یا یوه پوښتنه مطرح کېږي چې ورځني ژوند پورې اړونده وي څو د زده کوونکو توجه ځانته راواړول شي او د دوی دیته ته پام شي چې د هرې ستونزمنې مسلې د حل لپاره پوښتنې وکړي.

په دې تګلاره کې د زده کوونکو د فکر کولو، سوچ کولو، تحقیق کولو، او د منابعو او سرچینو د لاښه استفاده کولو وړتیا پیاوړې کیږي، دا ځکه چې اسلامي احکام او اسلامي تصمیمونه د زده کوونکو له ورځنیز ژوندانه سره تړاو لري او د ژوند ټولو چارو او قضیو له حل او ستونزو سره اړیکه لري، ددې تګلارې په ترسره کولو سره زده کوونکي دا زده کوي چې څنګه په ټولګي کې فعاله ونډه واخلي او له زده کوونکو سره مرسته کوي چې د شریعت حکمت ښه او په تدبیر سره درک کړي.

۷ــ د تحلیل او تجزیې تګلاره

په دې تګلاره کې د لوست محدودول چې د مفهومونو درلودونکی وي مثالونو ته په کتو سره وړاندې کیږي او د مثالونو په ورکولو سره ددې کار په بیلابیلو تګلارو او پریکړو په کولو سره ترسره کیږي.

ــ د مثبتو او منفي مثالونو په ورکولو سره ځانګړی تعریف او خاصیتونو سره فشرده خاصیتونه.

ــ د مفهوم، مثبت او منفي مثالونه

ــ مثبت او منفی مثالونه او د مفهوم تعریف

د داسې تګلارو او کړنلارو په کار اچول چې له اسلامي تعلیم او تربیې سره مرسته کوي. د زده کوونکو د ذهنونو د لاپراختیا په موخه له دې ډول تګلارې کار اخیستل کیږي دا د دې لپاره چې ښه مفهوم ترسره شي او د اسلام په حقیقي مانا پوهه ترلاسه کړي.

۸ــ د قیصې او حکایت کولو تګلاره

ښوونکی د تاریخ او واقعاتو د تدریس پرمهال له دې تګلارې کار اخلي، په داسې حال کې چې د قیصې اساسات مراعات کړل شي او هغه قیصې چې د تدریس په برخه کې ترې کار اخیستل کیږي، ډېرې په کار راځي د لوست په واضح کولو کولای شي له دې کار څخه ګټه واخلي، دا تګلاره معمولا د ماشومانو او لویانو لپاره کارول کیږي، همدارنګه د سیرت نبي د تدریس پرمهال او یایې د اخلاقو د تدریس پرمهال ترې کار اخیستل کیږي.

د قصې کولو د تګلارې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

ــ لنډې وي او د درسي ساعت له ختمېدو مخکې خلاصیږي.

ــ په دې تګلاره کې د زده کوونکو زده کړه په پام کې نیول کیږي.

ــ د زده کوونکو د علاقې او دلچسپی سبب کیږي.

۹_ د نمایش تګلاره

په دې تګلاره کې ښوونکی ځینې معلومات لیکي، وروسته هر زده کوونکي ته نقش ورکوي چې په ذهن کې یې کېښیني او د تل لپاره یې په ذهن کې پاتې شي.

ددې تګلارې په پلي کولو کولای شي د اوریدیزو او لیدیزو ښودنو څخه استفاده وکړ، لکه، رادیو، ویدیو او داسې نور، اړینه ده چې په تمثیل کې د پیغمبرانو له تمثیل څخه ډډه وکړو ځو ددوی شخصیتونو ته کومه ستونزه ونه رسیږي.

۱۰_ د لکچر طریقه او میتود

ښـــوونکی هغه وخت دا طریقه په کار اچوي چې ښوونکی مخکې زده کوونکو ته لوست مفاهیم وړاندې کړي او خپل ځان ډاډه کړي چې د زده کوونکو ذهنونو ته تر کومې اندازې معلومات او مفاهیم انتقالولی شي د یادولو وړده چې ښوونکی موضوع ډېره اوده نکړي او له ډېرو او بې ځایه خبرو ډډه وشي، زده کوونکو پاملرنه راجلب کړل شي چې زده کوونکي وکولای شي په لوست کې پوره ونډه واخلي او د ښـــو خبرو کولو اسلوب مرعات شي او خطابه پکې تحقیق ومومي.

۱۱_د مشق او تمرین طریقه او تګلاره (تکرار)

په دې طریقه کې د قرآن د حدیثو او هغو متنونو په تدریس کې چې له زده کوونکو یې د سم او دقیق ویلو غوښتنه شوې وي کار اخیستل کیږي، زده کوونکو د تجوید له احکامو سره سم د کلمو او متنونو جرایت اوروي.

په لومړنیو ټولګیو کې د قرآن تلاوت په ورزده کولو او په ځانګړي توګه د سورتونو د حفظ او احادیثو په یادولو کې ښوونکي اړ دی چې له دې طریقې کار واخلي.

په کوم ډول چې ښوونکي د یو آیت او یا د هغو د یو جز تلاوت کوي یا یې لولي او زده کوونکي یې په ډلییزه توګه ورپسې تکراروي، لکه څنګه چې سختې کلمې او هغه عبارتونه چې لانورې توضیح او تشریح ته اړتیا لري جدا جدا تکراروي.

۱۲- عملي تمرین

عملي تمرین د عملي موضوعاتو او مهارتونو د پر مخ بیولو په پروسه کې اړین دی. زده کوونکو ته په عمل کې وروښودل شي، لکه: لمونځ، اودس، تیمم او دکامل تلاوت مهارتونه، د ځبړنې مهارتونه او د رسم او نقشو په کارول او ویل، دا هغه لارې او تګلارې دي چې د تطبیقولو وړ دي، دا که په ټولګي کې د ننه یا بهر وي. باید ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه وکړي. په هغه صورت کې چې زده کوونکي وکولای شي درک یې کړي.

۱۳_ د پلټنې او کشف تګلاره

په دې تګلاره کې زده کوونکی د معلوماتو د راټولولو لپاره نورې سرچینې لټوي او مؤظف کیږي چې نور معلومات پیدا کړي، دوی د آیتونو عمق ته ځي او په اړه یې فکر کوي. دوې میتود پواسط د تفسیر له کتابونو او نورو اړونده ځایونو څخه چې په تخصص پورې یې اړوند وي او له نوو نشراتو او ورځپاڼو څخه استفاده کوي.

په دې تګلاره کې د زده کوونکو نقش بحث او اکتشاف او د معلوماتو راټولول دي، له هغه وروسته د معلوماتو منظم کول او وړاندې کول او په اړه یې له نورو زده کوونکو سره مناقشه کول دي، لنډه دا چې د کوم څه په اړه چې مناقشه کیږي په تخته لیکل کیږي.

_ د لوست سریزه د زده کوونکو د ذهنونو د برابرولو لپاره یوه بله تګلاره ده، لکه د شکلو په ښوولو سره، د سوالونو په کولو سره، د جالبې قیصې په ویلو سره، د تصویر په ښودلو سره او هم د تیر لوست په تکرارولو او د داسې نورو شیانو په ویلو سره چې د مقدمې او وسایلو په وړاندې کولو سره توضیح ورکړل شوې وي.

_ د اسلامې عقیدې سرچینه او منبع ټول هغه موضوعات دي، چې په اسلامي زده کړو پورې اړوند دي.

ـ زده کوونکي د لوست په جريان کې فعالې ونډې اخيستلو ته تشويق کيږي، تر کومه حده چې امکان ولري، چې په دوی کې په خپله زده کړه پروسه قوي شي.
ـ د تدريس له بېلابېلو ډولونو او طريقو څخه په استفاده او د هغې په کارولو سره څو په پام کې موخې ترسره شي او د ټولګي ټولو زده کوونکو تر منځ شخصي او فردي توپيرونه په پام کې ونيول شي او عملي تمرين هم بدليدونکی او رابدلېدونکی شي، نو همدې اساس د تدريس طريقې، لارې او تګلارې، د ويلو طريقه، د مفاهيمو د تحليل طريقه، د تمثيل او پلټلو طريقه، د په بېلابېلو عملي تمرينونو په کولو څخه په لوست کې کيفيت رامنځ ته کوي او د زده کوونکو ډېره ونډه رامنځ ته کوي او د زده کړې له بهيره خوند اخلي. په يوه تدريس کې د يو اوږد مهاله تدريس له لارو چارو بايد کار وانه خيستل شي.
ـ ښوونکي بايد ډېره هڅه وکړي چې د قرآن کريم د شواهدو له مخې او د زده کوونکو د علمي کچې او عقلي توانايې ته په پام سره وټاکي:
په پای کې د ټولو ښوونکو پام څو لاندې اصولو ته را اړوو چې په رعايت کولو سره يې د زده کوونکو په رويه او ذهنيت کې بدلون راولي.

١. ښوونکي د دې کتاب په لارښوونو مکلف دي او همدارنګه هر هغه څه، چې په تدريس کې ګټور پريوځي کولای شي ترې استفاده وکړي.
٢. د ښوونکو له دندو او مکلفيتونو څخه دا هم ده چې لارښود کتاب تر تدريس مخکې مطالعه کړي او د لوست ورکولو لپاره پوره چمتوالی ونيسي.
٣. اړينې زده کړې په ژوره توګه مطالعه کړئ او مفهوم او محتويات يې د امکان په صورت کې په ساده ژبه شاګردانو ته وښيئ.
٤. ښوونکی دې په ټولګي کې له سلام له اچولو وروسته د لوست په ورکولو پيل وکړي. د اوداسه په لرلو سره دې د الله په نوم د ثواب د ترلاسه کولو او د هېواد د پرمختګ په موخه دې د هېواد بچيانو ته تدريس مخ ته بوځي.
٥. له زياتو او بې موردو خبرو څخه دې ډډه وکړئ، علمي او شرعي حقيقتونه له خپلو زده کوونکو مه پټوئ!
٦. که په کتاب کې د ښوونکي لارښود کتاب کې له کومې غلطۍ سره مخ شوئ نو په سمولو کې يې هڅه وکړئ. په پای کې د لوی خدای ج له در باره د هېواد ټولو زده کوونکو او ښوونکو، ته لابرياوې او کاميابي غواړو.

با احترام

د لسم ټولګي د ښوونکي لارښود کتاب تاليف کوونکی

مؤلف عنايت الله عادل د ديني علومو د ډيپارټمنټ علمي او مسلکي غړی

د عقايدو برخه

لومړی لوست

سرلیک: د عقایدو علم

پانه: ۱ – ۳

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې:

زده کوونکي باید

۱ – د عقایدو د علم په تعریف، موضوع او غرض پوه شي.

۲ – د عقایدو د علم په اړه بحث او خبرې وکړی شي.

۳ – د دې لوست شرعي حکم په دقیق ډول و پیژني او نورو ته یې ورسولی شي.

۴ – د عقایدو د علم حکم وپیژني.

لازمي پوهه

په درسي کتاب کې د عقاید د تعریف، موضوع، غرض، ګټې، ارزښت او غوره والي او هم یې د حکم په اړه مفصل معلومات راغلي او مور دلته د هغو اختلافاتو او د هغو د سبب په اړه لنډې خبرې کوو چې په اعتقادي احکامو کې رامنځ ته شوي دي. البته په عقایدو کې تدریجی بدلون د علم، فنونو او د انساني افکارو د پرمختګ پایله ګڼل کېږي چې په اسلام کې دا قاعده هم شته.

د عقایدو د علم د پیدایښت تاریخ

څرنګه چې قرآن کریم د اسلامي عقیدې بنسټ او د نبيعليه السلام سنت د هغې شارح ګڼل کېږي، د پیغمبرعليه السلام په زمانه کې چې د تشریع او د اسلامي عقیدې د بیان زمانه وه، محمدﷺ دغه علم خپلو مخالفینو او اصحابو کرامو ته واضح کړی دی. نبيعليه السلام به د خپلو اصحابو عقیدوي پوښتنې ځوابولې. د راشدو خلفاوو او لویو صحابه کرامو په وخت کې هم دغه علم په همدې ډول پر مخ لاړ، تردې چې د اسلام دین پراخ شو او داسې خلک او قبایل په اسلام مشرف شول، چې عرب نه وو او د اسلامي د دین لمن د عربو له جزیرې څخه د باندې هم ورسیدله. د علم زده کړه او نور تمدنونه د دې لامل شول، چې په ټولو دیني علومو کې هم بحث او استدلال پراختیا ومومي چې په دې لړ کې د عقایدو علم هم بې برخې پاتې نه شو.

د ابو جعفر منصور او بیا د هارون الرشید په وخت کې د یونان فلسفه او منطق ترجمه او په اسلامي ټولنه کې خپاره شول او د مامون الرشید په وخت کې دغه علم لا پراخ او اوج ته ورسېد، ځکه چې مامون په خپله عربي ژبې او د دې علومو ژباړې او ترجمې ته ډېره توجه وکړه.

مګر علم الکلام (عقاید) هغه مهال د نورو علومو په څېر خپل اساسات، بحثونه او بېلابېل عقلي او نقلي بحثونه خپل کړل او بنسټ یې کېښودل شو چې په دویمه پېړۍ کې د معتزله مذهب څرګند شو.

اقسام او شرعي احکام

د اسلام د سپېڅلي دین احکام، ارشادات، امر او نهیې چې د مسلمانو د ژوند مادي او معنوي، دینوي او اخروي، وګړنیز او ټولنیز ژوند تنظیم او تشریح کوي، په اساسي ډول د قرآنکریم د آیاتونو او د نبوي احادیثو په واسطه بیان شوي دي او وروسته د وخت اړتیا ته په کتو سره یو شمېر امامانو او مجتهدینو هم د قرآني آیاتونو او نبوي احادیثو په رڼا کې په دې اړه څېړنې کړې دي، دغه احکام او قوانین، چې د مسلمانانو دنیوي او اخروي ژوند دواړه تنظیموي، یو شمېر یې د عملي موضوعاتو څرګندونه کوي او یو شمېر نور یې د نظري (عقیدوي) موضوعاتو تشریح ده، له دې امله شرعي احکام په دوو برخو وېشل کېږي:

۱ــ عملي احکام
هغه احکام دي، چې د اعمالو د ترسره کولو په کیفیت پورې اړه لري، لکه: عبادتونه، شخصي احوال او راکړه ورکړه چې په شخصي او ټولنیز ژوند کې د مسلمانانو د کړنو ښکارندوی دي، دغه احکامو ته د دین فروعات هم وايي، لکه چې فرع د اصل تابع ده او د اصل د ونې یوه څانګه ده، همداسې د مسلمان کړنې هم د هغه پر عقیده بانــدې ولاړې دي او د اعمــالو صحت او سموالی یې د عقیدې تر سموالي وروسته ثابتېږي.
۲ــ عقیدېي احکام
دغه احکام په عقیده پورې اړوند مسایل، لکه: د الله یوالی او صفتونه، د حضرت محمــدﷺ رســالت، پیغمبــران، اســماني کتابونه، د اخرت ورځ او نور مسایل توضیح کوي چې دغو احکامو ته د دین اصول هم وايي، د اسلام په سپېڅلي دین کــې عقیدې او ایمان ته ځانګړې ارزښت ورکړل شوی او ان دا چې هغه یې د اعمالو د سموالي او نا سموالي معیار ټاکلي دي او الله جل جلاله هم د عقیدې پر بنسټ د نیکو اعمالو په بدل کې اجر او ثواب او د بدو اعمالو په بدل کې ســزا ورکــوي، د دغــو احکامو او اصولو له ټولګې (مجموعې) څخه اسلامي عقاید را منځته کېږي.
د عقاید د علم نومونه
د اسلام په قاموس او فرهنګ کې عقاید په بېلابېلو نومونو یاد شوي دي چې د هغوی مفهوم یو شی او محتوا یې هم توپیر نــه لري چې دغه نومونه عبارت دي له:
۱– د توحید او یوالي علم ۲– علم کلام ۳– د دین اصول
د تدریس مېتود سوال او ځواب، تشریحي خبرې او مباحثه.
مرستندیه درسي توکي کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	- ښوونکی دې له سلام اچولو او روغبړ وروسته له زده کوونکو سره پیژندګلوي وکړي او د اسلامي ښــوونې او روزنې د کتاب (لسم ټولګي) په اړه دې په لنډ ډول خبرې وکړي او د کتاب درې برخې دې هغــوی تــه ورو پېژني. – ښوونکی دې د عقاید مضمون او د هغه د اهمیت په اړه زده کوونکو ته لازم معلومات ورکړي.
۲۵ دقیقې	ښوونکی دې پر زده کوونکو باندې درس په ټیټ غږ مطالعه کړي. وروسته دې یو زده کــوونکی هغــه درس ولولي او نور دې هغه ولیکي: - علمي احکام، – اعتقادي احکام، – دعقاید د علم موضوع، – د عقاید د علم غرض، – د عقاید د علم ارزښت او د هغه برتري، – د عقاید د علم حکم، ښوونکی دې له جانبي سرلیکونو څخه په ګټې اخستنې سره د زده کوونکو لپاره درس تشریح کړي او د درس په مهمو ټکو باندې دې ډېر تمرکز وکړي: عملي احکام هغه احکام دي، چې عملي جنبه لري، لکه: لمونځ، روژه، حج او زکات. اعتقادي احکــام هغــه احکام دي چې په عقیده او باور لرلو پورې اړه لري، لکه: د خدای جل جلاله، ملائیکو، کتابونو، رسولانو او دمعــاد

۱۰ دقیقې ۵ دقیقې	پر شتوالي باور. د عقاید علم د نورو علومو په پرتله ارزښتمن دی، ځکه چې پر خدایﷻ باور او ایمان په توحید پورې اړه لري. د عقاید علم زده کړه په اجمالي ډول پر هر مسلمان نر او ښځه باندې فرض عین دی. وروسته ښوونکي له ځو زده کوونکو څخه غواړي، چې هر یو یو سرلیک لوست په خپله وار سره خپلو ټولګیوال ته تشریح کړي. **لنډیز** دغه لوست په لاندې ټکو کې لنډولی شو: - د عقاید په علم کې عملي احکام له شرعي اعمالو او احکامو څخه عبارت دي. - اعتقادي احکام له هغو احکامو څخه دي عبارت چې په عقیده پورې اړه لري. - عقیده ګنډه کولو ته وايي. کله چې انسان پر یو شي باور کوي، د هغه د حقانیت په زړه پورې ګنډه کوي. - د اللهﷻ پر وجود، توحید او د پیغمبرانو په رسالت، ملائیکو، اسماني کتابونو او آخرت ایمان او باور د عقاید د علم موضوع ده. - د عقاید د علم عرض په دنیا او آخرت کې د انسان نیک بختي او راستکاري ده. - اسلامي عقیده په نورو نومونو، لکه: علم توحید، اصول دین، فقه اکبر او ایمان یادېږي. - د عقاید علم د نورو ټولو علومو په نسبت ځانګړی اهمیت لري، ځکه چې دا د اللهﷻ پر وجود او توحید پورې مستقیمه اړیکه لري. - د عقاید علم په اجمالي ډول فرض عین او په تفصیلي ډول فرض کفايي دی. **ارزونه** ښوونکی دې د لوست د زده کړې په اړه د اطمینان په موخه له زده کوونکو لاندې پوښتنې وکړي. - څوک عقیده تعریف کولای شي؟ - څوک د عقاید د علم غرض تشریح کولای شي ؟ - څوک د عقاید د علم ارزښت او اهمیت پر دوه جملو کې بیانولاي شي؟ - څوک د عقاید د علم حکم ویلای شي؟ **کورنۍ دنده** ښوونکی دې زده کوونکو ته د عقاید د علم په اړه یوه مقاله چې شپږ کرښې وي کورنۍ دنده ورکړي.

دویم لوست:

سرلیک: د الله تعالی پر وجود ایمان

پانه: ۴-۶

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د الله تعالی د وجود دلایل زده کړي.
- د الله تعالی د وجود په اړه عقلي دلایل و وایي.
- د الله تعالی پر وجود باندې ایمان ولري او په دقیق ډول درک کړي.

لازمي پوهه

د الله ﷻ پر وجود نقلي دلایل:

الف: قرآنکریم:

په قرآنکریم کې ډېر آیتونه شته چې د الله ﷻ وجود ثابتوي او خلکو ته پر هغه باندې د ایمان لر لو امر کوي لکه چې وایي «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤)

ژباړه: ووایه الله یو دی، بې نیازه دی، نه د چا نه زیږیدلی او نه چا زیږولی دی او هېڅ څوک د هغه سیال نه دی.

«إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي» [1]

ژباړه: حقیقت دا دی چې زه الله یم او هېڅ معبودې برحق نه شته زما عبادت وکړئ او زما د ذکر لپاره پر لمونځ ودریږئ.

«فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ» [2]

ژباړه نو وپوهېږه چې له الله پرته بل د عبادت وړ څوک نه شته، له همدې امله له الله نه د خپلو او د خپلو نارینه وو او ښځینه وو د ګناهونو لپاره د بښنې او ایمان غوښتنه وکړه، همدا الله دی چې ستاسې هر یوه له فرجام او مال څخه خبر دی.

«وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا» ([3])

ژباړه: او د الله عبادت وکړئ او له هغه سره هېڅ شی شریک مه نیسئ، له مور او پلار سره نیکي وکړئ، له خپلوانو، یتیمانو، مستمندانو، له خپلو ګاونډیانو او د نورو له ګاونډیانو، په لار کې پاتې کسانو او خپلو غلامانو سره نیکي وکړئ، ځکه الله کبرجن انسانان نه خوښوي.

ب: د پیغمبر ﷺ احادیث

حضرت محمد ﷺ چې د الله ﷻ ریښتینی استازی و، د رسالت تر ټولو مهمه موضوع یې له شرک او ګمراهی نه د انسانانو نجات او الله ﷻ عبادت او یوالي ته د خلکو را بلل وو، ده هم د الله ﷻ د یوالي او وحدانیت په اړه ډېر ارشادات کړي دي چې د بېلګې په توګه به یې د ځینو یادونه وکړو: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بُنِيَ الإِسْلامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامِ الصَّلاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ. [4]

---

[1] طه:۱۴

[2] محمد ۱۹

[3] النساء ۳۶

[4] – المفهم لما اشكل من تلخیص کتاب مسلم جزء ۱ ص ۸۹

ژباړه: اسلام پر پنځو بنسټونو ولاړدی، چې د الله ﷻ پر یوولي شهادت دی(له الله ﷻ پرته بل څوک د عبادت وړ نـــه دي او محمد ﷺ د هغه استازی دی)، د لمانځه ترسره کول، د زکات ورکړه، حج او د روژې نیول دي.

او په بل ځای کې فرمايي: {بايعوني على أن لا تشركوا بالله شيئاً، ولا تسرقوا، ولا تزنوا، ولا تقتلوا أولادكم، ولا تأتوا ببـــهتان تفترونه بين أيديكم وأرجلكم، ولا تعصوا في معروف}. ([1])

ژباړه: له ما سره بیعت وکړئ، ځکه چې له الله ﷻ سره څوک شریک و نه نیسئ، غلا ونه کړی او اولادونه مو ونـــه وژنـــی، هغه تهمت چې په خپلو لاسونو او پښو يې ترسره کوی ونه کړی، له امر باالمعرف نه سرغړونه ونه کړئ.

عقلي دلیلونه

د انسان د بدن هر غړی ځانګړې دنده لري، د عقل دنده فکر دی، کله چې فکر له کاره ولوېږي او خپله دنده تـــر ســـره نـــه کـــړي د انسان له ژوند نه تازه ګي او سمسورتیا کډه باروي او ټولنه له مرګوني چوپتیا سره مخ کېږي. په داسې حال کې چې اســـلام لـــه عقـــل نه غواړي، چې د ژوند له غفلت نه ځان بچ کړي او خپله اصلي دنده چې تدبیر او فکر کول دي، ترسره کـــړي او دې تـــه اصـــلي او واقعي عبادت وايي. الله ﷻ فرمايي: «قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ» ([2])

ورته و وایه چې وګوري، په ځمکو او اسمانونو کې څه شی دي، مګر ټولې نښې او نښانې او هغه کسانو ته چې ایمـــان نـــه راوړي ګټه نه رسوي.

د عقل عاطل او باطل کول د حیواناتو درجې ته د انسان د سقوط سبب کېږي له همدې امله ده چې پخوانیو کسانو د خپـــل عقلي فعالیت په پراخوالي سره حقايقو ته رسېدل، الله ﷻ فرمايي: «وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ لَهُمْ قُلُـــوبٌ لَـــا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ» ([3])

په حقیقت کې مو ډېرې پیریان او انسانان د دوزخ لپاره پیدا کړي، ځکه دوی داسې زړونه لري چې په هغه حقایق نـــه پیـــدا کوي او داسې سترګې لري چې په هغو سره لیدل نه شي کولای او داسې غوږونه لري چې په هغو سره اورېـــدل نـــه شـــي کولای، دوی د حیواناتو په څېر دي، بلکې له هغو څخه یې زیاته لاره ورکه کړې ده. همداسې دي هغوی غافلین دي.))

له عقل نه کار نه اخيستل د انسان مرتبه له انسانیت نه حیوانیت ته راټیټه وي او د هغه برخلیـــک تـــه د دوزخ پـــه لـــوري لارښوونه کوي.

د تدریس مېتود: پوښتنه او ځواب تشریحي– ډله ییز

مرستندیه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښوونکی دې لومړني موضوعات وروسته تېر لوست په څو پوښتنو سره وارزوي د بېلګې په توګه: – څوک ویلای شي، چې له اعتقادي احکامو څخه موخه څه ده؟ – د عقاید علم څوک تعریف ولي شي؟ وروسته محترم ښوونکی د نوي لوست (د الله تعالی پر وجود ایمان) سرلیک د تختې پرمخ لیکي. ښوونکی د لوست متن په څو زده کوونکو باندې لولي او د قرآن کریم د آیت نص په دقت او ښه آواز سره

[1] المتوارى على ابواب البخارى ج ١ ص ١٦١

[2] – یونس ١٠١

[3] – الاعراف ١٧٩

۲۵دقیقې	وايي، وروسته زده کوونکو ته وخت ورکوي، چې په خفيه ډول لوست مطالعه کړي او که چيرته کومه پوښتنه ورسره پيدا کيږي هغه له ځان سره ليکي او خپله د زده کوونکو د مطالعې پر وخت هغوی ته متوجه وي. وروسته محترم ښوونکي (وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ﴿١٦٣﴾ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾) آيت کريم زده کوونکو ته تشرح کوي او له هغوی غواړي چې په اړه يې فکر وکړي. ښوونکی له يو زده کوونکي غواړي، چې له درسي کتاب څخه لاندې جانبي سرليکونه پر تخته وليکي. - د الله تعالي د وجود نقلي دليل، - له پورته آيت څخه د استدلال صورت، - د الله تعالی د وجود نقلي دلايل، د الله تعالی ذات قديم دی - د الله تعالی پر وجود د ايمان لرلو حکم ښوونکی له جانبي سرليکونو څخه په ګټې اخستنې سره لوست تشريح کوي او وروسته له څو زده کوونکو څخه غواړي، چې يو يو څنګيز سرليک نورو ته تشريح کړي. ښوونکی زده کوونکو ته هدايت کوي ترڅو هر کس د خپل څنګ ملګری سره د نقلي او عقلي دلايلو په اړه بحث وکړي او خپله د دغه فعاليت په جريان کې د ټولګي کنټرول او د زده کوونکو بحث او نظرياتو ته متوجه وي.
۱۰دقیقې	**لنډيز:** دغه لوست په لاندې ټکو کې خلاصه کيږي: - قرآن کريم د الله تعالی د وجود له نقلي دلايلو څخه ډک دی د بېلګې په ډول د بقرې سورت ۱۶۳ آيت. - الله تعالی د ټولو مخلوقاتو مالک او خالق دی او هر مخلوق د خپل پروردګار د امر مأمور دی، لکه څرنګه چې د لوست مبارک آيت پر موضوع صراحت لري. - د الله تعالی پر وجود عقلي دلايل بې شمېره دي او ترټولو غوره دليل يې همغه د امام صاحب دی چې دهري ته يې ويليو: څنګه کېدای شي چې يو نظام په خپله د يو تصادف له مخې پيدا شي، کله چې هغه امکان ونه لري يوه کښتۍ په خپله جوړه او له کښتيوان پرته څخه په خپل مسير حرکت وکړي. - عاقل انسان کله چې په دقت سره د خدای هر مخلوق ته فکر وکړي بې له ځنډه شايد و وايي، چې دا ټول خالق لري او په خپله نه دي خلق شوي.
۵دقیقې	**ارزونه:** ښوونکی دې لوست د زده کړې لپاره د درسي کتاب د پوښتنو له لارې زده کوونکي ارزيابي کړي.
	کورنۍ دنده: ښوونکی بايد زده کوونکي په هغه کورنۍ دنده مکلف کړي، چې په درسي کتاب کې راغلې ده.

دریم لوست:

سرلیک: د الله تعالی یوالی او وحدانیت

پانه: ۷

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د توحید او یوالي تعریف او د توحید پرډولونو وپوهیږي.
- د ربوبیت توحید په دلایلو سره ثبات کړي.
- د توحید د ډولو زده کول او نورو ته یې د رسولو وړتیا ولري.

لازمي پوهه:

خدای واحد دی، د واحد کلمه چې اسم فاعل دی له وحدانیت څخه اخیستل شوې، چې د یوالي په معنا ده یعنې غیرې متعدد دی. نو واحد اصل دی چې متعدات په هغې سره پای ته نه رسېږي یعني هغه واحد او یګانه ذات دی چې په صفاتو او افعالو کې شریک او سیال نه لري. د الله ﷻ د یوالي د ثبوت لپاره ډېر زیات سمعي، بصري، عقلي او نقلي دلایل موجود دي. موږ دلته د هغو تکویني دلیل ته اشاره کوو، چې په هغو کې د الله ﷻ واحدانیت او یوالی عقلا او نقلا پیدا کولای شو.
الله ﷻ د انبیا سورې په ۲۲ آیت کې فرمایي: (لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ)

ژباړه:

که په ځمکو او اسمانونو کې له الله پرته بل معبود وای، بېشکه چې د ځمکې نظم به خراب شوی و، الله د عرش مالک دی او له هغو صفتونو پاک دی چې دوی یې ورته منسوبوي.

په یو بل آیت کې فرمایي: وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذًا لَذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ.[1]

پورته آیاتونه په څرګند ډول نقلي دلایل دي، ولې په صراحت د عقلي دلایلو په توګه راغلي دي، په دې معنا چې که چېرې د ځمکو او اسمانونو چارې د یوه قدرت پر ځای د دوو یا څو قدرتونو په لاس کې وي دا کار به د دې سبب شوی و چې د ځمکې او اسمانونو نظم د سترګو د رپ په اندازه هم پر خپل حال پاتې نه شي.

عقلا هم ثابته ده، چې دوه پادشاهان په یوه سیمه کې نه سره ځایېږي.

له دویم او دریم آیت څخه هم په څرګند ډول ښکاري، چې که چېرې له الله پرته د واک څښتن او خپلواک بل ذات موجود او له الله سره شریک وي، له شک پرته، چې په دې صورت کې به یوه د بل د ځپلو هڅه کړې وه او په دې سره به اوسنی مستحکم نظام ان د څو ورځو لپاره هم نه و پاتې شوی.

او که په رامنځته کولو او نه رامنځته کولو کې یې ترمنځ اختلاف رامنځته شوی وای، په دې صورت کې به د احمد تحقق او موجودیت ناشونی شوی و او دا به لکه د نورو ممکن اتفاقونو په څېر دواړه هم په رامنځته کولو او نه رامنځته کولو کې عاجز بلل شوي وو. له دې پرته دا دومره ډېر کائنات باید په یوه واحد ختم شي، ځکه اصل د (یوه) په محدوداتو کې دی، نه په متعدد کې لدې امله هر مجموعه له یوه نه پیلېږي.

[1] – بنی اسرائیل آیه ۴۳.

د تدریس مېتود:پوښتنه او ځواب- مباحثه- تشریحي بحث

مرستندیه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵ دقیقې	- ښوونکی دې مقدماتي فعالیت وروسته تېر لوست په څو پوښتنو سره ارزوي: د مثال په ډول: - څوک د الله تعالی د وجود یو نقلي دلیل بیانولای شي؟ - څوک کولای شي د الله تعالي د وجود یو عقلي دلیل بیانولای شي؟ - وروسته محترم ښوونکي د نوي درس سرلیک د یو زده کوونکي لخوا په تخته لیکي او له زده کوونکو څخه غواړي چې د دغه سرلیک پر مفهوم څوک پوهېږي وروسته له ځوابونو د الله تعالي د وحدانیت په اړه لنډې خبرې کوي.
۲۵ دقیقې	محترم ښوونکي زده کوونکو ته څو دقیقې وخت ورکړي ترڅو درس په خفیه ډول مطالعه کړي او که د مطالعې په جریان کې کومه پوښتنه پیدا کیږي هغې ته ځواب وایي. ښوونکی له دوه زده کوونکو څخه غواړي، چې یو یې له لاندې جانبي سرلیکونو څخه ولولي او بل یې هغه د تختې پر څنډه ولیکي. - د توحید تعریف - د توحید شرح - د توحید اقسام - د ربوبیت توحید - د ربوبیت د توحید د اثبات دلیل محترم ښوونکی جانبي له جانبي سرلیکونو څخه په استفادې سره د زده کوونکو لپاره درس تشریح کوي او د هغه په اساسي ټکو باندې ډېر تمرکز کوي. وروسته ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي ترڅو هر یو په خپل نوبت سره یو درس تشریح کړي. ښوونکی د قرآني درس نصوص په خپله په دقت او مناسب آوازه سره لولي او ترجمه کوي او نور پاتې متون د څو زده کوونکو لخوا چې لږ علاقه لري وایي. - ښوونکی ټولګی په دوو ډلو باندې وېشي او له هغوی غواړي چې د یوې ډلې غړي له بل ګروپ څخه د ربوبیت د توحید په اړه پوښتنې کوي او خپله د اشتباه ځوابونه د اصلاح په موخه له ځان سره یادښت کوي.
۱۰ دقیقې	**لنډیز:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي: - الله تعالی په خپل ذات او صفات کې هېڅ شریک نه لري او بې نیازه دی او ټول مخلوق هغه ته محتاج دی. - د توحید کلمه مصدر دی چې مانا یې یو دی. - د الله تعالی توحید پر درې ډوله دی: د ربوبیت توحید، د الوهیت توحید او د اسمآء او صفاتو توحید. - د ربوبیت د توحید څخه موخه پردې عقیده لرل دي، چې یوازې الله رب، مالک، رزاق، مدبر، د خیر او شر رسوونکی او د ټولو اشیاؤ متصرف دی. - د الله تعالی د ربوبیت د توحید د اثبات دلایل د قرآن کریم په متعددو آیاتونو سره ثابت دی د بېلګې په توګه: (الله خالق کل شئ وهو علی کل شئ وکیل)
۵دقیقې	**ارزونه:** ښوونکی دې درس د زده کړې لپاره د درسي کتاب له پوښتنو له لارې زده کوونکي ارزیابي کړي. **کورنۍ دنده:** ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ورکوي، ترڅو د درس مبارک آیتونه له ترجمې سره حفظ کړي.

ځلورم لوست:

سرلیک: د الوهیت توحید

پانه: ۹- ۱۲

وخت: (دوه درسی ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

۱- په دقیق ډول د الوهیت توحید پېژدنه

۲- د الوهیت د توحید په سم ډول توضیح

۳- د الوهیت توحید د اثبات دلیل په سم ډول زدکول او ارزښت یې نورو ته ویل

لازمي پوهه:

د توحید له ډولونو یو هم د الوهیت توحید دی. د الوهیت توحید د مومنانو د عقیدې اړین جز دی چې د دغه توحید اصلي غایه او پایله د اسما او صفاتو توحید دی. د دې توحید اساسي مفهوم دا دی چې الله تعالی یوازینی پر حق معبود دی او یوازې ده ته باید سر ټیټ شي او له ده نه مرسته وغوښتل شي یا په بل عبارت د الوهیت توحید هغه دی چې هر ډول قلبي، بدني او مالي عبادات باید الله تعالی ته ځانګړي شي او عباد کوونکي باید په دې باور وي چې دی د هغه ذات بندي کوي چې پر ده کاملا قادر او عالم دی یعنې د دونیا او آخرت مالک او عالم المغیب یوازې الله تعالی دی او یوازې همغه کولای شي مور ته ګټه او تاوان را ورسوي.

د همدې حقیقت پر بنسټ الله تعالی د انسانانو او پیریانو د پیدایښت علت خپل عبادت بللی دی او فرمایلي یې دي:

« وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ» ([1])

ژباړه: ما پیریان اوانسانان نه دي پیدا کړي اما د دې لپاره چې زما عبادت وکړي.

د همدې واقعیت پر بنسټ ټول انسانان اړ دي چې یوازې د الله تعالی پیروي او عبادت وکړي او هېڅ شی له هغه سره په عبادت کې شریک نه کړي پر همدې اساس ده چې مسلمان د لمانځه په هر رکعت کې د (إِيَّاکَ نَعْبُدُ وإِيَّاکَ نَستَعِينُ) په ویلو سره خپل پروردګار ته خپل مناجات وړاندې کوي او له ده سره ژمنه کوي او هغه خپل یوازینی معبود او مستعان ګڼي، همدا رنګه ګورو چې الله جل جلاله خپل پیغمبر ته د خپل ذات د عبادت په اړه داسې وایي: (قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۶۲) لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ (۱۶۳))

ژباړه: او و وایه ای محمده زما لمونځ، روژه، حج، قرباني او زما ژوند او مرګ د الله تعالی لپاره دي، په دغو عباداتو کې د هغه لپاره هېڅ شریک نه شته او زه د هغه پر توحید مامور شوی یم او له ټولو وړاندې زه د هغه فرمان وړونکی یم. د همدې د الوهیت د توحید پر بنسټ ټولو پیغمبرانو خپل قومونه د یوازیني الله عبادت ته رابللي او خلک یې له شرک او باطل لمانځلو څخه منع کړي دي، وینو چې قرانکریم په دې اړه وایي: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ. نحل ۳۶.

ژباړه: بې شکه مور له تاسې وړاندې هر ډلې ته یو پیغمبر استولی و چې خلک زما عبادت ته را وبولي او خلک له ما پرته د نورو له عبادت نه منع کړي.

پر همدې اساس قرانکریم د نوح، هود، صالح، ابراهیم، موسی، عیسی، شعیب او نورو پیغمبرانو له لوري خپلو قومونو ته د دعوت یادونه په اعراف، عنکبوت، شعراء، ال عمران سورتونو کې کړې ده.

په لاندې آیت شریف کې ګورو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څه ډول خلک د الله جل جلاله عبادت ته رابلل او د باطلو معبودانو له عبادت

[1] – الذاریات ۵۶

څخه يې منع کول: (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ) ال عمران ٦٤.

ژباړه: و وايه اى د کتاب څښتنو راشى پر هغه خبره چې زموږ او ستاسې ترمنځ يو شان ده ودربږو، چې له خداى پرته د بل چاعبادت و نه کړو، او له هغه سره څوک شريک و نه نيسو او زموږ يو شمېر نور په خدايي و نه نيسو، نو که چېرې اعتراض وکړي ووايي چې شاهد اوسئ چې موږ مسلمانان يو نه تاسې.

د ځمکې پرمخ د انسانانو د ډېروالي حکومت د الله تعالى عبادت دى، پر دې اساس ټولو نړيوالو، ملتونو او قومونو ته د توحيد رسول د مسلمان رسالت دى له همدې امله موږ د ماشوم په غوږ کې آذان کوو، د مسلمان د مرګ پر مهال آذان کوو او کليمه طيبه ورته تلقينه وو، پر همدې اساس ده چې د قادسيې په جګړه کې ربيعي بن عامرﷺ د فراسيوانانو د مشر په ځواب کې و ويل چې موږ د يوه قوم خلک يو چې الله موږ د دې لپاره را استولي يو، څو بنده ګان بنده ګانو ته له عبادت نه د الله عبادت ته دعوت کړو.

پر همدې اساس ګورو چې د الوهيت توحيد درى بنسټونه لري.

١– په عباداتو کې اخلاص او يوازې له الله ﷻ سره صحبت لرل.

٢– له شرک او طواغيتو نه انکار او بې زاري.

٣– له هر ډول شرک ځان ساتل او د ټولو هغه لارو تړل چې شرک ورڅخه پيدا کېدلاى شي.

پر همدې اساس پيغمبرانو د الوهيت توحيد ته ډېر ارزښت ورکاوه او الله ﷻ هم خپل کتانوبونه د الوهيت د توحيد پر بنسټ را استولي دي او د آياتو او علايمو په واسطه يې خلکو ته څرګند کړى دى.

له همدې امله د همدې توحيد پراساس خلک د دوزخ او جنت لور ته سوق شوي او وړاند وينه يې شوې ده.

د تدريس مېتود: سوال او ځواب– مباحثه– توضيح او تشريح.

مرستنديه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشير...

وخت	فعاليتونه
٥ دقيقې	– محترم ښوونکى دې له مقدماتي فعاليت وروسته تېر درس په څو پوښتنو سره وارزوي: د بېلګې په توګه – څوک کولاى شي و وايې چې توحيد پر څو ډوله دى؟ – څوک کولاى شي د ربوبيت د توحيد په اړه يو نقلي دليل وړاندې کړي.
٢٥دقيقې	ښوونکى نوى سرليک د تختې پرمخ ليکي او له يوه زده کوونکي څخه غواړي، چې درس د کتاب له مخې په مناسب آواز سره ولولي او وروسته ټولو زده کوونکو ته څو دقيقې وخت ورکوي، څو درس په خفيه ډول مطالعه کړي او په خپله په دې وخت د سورت کهف ديارلسم آيت پرتخته ليکي وروسته له مطالعې ښوونکى د درس اړونده ټول آيتونه په دقت سره قرائت او ترجمه کوي. محترم ښوونکى له يوه زده کوونکي څخه غواړي، چې د درسي کتاب څخه په استفادې لاندې جانبي سرليکونه د تختې په يو څنډه کې ليکي. – د الوهيت تعريف – د الوهيت توحيد – په عامه مانا عبادت – د الوهيت د توحيد د اثبات دلايل محترم ښوونکى د جانبي سرليکونو څخه په ګټې اخستنې سره زده کوونکو ته درس تشريح کوي او له څو

زده کوونکو غواړي ترڅو هر یو په خپل نوبت سره یو جانبي سرلیک تشریح کړي. ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې سورت بقرې اول آیت جز او د سورت اخــلاص دوه لنــډ آیتونه پرتخته ولیکي. وروسته له دوه زده کوونکو غواړي، چې د دواړو ترجمه د هغه لاندې ولیکي. **لنډیز:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي: – د الوهیت مانا داده چې یوازې د الله تعالی ذات د عبادت او لمانځنې وړ دی او په عبودیت کــې هــیڅ شریک نه لري. – د الوهیت توحید مسلمانانو ته امر کوي چې یوازې د الله تعالي عبادت وکړي او د هغه سره هېڅ شی مــه شریکوی او د تعظیم سر هغه ته ټیټ کړئ او د هغه له اوامرو څخه پیروي وکړئ او له نواهیــو څخــه ډډه وکړئ. – له عبادت نه موخه په عامه مانا دا ده چې بنده د ژوند په ټولو چارو کې د خپل پروردګار امر قبول کړي. – د الوهیت د توحید د اثبات دلایل په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې زیات دي د بېلګې په توګه د دغــه درس نصوص. **ارزونه:** ښوونکی دې له درسي کتاب څخه په پوښتنو سره زده کوونکي وارزوي.	۱۰ دقیقې
کورنۍ دنده: ښوونکی دې زده کوونکي د درسي کتاب د کورنۍ دندې په ترسره کولو مکلف کړي.	۵دقیقې

پنځم لوست:

سرلیک: د الله تعالی نومونه او صفتونه

پاڼه: ۱۳

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د الله ﷻ له نومونو سره بشپړه اشنايي پيدا کړي.

۲- د الله ﷻ د صفتي نومونو او صفاتو ترمنځ توپيرونه ووايي.

۳- د الله ﷻ د نومونو د ثبوت په دلايلو وپوهېږي.

۴- د الله ﷻ په نومونو د ايمان لرلو اهميت نورو ته ووايي.

لازمي پوهه:

مسلمانان د الله ﷻ په ښو او لوړو صفتونو باور لري. او هېڅ شی او يا څوک له الله ﷻ سره په دې کې نه شريکوي او هغه نه تاويلوي، مسلمان انسان الله ﷻ ته د هماغو نومونو او صفتونو نسبت کوي چې الله ﷻ يې خپل ځان ته نسبت کړی او پيغمبر په ډاګه کړي. الله ﷻ د خپلو صفاتو او نومونو په اړه فرمايلي: (وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) الاعراف آية ۱۸۰.

ژباړه: (او ډېر ښه نومونه يوازې الله لره دي، نو دی په همدغو(نومونو) وبولئ او هغه کسان چې د الله په نومونو کې کوږوالی کوي، يوې خوا ته پرېږدئ، ژر به دوی ته د خپلو کړونو جزا ورکړله شي).

د قرآن کريم له ايتونو د الله ﷻ) ډېر صفتونه په ډاګه کېږي چې زموږ مسلمانانو لپاره يوازې همدومره لازم دي چې ايمان پرې ولرو له تاويل او توجيه يې ډډه وکړو او يا هغه څه چې فقهاوو او د عقايدو علماوو په ډاګه کړي، باور پرې وکړو او ويې منو، د بېلګې په ډول، امام مالک رحمة الله عليه پر عرش د رحمن د استوا په اړه وپوښتل شو، هغه وويل چې استوا معلوم او څرنګوالی يا کيفيت يې مجهول دی، او په اړه يې پوښتل ښه کار نه دی، او ايمان پرې لرل لازم دي. امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي پر الله تعالی پر هغه څه چې د هغه له لوري راغلي او څه چې د هغه هدف وي، موږ ايمان لرو او هغه څه چې د هغه د رسول له لوري راغلي، او د هغه هدف په ډاګه کوي، هم باور لرو.

همدارنګه امام احمد رحمة الله عليه فرمايي، د الله ﷻ پر نومونو او صفتونو باور لرم، او په هغو ښه پوهېږم او د کيفيت او حقيقي معنا په اړه يې هېڅ کار نه لرم، په دې معنا چې پر عرش د هغه نازلېدلو، ليدل کېدلو او پر عرش کښېناستلو موږ ايمان لرو، خو پر عرش د هغه د کښېناستو او ليدل کېدو د کيفيت په اړه نه پوهېږو، چې يوازې او يوازې پرې الله ﷻ پوهېږي.

او د استازي (رسول) ويناوې يې نه ردوو او تر هغه زيات پکې څه نه شو ويلی، چې الله ﷻ او د هغه پيغمبر توصيف او فرمايلي دي، نومونو او صفاتو ته يې حد نه شو ټاکلی او ښه پوهېږو چې هېڅ شی له الله ﷻ سره ورته والی نه لري، او هغه اورېدونکی او ليدونکی دی. «لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ»

ژباړه: (هېڅ شی د الله په څېر نه دی، هغه (الله) اورېدونکی او ليدونکی دی.)

الله ﷻ د ښو نومو او صفاتو څښتن دی، پرموږ مسلمانانو دا فرض عين دی چې د الله ﷻ په نومونو او صفاتو ايمان ولرو، د قرآن کريم ګڼو اياتونو او نبوي احاديثو موږ ته د الله ﷻ ډېر نومونه او صفتونه راښودلي دي، دغه اشنايي او ښودنه ددې سبب کېږي چې د الله ﷻ کما حقه عبادت او بندګي وکړو او په ټولو چارو کې هغه ﷻ ذات ته رجوع وکړو.

بندګانو ته لازمه ده الله ﷻ په هماغو نومونو او صفاتو ياد کړي چې پخپله الله ﷻ دغه نومونه او صفتونه په قرآن کريم کې ذکر کړي، له دې کبله بندګانو ته دا روا نه ده چې الله ﷻ ته هغه صفتونه او نومونه وضع کړي چې هغه ﷻ خپل ځان ته نه

دي ټاکلي او یا رسول اللهﷺ خپل رب نه دی وربانديږ ستایلی، ځکه چې د اللهﷻ لپاره د دا ډول نومونو وضع کول د هغه له عظمت او لویۍ سره نه ښايي او نه هم د بندګۍ اداب دا تقاضا لري.

بناءاً، د الله تعالىﷻ د نومونو او صفاتو په اړه د اهل سنت او جماعت عقیده دا ده چې الله تعالى ښه صفات لري، چې د هغه ازلي صفات او نومونه د هغه د لوړ شان او شوکت سره ښايي، او اللهﷻ پخپلو نومونو او صفاتو کې هېڅ شریک او مِثل نه لري.

د اللهﷻ ټول نومونه او صفتونه توقیفي دي، په دې معنا چې په هغو نومونو او صفاتو چې اللهﷻ په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ستایل شوی دی، اللهﷻ په همدې صفاتو او نومونو سره یادېږي، او هېچا ته روا نه ده چې له خپل ځانه اللهﷻ ته نوم یا صفت وضع کړي.

لکه داسې چې د اللهﷻ ته د (صانع) الله د مهندس الکون الاعظم خطاب وشي، یا کوم بل صفت، الله تعالى اسم اعظم دی او د الله نور ټول نومونه صفتي نومونه دي، لکه علیم، حلیم، رحمن، رحیم او داسې نور.

اللهﷻ د خپلو نومونو په اړه د الاعراف سورت په ۱۸۰ ایت کې داسې فرمایلي دي: «وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ»

ژباړه: (او ډېر ښه نومونه یوازې الله لره دي، نو دی په همدغو(نومونو) وبولئ او هغه کسان چې د الله په نومونو کې کوږوالی کوي، یوې خوا ته پرېږدئ، ژر به دوی ته د خپلو کړونو جزا ورکړله شي).

اللهﷻ په ښو نومونو یاد کړي. د الله تعالى د نومونو په اړه بې لارې کېدل (ګمراهي) په دې معنا دي چې د الله تعالى لپاره داسې نوم وټاکي چې د اسلام له اصولو او هدف سره په ټکر کې وي، او د هغه له لویۍ او اجلال سره مناسب نه وي، او یا دا چې د الله تعالى نوم غیرالله ته وټاکي او یا دا چې د اللهﷻ نوم له کوم مورد او له اصولو لیرې تأویل کړي.

د تدریس میتود: پوښتنه او ځواب، توضیح، تشریح او مسابقه

مرستندویه درسي مواد: کتاب، کتابچه، تخته او تباشیر

وخت	فعالیتونه
۵ دقیقې	– محترم ښوونکی وروسته له مقدماتي موضوعاتو د څو پوښتنو په طرح کولو سره تېر درس ارزوي. – څوک کولای شي د توحید الوهیت تعریف کړي؟ – څوک کولای شي طاغوت تشریح کړي؟ – څوک کولای شي چې ووايي د توحید الوهیت حکم څه دی؟ محترم ښوونکی وروسته له ځوابونو د نوي درس سرلیک په تخته لیکي.
۲۵دقیقې	محترم ښوونکی د درس متن د یو زده کوونکي لخوا لولي او خپله د قرآني نصوص په دقت سره ترجمه او هغه زده کوونکي ته وايي. محترم ښوونکی زده کوونکو ته هدایت کوي ترڅو درس په پټه خوله مطالعه کړي. محترم ښوونکی له دوه زده کوونکو غواړي ترڅو له لاندې جانبي عناوینو څخه یو له مخې ولولي او بل د هغه پرتخته ولیکي. – د اسماء او صفات تعریف – د الله ج د اسماء قسمونه – د الله تعالي د صفاتو او صفتي نومونو ترمنځ فرق د الله تعالي د نومونه د ثبوت دلایل د الله تعالي په اسماء ایمان لرل

	– د الله تعالي د اسماء او صفات په اړه د اهل سنت او جماعت کړه وړه محترم ښوونکي د زده کوونکو توجه ځانته جلبوي د جانبي عناوينو څخه په ګټې اخستنې سره زده کوونکو ته درس تشريح کوي او وروسته زده کوونکو ته څو دقيقې وخت ورکوي ترڅو د درس په اړه خپلو کې بحث وکړي او پدې وخت کې خپله صنف کنټرولوي او د زده کوونکو بحث ته متوجه وي او د هغو اشتباهات د اصلاح لپاره د خپل ځان سره يادښت کوي.
۱۰دقيقې	**خلاصه:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کيږي: – په اجمالي ډول د الله تعالي پر ټول نومونه باندې باور لرل د اسلامي عقيدې جز دی. – الله تعالي اسماء په هغه الفاظو اطلاقيږي چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې ذکر شوي او په عين حال کې د خداي په ذات دلالت وکړي. – الله تعالی صفتي اسماء د الله تعالي د صفات سره په مانا او عدد کې فرق لري – د الله تعالي د اسماء د ثبوت لپاره ډېر دلايل په قرآن کريم او احاديثو کې ذکر شوي دي د مثال په ډول: (وَلِلّهِ الاسْمَاءُ الحُسنى فادعُوهُ بِهَا) – اهل سنت او جماعت د الله تعالی اسماء په خپل عقل سره ډول تعطيل او تحريف نه کوي او د هغه مثال ورته نه بيانوي او د هغه د کيفيت په اړه بحث نه کوي. **ارزونه:** محترم ښوونکی له درسي کتاب څخه په پوښتنو سره زده کوونکي ارزوي
۵دقيقې	**کورنی دنده:** محترم ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي ترڅو له قرآن کريم په استفادې سره په خپلو کتابچو کې لس آيتونه وليکي چې په هغه کې د الله تعالي نومونه ذکر شوي وي.

شپږم لوست:

سرلیک: د الله تعالی صفتونه

پانه:۱۷

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د الله تعالیﷻ د نومونو شمېر معلوم وي.
- د اللهﷻ په نومونو او صفاتو د ایمان لرلو ګټې ووايي
- د اللهﷻ د صفاتو په ډولونو پوی وي او اهمیت یې نورو ته ووايي.

لازمي پوهه:

د اللهﷻ ځینې صفتونه لکه: (حیات، علم، قدرت، بصر، سمع، خبرې اراده او داسې نور) داسې ذاتي صفتونه دي چې پرضد یې الله تعالی نه موصوفېږي، د لسم ټولګي په درسي کتاب کې د الله تعالی د ذاتي صفاتو تر سرلیک لانــدې د یــادو شــوو صفاتو په اړه کافي معلومات وړاندې شوي دي، خو دلته په ځانګړې توګه د ذاتي صفاتو ځینې عقلي دلایل وړاندې کېږي.

حیات:

اللهﷻ ژوندی دی، یعنې د حیات په صفت ستایل شوی، چې ضد یې مرګ دی. حیات ازلي صفت دی. چې د الله تعالی پــر ذات پورې قایم دی؛ ځکه که چېرې اللهﷻ د حیات څښتن نه وي، د نورو ټولو صفاتو لرلو ورتیا به یې نه لرله. همداســې، که چېرې خالق ژوندی نه وي، هغه ته د نورو صفاتو نسبت سم نه دی، داسې به نه شوای کېدای چې یو پــای مونــدونکی خالق دې نور مخلقو پیدا کړي. نو دا ثابته شوه چې الله تعالی حی (ژوندی) دی، او د حیات صفت ورته شوی، چــې اللهﷻ پخپله په دې اړه وایي: { اللّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ[1]} ژباړه: (الله (چې دی) له هغه څه پرته بل کوم معبود نشته، ژوندی، تلپاتې، همېشه قایم د بشپړ تدبیر څښتن دی.)

علیم:

اللهﷻ ته د علم نسبت شوی، او علم یعنې پر معلوم څیز احاطه لرل، چې ضد یې جهل (ناپوهي) ده، علم یو ازلي صفت دی، چې د الله تعالی پر حق ذت پورې قایم دی، چې په دې سره ټول څیزونه واجب، جایز او ناممکن څیزونه هغه ته معلــومېږي، داسې نه شي کېدی چې یو دغه عالم دې یوڅوک پیدا کړي چې په دقت او منظم ډول یې په اړه علم ونه لري. ځکه څــوک چې د یوه څیز په اړه جاهل وي، ناممکنه ده چې هغه دې سم کړای شي، مثلاً، یوڅوک چې په ترکاڼی نه پوهېږي، د صندلۍ په جوړولو نه پوهېږي، اللهﷻ ددې صفت په اړه فرمایي: (يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ) ([2])

ژباړه: (پر هر هغه څه چې د دوی (بندګانو) په مخکې دي او (یایې) شاته پرېښي دي، پوهېږي.) پر هغه څه پــوهېږي چــې د هغوی پر دنیا او اخرت پورې اړه لري.

بل ځای فرمایي: (يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهرَكُمْ) ژباړه: (الله تعالی پر ټولو پټو او ښکاره څیزونو پوهېږي.)

او بل ځای فرمایي: (وَمَا تَسْقُطُ من وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا) ([3]). ژباړه: (او هیڅ یوه پاڼه نه لوېږي خو الله پرې پوهېږي.)

ابوبکرؓ روایت کوي چې رسول الله ته مې وویل: اې د الله رسوله، داسې څه راته وښیه چې سهار او ماښام یې ووایم، هغــه وویــل، ووایــه: (قُلِ اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْــتَ أَعُــوذُ بِــكَ مِــنْ شَــرِّ نَفْــسِي وَشَــرِّ

---

[1]- بقره ۲۵۵

[2] - بقره ۲۵۵.

[3] - انعام آیه ۵۹

الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ). ([1])

یعنې اې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونیه، پر غیب او ښکاره ټولو عالم ذاته، د هرې هستۍ ربّ او څښتنه، د خپل ځان او شیطان له او د شرک آمیزه وسوسو څخه تاته پناه دروړم.

مرید: (اراده لرونکی):

الله تعالی د ارادې په صفت موصوف دی، چې د اکراه او اهمال ضد دی، اراده یو ازلي صفت دی، چې د الله تعالی پر ذات پورې قایم دی، او په مټ یې هر هغه چې د هغه لپاره جایز دی، تعیینېږي، اراده هم لکه د قدرت په څېر پر ممکناتو پورې اړه لري.

الله تعالی د نړۍ له موجودیت مخکې موجود و، او د هغه په اراده او اختیار نړۍ منځته راغلې ده (له دې کبله د الله او نړۍ ترمنځ اړیکه د علت او معلول ضروري اړیکه نه ده، بلکې پخپل کار کې د یوه خودمختاره فاعل اړیکه ده) قرآن کریم په دې اړه د الاسری سورت په ١٦ ایت کې فرمایلي: (وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا) ([2])

ژباړه: (او کله چې وغواړو کومه سیمه تباه کړو، د هغې بډایانو ته امر کوو چې په نافرمانۍ لاس پورې کړي، نو پر هغه ځای د تباهۍ حکم عملي کېږي او موږ هغوی (په سخته توګه) هلاکوو.)

بل ځای فرمایي: (إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ) ([3]).ژباړه: (الله چې هرڅه وغواړي، هغه کوي.)

د الله رسول هم د ارادې نسبت الله ته کړی دی، چې فرمایي: (من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین ویلهیمه رشده) الله چې د هرچا لپاره خیر او نیکي وغواړي، هغه د دین پر احکامو پوهوي او هغه ته د دنیا د خیر او ښېګڼې الهام کوي.

د تدریس میتود: پوښتنه او ځواب: تشریحي، مباحثه او مسابقه

مرستندویه درسي مواد: کتاب،کتابچه، تخته او تباشیر.

وخت	فعالیتونه
٥ دقیقې	– محترم ښوونکی له مقدماتي موضوعاتو وروسته د خپل اطمنان په خاطر د څو پوښتنو سره تېر درس ارزوي د مثال په ډول: – څوک کولای شي د الله تعالی اسماء او صفات تعریف کړي؟ څوک کولای شي ووایي د الله تعالی اسماء په څو ډوله دي؟ وروسته د ځوابونو څخه محترم ښوونکی د نوي درس سرلیک (د الله تعالی صفتونه) پرتخته لیکي.
٢٥دقیقې	محترم ښوونکی د زده کوونکو توجه خپلو کتابونو ته اړوي او درس د اول سطر څخه تر (د الله تعالی پر اسماء او صفاتو د ایمان لرلو ګټې) سرلیک پورې وایي او پاتې درس د یو ممتاز زده کوونکي لخوا لولي. محترم ښوونکی زده کوونکو ته څو دقیقې وخت ورکوي ترڅو درس په پټه خوله ډول مطالعه کړي او خپله د ټولګي د نظم ته متوجه وي، که چېرې د زده کوونکو لخوا پوښتنې مطرح کېږي، ځواب ورته وایي. محترم ښوونکی د الله تعالي د واردو شویو اسماء په اړه مبارک حدیث د ټولګي پر تخته ولیکي او له دوه زده کوونکو غواړي ترڅو تختې ته راشي او د یو بل په مرسته سره د هغه ترجمه ولیکي. وروسته له یو زده کوونکي غواړي ترڅو لاندې جانبي عناوین د کتاب له مخې پر تخته ولیکي. – د الله تعالی د اسماء شمېر – د الله تعالی پر اسماء د ایمان لرلو ګټې

[1] – السنن أبی داود– باب مایقول إذا أصبح الجزء۴ – المخ ۴۷۶۰.

[2] – سورة اسرأ آیه ١٦.

[3] – سورة الحج آیه ١۴.

– د الله تعالی د صفاتو ډولونه محترم ښوونکی د درس له جانبي عناوینو په ګټې اخیستنې زده کوونکو ته درس تشریح کړي او پــر ځینــو مهمو نکاتو ډېر ترکیز وکړي. محترم ښوونکی د درس نصوص د څو زده کوونکو لخوا قرائت کوي محترم ښوونکی له څو زده کوونکو غواړي ترڅو هریو په خپل نوبت سره یو سرلیک درس تشریح کړي. وروسته محترم ښوونکی ټولګي په ډېره آرامي سره په څلورو ګروپونو سره وېشي او هر ګروپ تــه وظیفــه ورکوي ترڅو د درس د مفاهیمو په اړه خپل منځ کې بحث وکړي او د خپل بحث نتایج د وړانــدې کولــو لپاره د ټولګي مخکې ولیکي.	
خلاصه: دغه درس په لاندې ټکو خلاصه کیږي. – د الله تعالی د اسماء تعداد په قرآن کریم او احادیثو کې ذکر شوي د مثال په ډول د سورت الحــشر ۲۲ آیت څخه ۲۴ آیت پورې – د خدای رسول فرمایلي د الله تعالی لپاره نهه نوي نومونه دي هرڅوک چې دغه نومونه حفظ کړي جنت ته ځي. – هرڅوک چې د الله تعالی اسماء او صفاتو سره ډېر معرفت ولري او همغه اندازه د هغه ایمان ســختیږي او په وجود کې یې د توحید عقیده محکمیږي. – د الله تعالی صفاد پر دوه ډوله دي: ذاتي او فعلي – د الله تعالی ذاتي صفات هغه صفات دي چې خدای منان د هغه پر ضد نه متصف کیږي لکه سمع، بــصر، علم، اراده، حیات، کلام، قدرت. او فعلي صفات هغه صفتونه دي چې الله تعالی د هغه پر ضد متصف کېږي کله تخلیق، ترزیق، احیا، اغزاز او غیره.	۱۰دقیقې
ارزونه: محترم ښوونکي د درسي کتاب څخه په پوښتنو سره زده کوونکي ارزوي. او که چېرې کومه پوښــتنه بــې ځوابه پاتې وي هغه ته ځواب وایي. **کورنۍ دنده:** محترم ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي ترڅو د الله تعالی د اسماء او صفاتو په اړه دوه کرښې مقاله ولیکي.	۵ دقیقې

اووم لوست:

سرلیک: د الله تعالی ذاتي صفتونه (قدرت او اراده)

پانه: ۲۱

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د قدرت د اثبات د صفت په دلایلو سم پوی شي.
- د ارادې د اثبات دلایل وویلی شي.
- د الله تعالی د ارادې په صفت د ایمان په حکمت پوی شي.
- د نورو ته د ارادې د اهمیت ډولونه ورسوي.

لازمي پوهه:

قادر:

قدرت د الله ازلي صفت دی او اللهﷻ د قدرت په صفت ستایل شوی، چې د عجز ضد دی. نو الله تعالی قادر دی او قدرت د هغه ازلي صفت دی چې د هغه پر ذات قایم دی، چې د الله تعالی حق پر هغو پدیدو پورې معدوم گرځوي او پر ممکناتو پورې تړاو پیدا کوي.

ددې نړۍ په پیدایښت او په نړۍ کې د عجیبو او لویو موجوداتو لکه حیوان، نبات او معادنو ډولونه چې عقل او افکار یې په سوچ کې ورکېږي، دا ټول د الله تعالی په وجود دلالت کوي، چې له هر ډول نیمگړتیا پاک دی، نو چې داسې ده بیا دا ممکنه ده چې ددا ډول لویو څیزونو جوړول د قدرت فاقد وي، هېڅ سالم عقل دا باور کولی نه شي چې دغه نړۍ دغه ستوري چې هر یو یې پخپل ډول کې بې مثیله لوی دی، یوه ناتوانه او بې قدرته ذات دې جوړ کړي وی، ځکه چې ناتوان نه شي کولی چې د خپل ځان غم وخوړلی شي، دا خو پرېږده چې د نورو غم دې وخوړلی شي، په قرآن کریم کې د الله تعالی د قدرت دلایل ډېر زیات دي، چې مونږ یې په یوه دوو دلایلو بسنه کوو، الله تعالی په بقره سورت کې فرمايي:

(أَنَّ الْقُوَّةَ لِلّهِ جَمِيعاً) او په الملک سورت کې فرمايي: (وهو علی کل شی قدیر):

ابي امامه وايي چې د الله رسول ډېره دعا وکړه او ما و نه کړای شو چې له هغه څخه یوڅه یاد کړم، ورته ومې ویل اې د الله رسوله، ډېره دعا دې وکړه، خو ما ترې هېڅ هم یاد نه کړل، راته وویل: ایا تا ته دداسې څه لارښوونه وکړم، چې دې ټولو ته شامل وي، ومې ویل هو، راته وویل: ووایه:

(اللهم انی اسئلک من خیر ماسألک منه نبیک محمدﷺ وانت المستعان وعلیک البلاغُ ولاحول ولاقوة الا باالله)

یعنې اې لویه خدایه، له تا څخه هغه خیر او برکت غواړم چې ستا رسول محمد له تا غوښتی دی، او د هغه څه له شر څخه تاته پنا وړم، چې ستا رسول محمدﷺ تاته پنا وړې ده، یوازې له تا مرسته غوښتل کېږي او ستا پرغاړه د رسالت (تبلیغ) دی، او له تا پرته هېڅ قدرت او واک نشته.

دغه حدیث ترمذي روایت کړی او حسن یې بللی دی.

د تدریس میتود: پوښتنه، ځواب، مباحثه، تشریح او ډله

درسي مواد: درسی کتاب، تخته او تباشیر

وخت	فعالیتونه
۵ دقیقې	- محترم ښوونکي د مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته د خپل اطمینان لپاره تیر درس په څو پوښتنو سره ارزوي د مثال په ډول: – څوک کولای چې هغه حدیث چې هغه د الله تعالی د اسماء اړه وارد شوي ولولي؟ – څوک کولای شي د الله تعالی ذاتي صفات تعریف کړي؟ محترم ښوونکي د ځوابونو د آوریدلو څخه وروسته د نوي درس سرلیک د یو شاګرد په واسط په تخته لیکي. ښوونکي د زده کوونکو توجه د خپلو کتابونو ته اړوي او یوازي د درس نصوص په ډېر دقت سره قرائت کوي.
۲۵دقیقې	محترم ښوونکي زده کوونکو ته څو دقیقې وخت ورکوي ترڅو درس په خفیه ډول ترسره کړي. محترم ښوونکي د یو زده کوونکي څخه غواړي چې لاندې جانبي عناوین پر تخته ولیکي. – د قدرت تعریف – د الله تعالی په قدرتي صفت ایمان لرل – د ارادې تعریف – د ارادې د اثبات دلایل – عقلی دلیل– د ارادې ډولونه محترم ښوونکي د زده کوونکو توجه ځانته اړوي د جانبي عناوینو څخه په ګټې اخیستنې سره درس زده کوونکو ته تشریح کوي او پرځینو ټکو باندې ډېر ترکیز کوي. محترم ښوونکي له څو زده کوونکو چې کم علاقه ښکاري غواړي ترڅو هریو په خپل نوبت سره یو سرلیک درس تشریح کړي پدې وخت محترم ښوونکي د زده کوونکو سره ډېره مرسته کوي. محترم ښوونکي زده کوونکي په دوه ګروپونو تقسیموي او له دوی غواړي ترڅو له یو او بل څخه د درس اړونده پوښتنې وکړي او خپله د صنف کنترول کوي او صحیح او غلط ځوابونه د ځان سره د اصلاح لپاره یاداشت کوي.
۱۰ دقیقې	**خلاصه:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي: – قدرت عبارت له هغه صفت څخه دی چې د هغه په وسیله هر ژوندی موجود کولای شي د خپلې ارادې سره موافق خپل کار سرته ورسوي او یا یې ترک کړي. – قدرت د الله تعالی ذاتي صفت دي او اړونده صفت د الله تعالی لپاره حادث ندی بلکې ازلي او ابدي دی. – د الله تعالی قدرتي صفت په ډېرو آیاتونو سره ثابت شوي دي د مثال په ډول (انّ الله علی کل شئ قدیر). – اراده دې ته وایي چې د یوه کار ترسره کولو او یا پریښودلو د هدف لپاره یو کار ترسره شي، لکه د یوه کار ګټه یا زیان. – عقلي دلیل، که چیرې د الله اراده بل څه وي، له هغه څخه د قدرت صفت سلب شي، نو عقل هم په دې باور دی چې الله تعالی اراده لري او هرڅه چې وغواړي، هماغه کیږي. – د الله تعالی د ارادې په صفت او قدرت ایمان لرل فرض دي – د اهل سنت او جماعت له لیدلوري، اراده په دوه ډوله ده: ۱ – تکویني او خلقي اراده ۲ – دیني او شرعي اراده. **ارزونه:** محترم ښوونکی دې د درسي کتاب له پوښتنو څخه په ګټې اخیستو سره خپل زده کوونکي وارزوي.
۵دقیقې	**کورنۍ دنده:** محترم ښوونکي زده کوونکي د درسي کتاب په کورنۍ دنده مکلف کوي.

اتم لوست:

سرلیک: د الله تعالی ذاتي صفات (سمع، بصر، علم اوحیات)

پانه: ۲۴

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د الله تعالی په ذاتي صفتونو سم پوی شي.
- د علم د صفت د اثبات دلایل روښانه کړي.
- د یادو شوو صفاتو په ایمان لرلو پوی شي.
- د ذاتي صفت اهمیت نورو ته ورسوي.

لازمي پوهه:

سمیع وبصیر:

الله تعالی سمیع او بصیر دی، چې دا د کوڼ او ړانده ضد دي.

لیدل او اورېدل دواړه ازلي صفتونه دي، چې د الله تعالی په حق ذات پورې قایم دي، او له هېڅ واسطې او سبب پرته هرڅه ویني او اوري، الله تعالی پخپله فرمایلي: (وهوالسمیع البصیر) آیه ۱۱ د شوری سورت.

ژباړه: (او هغه اورېدونکی او لیدونکی دی) او دا هم ناممکنه ده هغه ذات چې نورو ته د لیدو او اورېدو (سمع او بصر) وړتیا ورکوي، پخپله دا وړتیا ونه لري.

همدارنګه له اورېدو او لیدلو پرته په نړۍ پوهېدل ناممکن دي، که نعوذ بالله الله تعالی دغه دواړه صفتونه نه درلودی، نو د کایناتو ښکلی نظام او تدبیر به ګډوډ شوی وای. وینو چې حضرت ابراهیم عليه السلام خپل پلار ته وایي چې: (دغه ماجرا د مریم سورت ۴۲ ایت په ډاګه کړې ده) «إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا».

(اې پلاره! ولې د هغه څه عبادت کوې، چې نه اوري او نه ویني او نه ستا کومه ستونزه حل کوي؟)

دا چې حضرت ابراهیم عليه السلام خپل پلار ته دا نه غوښتل چې د هغه څه عبادت وکړي، چې نه اوري او نه ویني، دلیل یې دا دی چې خالق باید دغه صفتونه ولري.

د تدریس میتود: سوال اوځواب، مباحثه، توضیحي اوتشریحي خبرې

مرستندیه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

د لوست جریان:

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	محترم ښوونکي د مقدماتي موضوعاتو وروسته تیر درس په لاندې پوښتنو سره ارزوي: – قدرت په څو ځیزونو اطلاقیږي؟ – د قدرت پر صفت ایمان راوړل څه حکم لري؟ – د الله تعالی اراده په څو ډوله ده؟ محترم ښوونکي د ځوابونو د آوریدو وروسته د نوي درس سرلیک د یو زده کوونکي په واسطه لیکي.
۲۵ دقیقې	محترم ښوونکي د درس هر پارګراف د یو زده کوونکي لخوا په مناسب آواز سره لولي او محترم ښوونکي د زده کوونکو لخوا د نصوصو په لوستلو کې ډېر دقت کوي او که چیرته مشکل ولري هغه خپله حلوي. محترم ښوونکي له دوه زده کوونکو غواړي ترڅو د لاندې جانبي عناوینو څخه یو د کتاب له مخې ولولي او نور یې ولیکي: – **د سمع تعریف – بصر(بینایي) – سمع او بصر د اثبات دلایل – د علم تعریف – د حیات تعریف** – **دعلم او حیات د صفت د اثبات دلایل – په یادو صفتونو ایمان لرل** محترم ښوونکي له عناوینو څخه په استفادې درس په شوق سره تشریح کوي او د تشریح په جریان کې د ځینو زده کوونکو دقت او توجه اړولو لپاره مخاطب ګرځوي. وروسته محترم ښوونکي له څو زده کوونکو چې نن یې نوبت دي غواړي ترڅو هر یو په خپل نوبت سره یو سرلیک تشریح کوي. محترم ښوونکي زده کوونکو ته څو محدودې دقیقې وخت ورکوي ترڅو خپل منځ کې د درس په اړه بحث وکړي او که اختلاف پیدا کیږي په ډېره حوصله سره هغه حلوي.
۱۰ دقیقې	**خلاصه:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي: – سمع عبارت له هغه قوې څخه ده چې هغې په وسیله ټول غږونه آوریدل کیږي. – الله تعالی ټول غږونه او کلمات په خپل ازلي صفت سره آوري او له الله تعالی څخه هیڅ آواز نشي پټیدلای. بصر عبارت له یوې قوې څخه دی چې په سترګو کې وجود لري او د هغې په وسیله شکلونه، رنګونه، رڼاوې او تیارې او نور ویني. – بصر د الله تعالی ذاتي صفت دی او الله تعالی ټول واړه او لوی شیان په خپل ازلي صفت سر ویني. – علم هغه پوهې ته ویل کیږي چې پر واقعت ولاړه وي. – علم د الله تعالی ذاتي صفت دی، الله تعالی په ټوله هستۍ پوه دی او الله تعالی پر هرڅه علم لري. – د الله تعالی د دغه ذاتي صفاتو لپاره قرآني دلایل موجود دي. چې مثال یې دغه ایت دی: (إنّ الله سميعٌ بصير) (إنّ الله عليمٌ بذات الصّدور) (اللهُ لا إله إلاّ هو الحيُّ القيّوم). د الله تعالی په ټولو ذاتي صفتونو ایمان لرل فرض دي **ارزونه:** محترم ښوونکي زده کوونکي د درسي کتاب د پوښتنو له لارې ارزوي.
۵دقیقې	**کورنۍ دنده:** محترم ښوونکي زده کوونکي د درسي کتاب په کورنۍ دندې مکلف ګرځوي.

نهم لوست:

سرلیک: د الله تعالی د کلام صفت

پانه:۲۷

وخت: (دوه درسي ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د کلام تعریف او د کلام د صفت د اثبات دلایل ښه وپېژني.
- د کلام په صفت ایمان لرل په ډاګه کړي.
- په قرآن کریم ایمان لرل روښانه کړي.
- د قرآن کریم د نومونو اهمیت نورو ته ورسوي.

لازمي پوهه:

کلام د الله ﷻ ازلي صفت دی، چې د هغه په ذات پورې قایم او قدیم دی، او کلام پر هغه څه دلالت کوي چې لفظي اثر ولري، چې د ګونګ د صفت ضد دی، او هېڅکله دا وروستی صفت الله تعالی ته نه منسوبېږي. دلیل یې د نساء سورت ۱۶۴ ایت دی، چې الله تعالی فرمایي: «وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا» ژباړه: (او الله تعالی له موسی سره داسې خبرې کړې دي، لکه چې خبرې کېږي.)

الله تعالی چې هرکله وغواړي، د هغه له شان او شوکت سره مناسب د پرښتو په مټ د وحې له لارې خپلو پیغمبرانو ته خپلې خبرې اوروي، لکه څنګه چې په معراج کې له حضرت محمدﷺ سره او په طور غره کې، له حضرت موسی علیه السلام سره یې خبرې وکړې، د نورو معلوماتو لپاره ددغه سورت ۴۷-۱۰ ایتونو ته مراجعه وکړئ.

د تدریس میتود: پوښتنه او ځواب: تشریحي، مسابقه

مرستندیه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

د لوست جریان:

وخت	فعالیتونه
۵ دقیقې	– محترم ښوونکي د مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته د دغه سوالو په مطرح کولو سره تیر درس ارزوي: – څوک کولای شي سمع، بصر، علم او حیات صفتونه تعریف کړي؟ – څوک کولای شي ووایي خدای د خپل کوم صفت پرضد نشي متصف کیدلای؟ څوک کولای شي د الله تعالي د حیات صفت د اثبات یو دلیل بیان کړي؟ وروسته محترم ښوونکي د نوي درس سرلیک پرتخته لیکي او له زده کوونکو غواړي چې کلام د الله تعالي له کومو صفتونو څخه دی؟ د ځوابونو څخه وروسته زده کوونکو ته څو دقیقې وخت ورکوي ترڅو درس په خفیانه ډول سره مطالعه کړي او خپل پدې وخت د قرآن کري دوه یا دری نصه چې په هغه کې د الله تعالي د کلام صفت ثابت شویدي د تختې پرمخ لیکي.
۲۵دقیقې	وروسته له یو زده کوونکي غواړي ترڅو نصوص د تختې له مخې ولولي او وروسته خپله نصوص تحت لفظې ترجمه کړي. محترم ښوونکي له یوه زده کوونکي غواړي ترڅو لاندې عناوین پرتخته ولیکي. – دکلام تعریف – د کلام د صفت د اثبات دلایل

	- قرآن کریم د الله تعالی کلام دی - د قرآن کریم تعریف - د قرآن کریم نومونه محترم ښوونکي د زده کوونکو توجه ځانته جلبوي د جانبي عناوینو څخه په استفادې درس زده کوونکو تــه تشریح کوي. وروسته له څو زده کوونکو غواړي ترڅو هر یو په خپل نوبت سره یو سرلیک تشریح کړي. محترم ښوونکي زده کوونکي پر دوه ډلو تقسیموي او هغوی ته وظیفه ورکوي ترڅو د کــلام صــفت او د قران کریم نومونو په خپلو کې بحث وکړي او خپله پدې وخت کې صنف کنترولــوي او د زده کوونکــو د بحث ته متوجه اوسي.
۱۰ دقیقې	وروسته له فعالیته د بحث نتایج د ګروپونو د استازو لخوا د ټولګي مخ کې وړاندي کیږي. **خلاصه:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي: - کلام هغه خبرو ته وایي چې د حروفو او اصواتو څخه مرکب وي خو دلته د کلام څخه مراد د الله تعــالی ذاتي صفت دی چې له مخکې د هغه لپاره ثابت دی او دغه کلام ته نفس هم وایي. - د الله تعالي د کلام صفت په دغه آیت مبارک کې ثابت دی (وَكَلمَ اللهُ مُوسى تَكلِيمًا) - د الله جَلَّ جَلالُهُ پر کلام ایمان او باور لرل واجب دی. - د قرآن کلمه مصدر دی چې د یوځای کولو او تلاوت کولو په مانا دی. - قرآن په اصطلاح کې د الله تعالی کلام دي چې په عربي ژبه پر حضرت محمد ﷺ نازل شوی دی او پــه صــحیفو لیکل شوی او موږ ته په تواتر ډول بغیر له شبهې نقل شوی دی. - پردې چې قرآن کریم کلام الله تعالی دی او قایم په ذات حق تعالی دی یقین او باور لرل واجب دي. - د قرآن کریم لپاره متعددي نومونه دي د مثال په ډول: الکتاب، الحکیم، نور، الفرقان، الروح. **ارزونه:** ښوونکی دې په درسي کتاب کې د راغلو پوښتنو څخه په ګټې اخیستو سره د زده کوونکو پوهه و ارزوي.
۵ دقیقې	**کورنۍ دنده:** ښوونکی باید زده کوونکي په هغه کورنۍ دنده مکلف کړي، چې په درسی کې راغلې ده.

لسم لوست:

سرلیک: په ملائکو ایمان

پانه: ۳۰- ۳۳

وخت: (دوه درسی ساعتونه)

موخې: زده کوونکي باید:

- د ملائکو د اثبات دلایل په صحیح ډول پوهه شي
- په ملائکو باندې ایمان لرل بیانول
- د ملائکو صفات درک کړي
- په ملائکو باندې د ایمان ګټې نورو ته ورسوي

ملائکې:

دوهم څیز چې انسان یې په ایمان لرلو مکلف دی، پر ملائکو ایمان لرل دي.

د ملائیکو تعریف: ملائیکې لطیف جسمونه لري، نوراني دي او د لیدو وړ نه دي، په مختلفو اشکالو ځان بدلولای شي، خوراک او څښاک نه لري، مذکر او مؤنث نه دي، تولد او تناسل هم نه لري، د الله ﷻ نژدې، فرمان برداره او نېک بندګان دي.

د پرښتو د شتون دلایل:

هغه نړۍ چې د الله تعالی مخلوق دی، ډېر پراخه دی، چې د ځمکې کره، د ځمکې پر سر د انسان ژوند یې یوه کوچنۍ برخه ده. الله تعالی یو قدیر او توانمند ذات دی، د کارونو د ترسره کولو لپاره هغه کولی شي چې له هر راز وسیلې او سبب پرته ټوله هستي منظمه کړي، خو د خپل (حکمت بالغه) په مټ خپلې پرښتې چې څوک یې نه شي لیدلی، د دندو د ترسره کولو لپاره ګمارلې دي، چې د الله تعالی امر نافذ او د انسانانو کارونه وڅاري او محاسبه یې کړي. په قرآن کریم کې د پرښتو د شتون دلایل ډېر دي، چې د بېلګې په ډول یې یوڅو دا دي:

«لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ» ([1]).

ژباړه: (نیکي (یوازې) دا نه ده چې مخونه لوېدیځ او ختیځ ته واړوئ، خو (غوره) نیکي د هغو کسانو ده چې پر الله او د قیامت پر ورځ او پرښتو او کتاب او نبیانو یې ایمان راوړی دی.) او بل ځای فرمایي: «يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا» ([2])

ژباړه: (اې مؤمنانو، پر الله او د هغه پر رسول او پر هغه کتاب چې پر خپل رسول یې نازل کړی دی او پر هغه کتاب چې له (قرآن) څنې مخکې یې نازل کړی دی ایمان راوړئ او هرڅوک چې د الله او د هغه د پرښتو او د هغه د کتابونو او د هغه د رسولانو او د آخرت له ورځې څخه انکار وکړي، په رښتیا سره چې ډېر زیات لار ورکی شوی دی.) او فرمایي: «آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» ([3])

ژباړه: (هر هغه څه چې د الله له خوا نازل شوي، رسول او مؤمنان پرې باور لري. ټولو پر الله او د هغه پر پرښتتو او کتابونو او رسولانو ایمان راوړی (او وایي) موږ د الله د رسولانو د هېڅ یوه ترمنځ توپیر نه کوو. او دوی ویل: (د الله خبره) مو واورېده او مو منله. ای الله له تابخښنه غواړو او تاته درتلل دي.)

[1] – بقره۱۷۷

[2] النساء ۱۳٦

[3] البقره ۲۸۵

پیغمبرﷺ فرمايي:{أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ} ([1]) ژباړه: (دا چې پر الله، د هغه پر پرښتو، او کتابونو، او د اخرت پر ورځ ایمان راوړئ.)

د ملائکو ډولونه:

ملائکې یعنې د الله ﷻ مخلوقات چې د بشر لپاره د لیدو وړ نه دي، په دوه ډوله دي: یوه ډله چې کار یـې د الله تقـدیس دی، پـه عبادت کې غرقې دي، بشر ته په خدمت مکلفې نه دي د هغو ملائکو له ډلې څخه نه دي چې آدمؑ ته یې سجده وکـړه هغـوی همغه مقربې ملائکې دي. بله ډله ملائکې هغه دي چې کار یې انسانانو ته خدمت دی او هغه څه چې اړتیا لري پوره کوي یې.

د تدریس میتود: پوښتنه، ځواب، توضیحي او تشریحي مباحثه

مرستندویه درسي مواد: کتاب، تخته، تباشیر.......

د لوست جریان:

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	– محترم ښوونکی له مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته د تېر درس په څو پوښتنو سره ارزوي د مثال په ډول: – څوک کولای د الله تعالی کلام تعریف کړي؟ – څوک کولای شي د خدای پاک د کلام د صفت د اثبات لپاره یو دلیل ووایي؟ – څوک کولای شي د قرآن کریم نومونه واخلي؟ محترم ښوونکی د ځوابونو له لاسته راوړلو وروسته د درس سرلیک د تختې پرمخ لیکي
۲۵دقیقې	محترم ښوونکی د زده کوونکو توجه د خپلو کتابونو ته اړوي او یوازې د درس نصوص لولي او پاتې درس په زده کوونکو وايي. محترم ښوونکی زده کوونکو ته څو دقیقې وخت ورکوي ترڅو هغویې په پټه خوله درس مطالعه کړي. که چېرې د زده کوونکو لخوا پوښتنې مطرح کېږي هغه حل کوي وروسته محتـرم ښـوونکی لـه دوه زده کوونکو غواړي چې یو له لاندې جانبي عناوینو څخه د کتاب له مخې ولولي او نور هغه ولیکي. – د ملائکې تعریف – د تعریف شرحه – د ملائکو د اثبات دلایل – پر ملائکو ایمان ملائکې له ټولو ګناهونه څخه پاکې دي – د ملائکو صفتونه – د ملائیکو دندې – په ملائکو باندې د ایمان لرلو ګټې محترم ښوونکي د زده کوونکي توجه ځان ته واړوي او د زده کوونکو لپاره له جـانبي عنـاوینو پـه ګټـې اخیستنې سره درس تشریح کوي او د اړتیا په صورت کې پرځینو ټکو باندې ډېر ترکیز کوي وروسته له څـو زده کوونکو څخه غواړي چې هر یو په خپل نوبت سره یو سرلیک درس تشریح کړي. محترم ښوونکی صیب د حدیث شریف متن د تختې پرمخ ولیکي او له ممتاز شاګرد څخه وغواړي چې هغـه

[1] السنن الکبری للبیهقی ص ۲۰۳

۱۰دقیقې	ترجمه کړي او که شاګرد له مشکل سره مخامخ کېږي له هغه سره مرسته وکړي. **خلاصه:** دغه درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي: – ملائکې د خدایﷻ له نوراني او لطیفو مخلوقاتو څخه عبارت دي چې د الله له اوامــرو څخــه هېڅکلــه سرغړونه نه کوي. – ملائکې له نور څخه پیدا شوې او په سترګو نه لیدل کېږي – ملائکې له هر ډول ګناه څخه پاکې دي او په ډول چې وغواړي ځان بدلولای شي – په ملائکو باندې ایمان لرل فرض دي او د هغوی له وجود څخه منکر کافر دی – ملائکې خدای ته نژدې دي او خارق العاده کارونه ترسره کوي. مقربې ملائکې عبارت دي له جبرائیل، میکائیل، اسرافیل، عزرائیل، کرام الکاتبین، نکیره اومنکره څخه. **ارزونه:** محترم ښوونکی د درس د زده کړې لپاره د درسي کتاب له پوښتنو له لارې زده کوونکي ارزیابي کړي.
۵دقیقې	**کورنۍ دنده:** ښوونکی باید زده کوونکي په هغه کورنۍ دنده مکلف کړي، چې په درسي کتاب کې راغلې ده.

د حدیث شریف برخه

يولسم لوست:

سرليک: **داحاديثو اهميت**

مخ: ۳۵

وخت: دوه درسی ساعتونه

موخې: بايد زده کوونکي:

۱- د درس متن سم ولولي.

۲- د حديث ارزښت او فضيلتونه درک کړي.

۳- د درس مفهوم زده کړي.

۴- د حديث له مضمون سره ځانګړې علاقه پيدا کړي.

لازمي ښوونه:

- په اسلام کې څلور اصله دي، چې ټول احکام او اسلامي فرامين پر هغو ولاړ دي.

: کتاب الله (قرآنکريم)، احاديث او سنت نبوی ﷺ، د امت اجماع او قياس.

د اسلام په اساساتو کې دويمه مرجع او اصل د رسول الله ﷺ حديث او سنت دي، چې پيروي يې په هر بالغ، عاقل مسلمان لازم دي.

نبوي احاديث په حقيقت کې د قرآنکريم تفصيل او تفسير دی، چې تأئيد د دې موضوع ډېر آياتونه وجود لري. رسول الله ﷺ په خپله د قرآنکريم يو روښانه ممثل و لکه څنګه، چې عائشې رضی الله عنها څخه دهغه د اخلاقو پوښتنه وشوه هغې وفرمايل: درسول الله ﷺ اخلاق قرآن و.

د رسول الله ﷺ احاديث يوه نوع وحي بلل کيږي، چې الله جَلَّ جَلَالُهُ به درسول الله ﷺ ته الهام کاوه. لکه څنګه چې د قرآني آياتونو پيروي او پابندي لازمه ده همدا شان د مبارکو احاديثو ضروري ده. لکه څنګه، چې الله کريم د النساء سورت په ۸۰ آيت کې فرمايي: (مَن يُّطِعِ الرّسُولَ فَقد اَطَاعَ الله وَمَن تَولّی فَمَا أرسلنَکَ عَليهِم حَفِيظاً)

ژباړه: چاچې دپيغمبر اطاعت وکړ هغه په اصل کې د خدای اطاعت وکړ او چا چې مخ واړوه، نو په هرصورت موږ پر دې خلکو ته د څارونکي او ساتونکي په توګه نه يې لېږلی. همدارنګه الله متعال پر دې اړه فرمايي: (يَاَيُّهَاالّذِينَ آمَنُوا لاتَرفَعُوا أصواتَکُم فَوقَ صَوتَ النّبِيِّ وَلا تَجهَرُوا لهُ بِالقَولِ کَجَهرِبعضِکُم لِبَعضٍ أن تَحبَط أعمَالُکُم وَأنتُم لا تَشعُرُون) (سورة الحجرات (۲)

ژباړه: ای مؤمنانو خپل اواز دپيغمبر له اواز نه مه پورته کوئ او مه له پيغمبر ﷺ سره په لوړ غږ خبرې کوئ لکه چې پخپلو مينځو کې يوله بل سره په لوړ غږ خبرې کوئ هسې نه چې ټول عملونه بابېزه شي او تاسې خبر هم ونه اوسی.

- کله چې د رسول الله ﷺ حديث لوستل کېږي، نو اورېدل يې پرمسلمانانو مستحب دي. بايد په مقابل کې يې داسې ادب مرعات کړي ګويا رسول الله ﷺ حضور لري او حديث فرمايي. ([1])

- د امت علماوو او محدثينو د موضوع اهميت درک کړی و، چې پر قلم يې لاس پورې کړ او په زرګونو احاديث يې را ټول کړل. چې د نمونې په توګه د ځينو مشهورو کتابونو ذکر کوو: سم بخاری، سم مسلم، سنن ابوداود، ترمذی، النسائی، ابن ماجه، مؤطا، مسند امام احمد حنبل، البيهقی، او داسې نورو محدثينو کرامو احاديث په اعتبار د را يانو په څو قسمه تقسيم کړل:متواتر، مشهور واحاد سم، حسن او داسې نور.

۱ـــ متواتر حديث هغه ته ويل کيږي، چې د راويانو تعداد يې دومره زيات وي، چې په دروغو ويلو يې متهم کېدل غير ممکن وي. متواتر حديث خاص شروط لري دمثال په توګه دراويانو تعداد به يې زيات وي او په دروغو ويلو به يې متهم کېدل غيرممکن وي همدارنګه روايان به په ټولو مرحلو کې د تواتر له حد څخه کم نوي.

---

[1] تفسير کابلی – جلد ششم

۲ــ مشهور حدیث هغه ته ویل کیږي، چې د اصحابو کرامو په زمانه کې یې روات کم وي اما د تابعینو په زمانه کې یې شهرت میندلی وي او روات یې هغه حد ته رسیدلي وي، چې صفات یې په دروغو ویلو غیر ممکن وي. محدثین هغو اشخاصو ته ویل کیږي، چې په حدیثو باندې روایتاً اودرایتاً کامل فهم ولري او په عین حال کې په تدریس د مسند حدیث مصروف وي.

۳ــ آحاد حدیث هغه ته ویل کیږي، چې روایت یې یو یا دوو اویا زیاتو کړی وي اما د مشهور حدیث درجې ته نوي رسیدلی.

۴– مرسل حدیث هغه دی، چې سلسله دروایت یې تابعینو کرامو رحمة الله علیهم ته رسیدلې وي.

۵– موقوف حدیث هغه حدیث ته ویل کیږي، چې سلسله د روایت یې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته رسیدلې وي او مرفوع حدیث هغه دی، چې سلسله د روایت یې پخپله رسول اللهﷺ ته رسیدلې وي.

د صحابي تعریف: صحابي هغه چاته ویل کیږي، هغه رسول اللهﷺ لیدلی وي اوایمان یې پرې راوړي وي او هم په ایمان کې له دنیا څخه تللی وي.

تابعي هغه مؤمن چاته ویل کیږي، چې یو له اصحابو کرامو رضی الله عنهم یې لیدلی وي او په ایمان له دنیا څخه رحلت کړی وي.

رسول اللهﷺ اهمیت او فضیلت د حدیث رسولو نورو خلکو ته او هم وعید عذاب پر هغو خلکو چې دروغ او جعلي حدیث بیانوي فرمایي:

(عَن عَبدِالله إبن عَمرو قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ بَلِّغُوعَنِي وَلَوآيَةً وَحَدِّثُوا عَن بَنِي إسرَائيل وَلا حَرَجَ وَمَن كَذَّبَ عَلَيّ مُتَعَمِّداً فلِيَتَبَوَّا مَعقَدَهُ مِنِ النّار) {رواه البخاری}.

له عبد الله بن عمروؓ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي: ورسوئ له ما څخه اګر که یو آیت هم وي (مراد احادیث دي) او حکایت کوئ د بني اسرائیلو څخه په دې کې ګناه نشته او چاچې پرما دروغ وتړل، نو هغه دې په دوزخ کې د ځان لپاره ځای تیار کړي.

کلیمومعناوې: (تحقیق – څیړنه) (روڼ – روښانه) (خفی – پټ) (منوط – تړلی)

(مثابه – مثال په څیر) (تمسک – منګول لګول)

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي.

مرستندیه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر.......

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه ۲۵دقیقې ددرس وړاندې کول	ښاغلی ښوونکی صاحب ټولګي ته د دا خلیدو په وخت کې السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وایي، پوښتنه کوي، حاضري اخلي او د ټولګی نظم برابروي او د حدیث شریف په اهمیت او فضیلت باندې زده کوونکو ته مختصر معلومات ورکوي. ښوونکي صاحب زده کوونکو ته هم وخت ورکوي ترڅو زده کوونکي هم د حدیث شریف په اهمیت باندې څرګندونې وکړي او د زده کوونکو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي او بعضې ځوابونه یې اصلاح کوي. ښوونکي صاحب دا پوښتنه هم کوي، چې د قرآنکریم څخه وروسته مهم مصدر او مرجع په اسلام کې څه شی دي؟ ښوونکی صاحب د درس سرلیک په یو زده کوونکي په تخته لیکي. ښوونکی صاحب له دوو زده کوونکو څخه غواړي، چې یو جانبي عناوین ولولي او دوهم یې په تخته ولیکي: – د پیغمبرﷺ دخبرو پیروي کول. – حدیث د قرآنکریم تفسیر دی. – حدیث شریف د اسلام دوهم مصدر دی. ښوونکی صاحب زده کوونکو ته دنده ورکوي، ترڅو درس ټیټ آواز ولولي او که کوم مشکل ورته پیدا

کیږي هغه دځان سره ولیکي. پخپله په همدغه وخت کې تحقیق، روښانه، پټ، منوط، مثابه او تمسک په تخته ولیکي. ښوونکی صاحب یو له زده کوونکو څخه غواړي، ترڅو تختې مخ ته راشي او دا کلیمې معنا کـــړي، کــه نوموړي زده کوونکی د کلیمو په معناکې ستونزه درلوده ښوونکی صاحب د ورسره مرسته وکړي. ښوونکی صاحب د عناوینوڅخه په استفادې سره درس زده کوونکوته تشریح کړي او په بعضومهمو نکـــاتو ترکیز وکړي. پس له زده کوونکو څخه غواړي، ترڅو هریو جانبي سرلیک توضیح او تشریح کړي. ښوونکی صاحب زده کوونکي په څو مناسبو ګروپونو تقسیم کړي بیا د هرګـــروپ ســـرګروپ وټـــاکي هغوی ته دنده ورکوي، ترڅو د حدیث په اهمیت بحث او خبرې وکړي او خلاصه د بحث د سرګروپ په واسطه د کاغذ په مخ و لیکي. پخپله د ټولګي نظم وساتي کله، چې ضرورت وي، نو د ګروپونو تـــرمنځ د اختلاف په وخت کې د مداخله کوي. **ارزونه:** ښاغلی ښوونکی د خپل اطمنان په خاطر چې درس یاد دی او کنه سوالونو په ذریعه ارزونه وکړي. **خلاصه:**	
دا درس په لاندو نکاتو خلاص کیږي. ۱- حدیث عبارت له اقوال، افعال او تقریرات د پیغمبرﷺ څخه دی. تقریر هغه عمل ته ویل کیږي، چې د رسول اللهﷺ په وړاندې شوی وي او رسول اللهﷺ د سکوت په ذریعه هغه خوښ کړی وي او دهغه څخه یې نهي نوي فرمایلي. ۲- وحي په دوه قسمه ده: وحي جلي چې عبارت د قرآنکریم څخه ده. دویم وحي خفي چې عبـــارت لـــه احادیثو څخه ګڼل کیږي. ۳- پیروي د پیغمبرﷺ د دستوراتو څخه په مثال د پیروی د فرامینو د الله جل جلاله څخه دي. ۴- حدیث شریف په حقیقت کې تفصیل او تفسیر دقرآنکریم دی. ۵- حدیث شریف دویمه مرجع او مصدر د اسلام دی. **کورنۍ دنده:**	۵ دقیقې
ښوونکی صاحب د زده کوونکوته دنده ورکړي، ترڅو دحدیث شریف په اهمیت باندې یوه د شپږو کرښو مقاله ولیکي.	۱۰دقیقې

دولسم لوست:

سرلیک: تدبیر په کارونو کې

مخ: ۳۹

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱– د حدیث شریف نص او متن د درس سم ولوستلی شي.

۲– د حدیث شریف ژباړه سمه ولولي.

۳– د حدیث شریف دکلیمو په معناوو وپوهیږي.

۴– په خپل ژوند کې د حدیث شریف له ګټو څخه استفاده ولوستلی شي.

لازمي ښوونه:

دا یو څرګند حقیقت دی، چې د اسلام په لمن کې ټولې ښګنې، کامیابی او د دارینو سعادت نغښتی دی.

نو کولای شو، چې ووایو په اسلامي کارونو کې د فکر مصدر تدبیر دی. اصحابو کرامو رضی الله عنهم، چې له اسلام څخه یې پوره درک درلود، نوکله به چې مشکل ورته پیدا شو د حل لپاره به یې رسول اللهﷺ ته مراجعه کوله، ځکه هغه د امت لپاره په ټولو اړخونو کې ژوندۍ مرجع و.نن ورځ د مسلمانانو په منځ کې د رسول اللهﷺ با ارزښته لارښوونې د یو اصل او قانون په شکل برقرارې دي.

نو باید مسلمانان په ټولو چارو کې د رسول اللهﷺ سیرت د ژوند سر مشق وګرځوي او د لارښونو څخه یې پیروي وکړي، چې په پیروی کې یې د دنیا او اخرت نیکمرغی دي.

د رسول اللهﷺ د تدبیرونو څخه یوه د نمونې په ځیر بیانوو: د خدای رسول د احزابو غزوه و خندوله، چې په حقیقت کې دا یو تدبیر و، چې د دوښمن د شکست سبب وګرځیده، ځکه د ژمي موسم په رارسیدو و او دوښمن د یخنۍ په مقابل کې هیڅ تیاری نه درلود، همدارنګه د غذایي موادو اکمالات یې د لشکر لپاره هم ګران وو د هرې ورځې په تیریدو سره د دوی په خپل منځ کې مختلفې ډلې جوړې دې بې اعتمادي پیدا کیدله اودوی دشکست سره مخ شول مسلمانان کامیاب شول.

دځینوکلمو معنا:(خزرج – د قبیلې نوم دی د مدینې خلک وو) (نهفته – پټ) (انحراف – بېلاري) (نصایح –د نصیحت جمع ده) (اهل فن – کار پوه) (تدبیر– حکمت، سنجش) (عزم راسخ – د محکم نیت اراده) (مهیا – آماده)

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي.

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر ....

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د تیر درس ارزونه د مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته په څو سوالونو پیل کړي. د مثال په توګه کولای شي ووايي: په اسلام کې څو څیزونه اصل او مصدردي؟ ښاغلی ښوونکی د ځوابونو د اوریدلو څخه وروسته د نوي درس سرلیک په تخته ولیکي. ښاغلی ښوونکی د زده کوونکو ته د نوي درس په هکله مختصر معلومات ورکړي. ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته هدایت ورکوي، ترڅو درس په چوپتیا سره ولولي که کوم سوال یا مشکل پیدا کیږي، نو دځان سره د ولیکي. او په خپله دا کلمې دټولګي په تخته ولیکي: خزرج، نهفته، انحراف، نصایح، اهل فن، تدبیر، اومهیا. ښاغلی ښوونکی د وروسته د مطالعې څخه که کوم سوال زده کوونکو ته پیداشوی و حل کړي. ښاغلی ښوونکی یو له زده کوونکو څخه غواړي، چې نوموړې کلیمې معنا او ولیکي.
۲۵دقیقې دلوست وړاندې کول	ښاغلی ښوونکی د حدیث شریف نص په یو زده کوونکي باندې په تخته لیکي. بیا له زده کوونکو پوښتنه کوي چې کولای شي حدیث شریف د ذهن څخه معنا کړي. ښاغلی ښوونکي یو له زده کوونکو څخه غواړي، ترڅولاندې جانبي عناوین په تخته ولیکي: – د تدبیر غوښتنې. – تدبیرد کامیابی لامل. – د کار دجریان پلټنه او ارزونه پلي کول یې په موخو باندې. ښاغلی ښوونکی د جانبي عناوینو په استفادې سره زده کوونکو ته درس تشریح کوي او د ضرورت په وخت کې په بعضو اساسي نکاتو زیات ترکیز کوي. ښاغلی ښوونکی له دریو زده کوونکو غواړي، څوهریو یې د درس جانبي سرلیک تشریح کړي. ښاغلی ښوونکی زده کوونکي په دوه ګروپونو تقسیموي او هغوي ته دنده ورکوي چې دیوګروپ کسان له بل ګروپ څخه په نوبت درس په هکله پوښتنې وکړي. ښاغلی ښوونکی د هر ګروپ ځوابونه اوري او دځان سره یې لیکي. ښاغلی ښوونکی وروسته له دې فعالیت څخه صحیح ځواب ویونکي تقدیروي او غلط ځوابونه اصلاح کوي.
۵دقیقې	**ارزونه:** ښاغلی ښوونکی د خپل اطمنان لپاره چې درس یاد دی او کنه، زده کوونکي د درسي کتاب په وسیله ارزونه کوي. **خلاصه:** دا درس په لاندونکاتو خلاصه کیږي: ۱– انسان باید د هرکار په اخر کې تدبر وکړي. ۲– مسلمان باید د آخرت اجرته د دونیا پر نامشروع ګټو ترجیح ورکړي. ۳– اسلام د ژوند په ټولو چارو کې د خپلو پیروانو ګټه او ښېګنه په نظر کې نیولې ده. ۴– انسان باید په ټولو چارو کې خپل مسؤ لیتونه ترڅیرنې لاندې ونیسي. ۵–تدبیر او غور کول د انسان بریالي توب او نیکمرغۍ لامل ګرځي. ۶– د بنده تدبیر باید الهي توکل سره مل او تړلی وي.
۱۰دقیقې	**کورنۍ دنده:** ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته د درسي کتاب نه کورنۍ دنده ورکوي. او دوی ته امر کوي، چې دکارونو دتدبیر په هکله یو پنځه کرښیزه مقاله ولیکي.

دیارلسم لوست:

سرلیک: د صلحې ارزښت او د خلکو ترمنځ روغه

مخ: ۴۳

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱– د مبارک حدیث ترجمه په سمه توګه وپوهیږي.

۲– د صلحې او پخلاینې ارزښت درک کړای شي.

۳– د حدیث په حکمت وپوهیږي.

۴– د صلحې د ارزښت په هکله خبرې وکولای شي.

اضافي معلومات:

– د اسلام دین د صلحې او پخلاینې دین دی. چې د تل لپاره خپل پیروان صلحې او ورولۍ ته را بولي او تشویقوي یې. الله تعالی د النسآء سورت ۱۲۸مبارک آیت کې فرمايي: (وَالصّلحُ خَیرٌ) ژباړه: صلحه غوره ده. که څه هم د مبارک آیت دغه برخه خاوند او میرمنې ترمنځ د صلحې او پخلاینې په هکله ده.مګر نه یواځې پدې هکله بلکې په ټول چارو د ژوند کې صلحه غوره ده، خو باید د اسلام په چوکاټ کې وي او مسلمان ته ضرر ونه رسیږي. مسلمان باید کفارو ته صلحې وړاندیز ونکړي، بلکې که د دوی لخوا صلحې وړاندیز وشي، نو د اسلامي ټولنې دښېګڼو او مصلحتونو د تضمین په ترڅ کې ومنل شي.

لکه چې رسول اللهﷺ د هجرت په شپږم کال د مکې دمشرکینو وړاندیز د صلحې په هکله قبول کړ. او د دوی سره په دې ماده باندې صلحه وکړه، چې دا صلحه د اسلام په تاریخ کې د حدیبیې د صلحې په نامه مشهوره ده.

– صلحه په اسلام کې د ځانګړي مقام څخه برخمنه ده، چې رعایت کول یې په مسلمانانو باندې یوه دیني وجیبه ده، ځکه الله تعالی په هغې امر کړی او د مسلمانانو نه غواړي کله چې تاسو د دوو تنو یا دوو قومونو یا دوو ډلو مؤمنانو ترمنځ وینی باید د دوی ترمنځ صلحه او پخلاینه را ولې. لکه څنګه چې دحجرات په مبارک سورت کې ورځنې یادونه شوې ده.

(وإن طآئِفتان مِن المُؤمِنینَ اقتَتلوُا فَاصّلِحوُا بَینَهُمَا فَإن بَغَت إحدَاهُمَا عَلی الأُخرَی فَقاتِلوُاالّتِي تَبغِي حَتی تَفِيءَ إلی أمـرِالله فَـإن فاءَت فَاصّلِحوُا بَینَهُمَا بِالعَدلِ وَأقسِطُوا إنّ اللهَ یُحِبُ المُقسطِین) (حجرات (۹).

ژباړه: او که له مؤمنانو څخه دوه ډلې پخپلو مینځو کې په جنګ شي نو د هغو په مینځ کې صلح وکړئ بیا که له هغو نه یوه ډله پر بلې تیری وکړي نو له تیري کوونکي سره و جنګیږئ، تر دې پورې چې هغوی د الله د حکم خواته راوګرځي بیا کله چې هغوی را وګرځي نو د هغوی په مینځ کې په عدل سره سوله وکړئ، او انصاف وکړئ،چې الله انصاف کوونکي خوښوي.

همدارنګه الله تعالی په وروستي آیت کې فرمايي: (إنَّمَا المُؤمِنینَ إخوَةٌ فَاصّلِحوُا بَینَ أخَوَیکُم وَاتَّقوُا اللهَ لَعَلّکُم تُرحَمُون)

ژباړه: مؤمنان خویو دبل سره وروڼه وي، نو د خپلو وروڼو په مینځ کې مناسبات سم کړئ او له الله نه وویریږئ هیله ده چې پر تاسې رحم وکړای شي.

– د یوې اسلامي ټولنې ښیرازي په اتحاد، یوالي، صلحې او پخلاینې پورې اړه لري. یعنې یوه اسلامي ټولنه هغه وخت د بریالیتوب لوړې څوکې ته رسیدای شي، چې د وګړو ترمنځ یې خپل منځي ستونزې شتون ونه لري. او د دوی تر مابین صلحه برقراره وي. نن ورځ چې کوم کسان د اسلام د عدالت چغې وهي که دوی یوازې په دوو پورتنیو مبارکو آیتونه عمل وکړي نو زموږ هیواد افغانستان به د دې ټولو ستونزو او اختلافونو څخه نجات ومومي.

رسول اللهﷺ هم د صلحې د ارزښت په هکله قمتي لارښوني کړې دي، حتی را په ګوته کړي یې دي: که چیرې یو نفر صلحې او جوړښت په خاطر دروغ وايي، نو باوري توګه دروغجن ندی.

له دي حديث څخه د موضوع ارزښت راوزي يعني چې دروغ ويل لويه ګناه ده خو دصلحې په نيت روا کيږي لکه چې فرمايي:(عَن اُم كلثوم بنت عُقبةَ بن ابى مُعيط قالت سَمِعتُ رَسُولَ الله ﷺ يَقولُ ليسَ الكَذاب الذِى يُصلِح بَين النّاس وَيقولُ خَيراً وَيُمنى خيراً) {متفق عليه}

ژباړه: له حضرت ام كثوم بنت عقبه بن ابى معيط رضى الله عنها څخه روايت دى چې له رسول الله ﷺ څخه مې واوريدل چې مايل يي: څوک چې دخلکو ترمنځ صحله کوي او د ښېګڼې خبرې کوي او ښې خبرې نورو ته رسوي دروغجن ندی.

همدارنګه فرمايي: (عَن اَسمآء بنت يَزيد قالت قالَ رَسُولُ الله ﷺ لا يَحِلَ الكِذ بُ إلاّ فِى ثلث كَذبَ الرّجـلُ إمراتِـه لِيرضِيهَا وَالكِذبَ فِى الحَربِ وَالكِذبَ لِيُصلِح بَينَ النّاس) {رواه احمد والترمذى}

ژباړه: له حضرت اسماء بنت يزيد رضى الله عنها روايت دى، چې رسول الله ﷺ و فرمايل: دروغ ويل روا ندي مګر په دريو ځايونو کې: د خپلې ميرمنې د رضايت له کبله، دروغ ويل په جنګ کې او د خلکو ترمنځ د صلحې لپاره.

دځينوکلمو معنا:(ابودرداء: د درداء د پلار: د اسم كنيه ده) (خلل: سورى اوتيت والى)

د تدريس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضيحي او تشريحي.

مرستندويه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشير.....

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې سريزه	ښاغلى ښوونکی وروسته له مقدماتي موضوعاتو څخه د څوسوالونو په طرح کولو سره د تيـر شـوي درس ارزونه کوي. د مثال په توګه کولای شي دغه دوه کليمې حديث(فأمض – فأمسک) معنا کړي. ښاغلى ښوونکی وروسته د اوريدلو د صحي ځوابونو د صلحې او پخلاينې په هکله زده کوونکو څو لحظې خبرې کوي او له دوی څخه غواړي څو ژوندي مثالونه د نا امنی، خپل مينځي جنګونو او قومي اختلافاتو په هکله ووايي.
۲۵دقيقې د درس تقديم	ښاغلى ښوونکی د درس سرليک په يو زده کوونکي باندې د تختې پرمخ ليکي. ښاغلى ښوونکی زده کوونکو ته لارښونه کوي، چې درس د کتاب له مخې په خاموشانه ډول ولولي. او په خپله د ابودرداء او خلل کليمې په تخته ليکي. وروسته د ليکلو د کليمو او د درس د مطالعې څخه که کوم سوال يا مشکل وجـود ولـري، نـو ښـاغلى ښوونکی به هغه حل کوي له يوه داسې زده کوونکي څخه غواړي، چې هغه په فعاليتونو کې کم سهم اخلـي، ترڅو کليمې معنا کړي. ښاغلى ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي، چې هر يو يې يو پارا ګراف درس په نوبت سره ولـولي. که کوم مشکل په تلفظ د حديث شريف کې وي نو ښاغلى ښوونکی د هغه اصلاح کړي. ښاغلى ښوونکی يو له زده کوونکو څخه غواړي، چې لاندې جانبي عناوين پر تخته وليکي: – د صلحې ارزښت د اسلام له نظره. – صلحه وحدت مينځته راوړي. – ذات البيني اختلافونه لامل د دين ضايع کيدو کيږي. ښاغلى ښوونکی دجانبي عناوينو څخه په استفادې سره زده کوونکو ته درس تشريح او توضيح کوي. ښاغلى ښوونکی پر بعضو مهمو کليدي نکتو زيات ترکيز کوي. ښاغلى ښوونکی د څو زده کوونکو په مرسته درس تشريح کوي او هر يو ته دنده ورکـوي، چـې جـانبي سرليک خپلو ټولګيوالو ته تشريح کړي. ښاغلى ښوونکی وروسته د ګروپونو نماينده ګانو څخه په څلورو مناسبو ګروپونو ويشي هغـوی تـه دنـده ورکوي چې هرګروپ د نماينده په شمول د صلحې او پخلاينې ارزښت په هکله بحث وکړي.

	د هرګروپ نماینده د بحث نتیجه د کاغذ په مخ لیکي. ښاغلی ښوونکی په همدې حال کې ټولګی کنترولوي د امکان په صورت کې د هرګروپ سره اشتراک هم کوي.
۱۰دقیقې	**ارزونه:** ښاغلی ښوونکی د خپلې تسلی لپاره چې درس زده کړې زده کوونکي د درسي کتاب په وسیله ارزیابي کوي. **خلاصه:** دا درس په لاندې ټکوکې خلاصه کیږي. ۱- د حدیث شریف راوي نوم یې عویمر دعامر زوی خزرج دقبیلې څخه و،اوپه ابودرداء یې شهرت درلـــود .ډیر لوی فقیه صحابي ؤ. پیغمبرﷺ ورته دحکیم الامة لقب ورکړی ؤ. کله چې مسلمانانو مدینې منورې تـــه هجرت وکړ نو پیغمبرﷺ دده اود سلمان فارسي رضی الله عنهما ترمنځ دمواخات (وروروګلوۍ) تړون وتاړه. په ټولو غزاګانو کې درسول اللهﷺ سره ملګری ؤ. حضرت عثمانؓ ددمشق قاضی مقرر کـــړی و. نومـــوړی دهجرت په(۳۲)کال دحضرت عثمان(رض) دخلافت په دور کې په دمشق کې وفات شو. ۲- صلحه او ورولي په اسلام کې خاص مقام لري. حتی له نفلي عباداتو څخه شمیرل کیږي. ۳- صلحه باعث د اتحاد، همغږۍ، کامیابۍ، رفا، امنیت او نیکمرغۍ ګرځي. ۴- ذات البیني اختلافونه لامل د زوال ګرځي او هم داسلام تیت پرکوالي کیږي. ۵- د نزاع د رفع کیدلو او صلحې د راتللو په خاطر دروغ ویل جواز لري.
۵ دقیقې	**کورنۍ دنده:** ښاغلی ښوونکي زده کوونکي په کورنۍ دنده ګماري او دوی ته دنده ورکوي، ترڅو د صلحې په ارزښـــت باندې یوه پنځه کرښیزه مقاله ولیکي.

څوارلسم لوست:

سرلیک: په کارونوکې اسانتیا

مخ: ۴۶

وخت: دوه درسی ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱ – د درس متن سم وویلای شي.

۲ – د حدیث شریف ترجمه وکولای شي.

۳ – د حدیث شریف پیغام درک کړي.

۴ – د اسلام په فرامینو او درستوراتو ملتزم وي.

د ښوونکي لپاره اضافي معلومات:

– اسلام یوازنی کامل د تحریف څخه پاک دین دی، چې د انسان د ژوند د مختلفو ابعادو لپاره پکې ځای شته او ځواب ویونکی د ټولو مشکلاتو دبشریت لپاره دی. الله د هر امر په آخر کې د خپلو بندګانو د وس سره سم اسانتیاوې برابرې کړې دي. موږ هغه ټولې په سترګو ګورو الله تعالی د دې موضوع په اړه د حج په سورت کې آیت ۷۸ فرمایي: (وَمَا جَعَلَ عَلَیکُمْ فِی الدِینِ مِن حَرَج) ژباړه: او په دین کې یې پرتاسې څه تنګي نده راوستې.

مفسرین کرام لیکي: د اسلام په دین کې داسې حکم ندی وضع شوی، چې بشر هغه نشي کولی، بلکې په احکامو د دین کې رخصتونه او قسم قسم اسانتیاوې وجود لري. هوکې کله چې موږ په شرعي احکامو ته نظر کوو رخصت او سهولت په مخه رازي. د مثال په توګه د لمانځه قصر چې الله کریم فرمایي: (وَإذاضَربتمُ فِی الارضِ فَلیسَ عَلیکمُ جُناحٌ أن تَقصُرُوا مِن الصّلوةِ الایه) (سورت النساء آیت ۱۰۱)

ژباړه: او کله چې تاسې په سفر ووتلی نو څه باک نشته که په لمانځه کې لنډوالی وکړی.

همدارنګه د اسلام مبارک دین هغو کسانو ته، چې مریضان وي او یا په سفر کې وي د رمضان د میاشتې روژې افطار جواز ورکړی. الله متعال فرمایي: (فَمَن کانَ مِنکمُ مَریضاً أوعَلی سَفرٍ فَعِدَةٌ مِّن أیّامٍ اُخَر) ژباړه: کسیکه ازشما مریض ویا درسفر بود افطارکند وروزهای افطارشده خود را بشمارد بعد ازاینکه شفا یافت ویا از سفر برگشت روزه گیرد. همدارنګه نور آیتونه هم شته چې انسان یې د خپل وس سره سم مکلف کړی دی. د مثال په ډول الله کریم په اخر دبقرې سورت کې فرمایي: (لایکلف الله نفساً إلاّ وسعها) (آیت ۲۸۶) ژباړه: الله هېڅ نفس ته دهغه له وسې نه پورته مسؤلیت نه متوجه کوي.

– نو که موږ دېته دقیق متوجه شو دا نتیجه په لاس رازي، چې ټول حکمونه د اسلام د بشر نفع او موافق د دوی توان سره دي او هیڅ زحمت پکې ځای نلري. په همدې خاطر دا دین ټول بشریت لپاره او کامل د ټولو تیرو شوو ادیانو څخه. لکه څنګه، چې نورو اسماني دینونو د اسلام په پرتله ډېر مشکلات درلودل لکه لمونځ، روژه او داسې نور د مثال په توګه: د نورو دینونو پیروانو به چې کله د رمضان په شپه ویده کیدل نو پر دوی باندې خوراک، څښاک او جماع حق نه درلود، سره لدې، چې شپه به پاتې وه.

او یا داچې په هرځای کې یې د ځمکې په سر لمونځ نشوای کولی. او یا که لباسونه به په نجاست ملوس شول، په مینځلو نه پاکیدل بلکې هغه ځای به یې پرې کولو. اما په اسلام کې دا سهولتونه زیات دي. که یو څوک مریض وي، نو کولای شي لمونځ په ناسته وکوي او که کیناستلای نشي نو په ملاسته د وکړي او که په ملاسته هم نشي کولای نو دسر په اشاره د وکړي. او یا که اوبه نوي نو دپاکې خاورې څخه د استفاده وکړي یعنې تیمم د ووهي. او یاکه کومه ښځه د خپل مخصوص فطري حالاتوسره مخ شي، نوکولای شي د ډېرو سهولتونو وجود لري، چې حتی لمونځ او روژه د رمضان خوړل ورته جایز دي.

رسول اللهﷺ په دې موضوع کې(په دین کې اساني) ډېر احادیث فرمایلي، چې څو نمونې یې ذکر کوو: (عَن عَائشة رضی الله عنها قالت قالَ رَسُولُ الله ﷺ إنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُ الرِفقَ فِى الاَمرِكُلِهِ) ([1])

له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي: په تحقیق سره الله نرم دی په ټولو کارونو کې نرمي خوښوي.

همدارنګه فرمایي: (قالَ رَسُولُ اللهﷺ إذا أرادَ الله بِقَومِ خَيراً دَخَلَ عَلِيهِم الرِفقُ)

ژباړه: رسول الله ﷺپه دې حدیث کې فرمایي: کله چې الله تعالی یو قوم ته د خیرا اراده وکړي، نو په مابین کې یې نرموالی د زړونو او نرم خویونو راولي. یعنی په مابین کې نرمي روا جېږي، چې د هغې په اثر باندې هغوی ټول د یو له بل سره مشفق او مهربان وي.نفاق او اختلاف یې له مینځ ځي.

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي.

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر......

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښاغلی ښوونکی وروسته له مقدماتي موضوعاتو څخه د څوسوالونو په طرح کولو سره د تیر شوي درس ارزونه کوي. د مثال په توګه کولای شي ووایي: په کومو حالاتو کې دروغ ویل جواز لري؟ ښاغلی ښوونکی وروسته د اوریدلو د صحي ځوابونو څخه زده کوونکو ته لارښوونه کوي، چې بحث وکوي، هغه کومې اسانه لارې چارې دي د هغې په وسیله سره خپل کارونه سرته ورسوي او ښاغلی ښوونکی مهم ټکي د تختې پرمخ لیکي.
۲۵دقیقې دلوست وړاندې کول	ښاغلی ښوونکی د ټولګې د آخرڅخه له یو زده کوونکي نه پوښتنه کوي، چې آیا انسان په هغو کارونو مکلف دی، چې طاقت یې نه لري؟ ښاغلی ښوونکی د درس سرلیک په یو زده کوونکي باندې د تختې پرمخ لیکي. ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته لارښونه کوي، چې درس د کتاب له مخې په خاموشانه ډول ولولي. که کوم سوال پیدا کیږي دځان سره یې د ولیکي او عین حال کې د پخپله لاندې جانبي عناین د تختې پر مخ ولیکي: – اسلام د اسانی دین دی. – په ژوند کې د پیغمبرﷺ پیروي. – د حلم مقام، عفوه او صبر. – د احکامو دبې حرمتی څخه ځان ساتل. ښاغلی ښوونکی له یو زده کوونکي څخه غواړي، چې د مبارک حدیث متن ترجمه او دکتاب له مخې ولولي. بیا له بل زده کوونکي څخه غواړي، چې راوي د حدیث خپلو ټولګیوالو ته په شفاهي توګه معرفي کړي. ښاغلی ښوونکی د جانبي عناوینو څخه په استفادې سره زده کوونکو ته درس تشریح کوي او د تشریح په جریان کې په ځینو مهمو ټکو ترکیز کوي. ښاغلی ښوونکی څو زده کوونکو نه، چې دتشریح نوبت یې رسیدلی غواړي، چې هرنفر یو جانبي سرلیک د خپلو ټولګیوالو په وړاندې تشریح کړي.

[1]– متفق علیه

ښاغلی ښوونکی زده کوونکي په مناسبوګروپونو ویشي ورته دنده ورکوي، څود حکمت په هکله او په کارونو کې سهولت خپلو منځونو کې بحث وکړي سرګروپان هم هغه برسي کوي نتیجه د ټولګي په وړاندې بیانوي او خپله ښوونکی د ټولکي نظم او کنترول نیسي. **ارزونه:** ښاغلی ښوونکی د خپل اطمینان په خاطر زده کوونکي د درسي کتاب په وسیله ارزوي.	
خلاصه: دا درس په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي. ۱- د اسلام دین په ټولو امورو کې سهولت او آساني په نظرکې نیولې ده. ۲- رسول اللهﷺ به کله چې په دوو کارونو کې مخیر کیده، نو اسانه به یې غوره کاوه . ۳- په کارونو کې د اسانه کار اختیارول غوره دي په دې شرط، چې ګناه پکې نوي. ۴- عفوه د الله په وړاندې غوره ده او کوم خوند چې په عفوه کې دی په غچ اخیستلو کې نشته. ۵- د الهي احکامو درناوی د ایمان څخه سرچینه اخیستې ده او د هغو بې عزتي لویه ګناه ده آن تردې چې کفرته رسیږي.	۱۰دقیقې
کورنۍ دنده: ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي، څو درس ټول نصوص د حدیث شریف په شمول سره د ترجمې په خپلو کتابچوکې ولیکي.	۵دقیقې

پنځلسم لوست:

سرلیک: دظلم مخنیوي

مخ: ۴۹

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د حدیث شریف متن سم ولوستلی شي.

۲- دحدیث شریف کلمې سمې زده کړای شي.

۳- د ظلم ډولونه وپیژندلای شي.

۴- له مظلوم سره د مرستې او کمک حس یې په ضمیرونو کې وده وکړي.

اضافي معلومات:

- ظلم په لغت کې د جفاپه معنا دی او په شرعي اصطلاح کې: (وَضع الشَی فِی غَیرِمَحلِهِ) یعنې له خپل ځای څخه غیر په بل ځای کې د یو شي ایښودلو ته وایي. یا په بل عبارت هرڅه چې د خپل حد نه تیری وکړي، ظلم ګڼل کیږي. ظلم په درې ډوله دی:

۱- د الله په حق کې ظلم یعنې د الله په ذات او صفاتوکې شریک پیدا کول او یا د الله له ذات نه انکار کول دي.
د اظلم د ښبنې وړ ندی، ځکه په دې کې د ایمان زوال دی. او داسې کسانو ته الله پاک په قرآن کې کافر ویلی دي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: (وَالکفِرُونَ هُمُ الظّلِمُونَ) ([1]) ژباړه: کافران همدوی ظالمان دي.
همدارنګه الله فرمایي: (إنّ الشّرکَ لَظُلمٌ عَظِیمٌ) لقمان ۱۳ ژباړه: یقینا شرک ډېرلوی ظلم دی.
کله چې هوښیار او دشعور خاوند انسان د الله دیواځیني ذات نه چې دیوې حجرې نه تر لمر پورې او ټول لیدونکي او نه لیدونکي مخلوقات د ده د حقانیت دلیل دي، انکار کوي، نو یقینا د لوی جرم مرتکب شوي او د ښبنې وړ نه دي. باید ووایو چې انسان اصلا په الله ظلم نه دي کړی، بلکې په خپل ځان ظلم کوي اوځان د دوزخ وړ ګرځوي. ددې موضوع د ثبوت لپاره الله داسې فرمایي: (وَمَا ظَلَمَهُمُ اللهُ وَلکِن کَانوُا أنفُسَهُم یَظلِمُونَ) ([2])
ژباړه: او دوی پر الله ظلم نه کړی، بلکې دوی پر خپلوځانونو ظلم کوونکي دي.

۲- ظلم پر خپل ځان: یعنې کله چې بنده د الله له حکمونو څخه سرغړونه کوي، حرامو ته مخه کوي او د شیطان له پیروي لاس کاږي، نو پدې صورت کې یې هم پرخپل ځان ظلم کړی او هم یې خپل خوږ ځان یې د عذاب وړ ګرځولی دی.

۳- د بندګانو په حق کې ظلم: یعنې په ناحقه د مسلمان وینې تویول، په آبرو یې تیری کول او مال یې غصب کول ښکاره او څرګند ظلم دی. اسلام خپل پیروان د ظلم او تیري نه په جدي توګه منعه کړي او ظلم یې پر دوی حرام کړی. د اسلام پیغمبرﷺ فرمایلي: (کُلّ مُسلِمٍ عَلی المُسلِم حَرامٌ دَمُه ُوَمَالهُ وَعرضُهُ) {رواه مسلم}.
ژباړه: دمسلمان هرڅه پربل مسلمان حرام دي وینه یې، مال یې او عزت یې.

[1] سوره بقره آیت ۲۵۳
[2] سوره النحل – آیت ۳۳

انسان باید همیشه د خپلو همجنسو په وړاندې ښېګڼه وکړي. د ظلم او تیري نه ځان وژغوري. الله تعالی ممکن لـــه خپـــل حق څخه ښښنه وکړي، خو د بنده حق نه ښښي او که موضوع آخرت ته پاتي شي یعنې ظالم د مظلوم حق په دنیـــا کـــې اداء نکړي، نو نیکی به یې ورځنې واخیستل شي، لکه چې رسول اللهﷺ فرمایي: (مَن کانَت لهُ مَظلِمَةٌ لاخِیهِ مِن عَرضِـــه أو شَـــئ فَلیَتحَللهُ مِنهُ الیَوم قَبلَ أن لا یَکُونَ دِیناروَلادَرهَم إن کانَ لهُ عَمل صَالح أخذمِنهُ بِقدرِمَظلِمَتهِ وَإن لَم یَکُن لهُ حَسَناتٌ اُخَذَ مِـــن سَیئات صَاحِبه فَحَمَل عَلیهِ) {رواه البخاری}

ژباړه: چاچې د خپل ورور په حق کې ظلم کړی وي، آبرو یې توی کړي وي او یا کوم بل شي، لکه: غیبت، کنځلې او یـــابې وینې بهولې وي او یابې مال ورځنې اخیستی وي، باید د هغه څخه ښښنه وغواړي او خپل ظلم نن ورځ په دنیـــا کـــې جبیـــره کړي، مخکې له دې چې نه له ده سره دینار اونه درهم وي، چې د قیامت په ورځ یې د ظلم بدله وګرځوي. دغیبت په هکلـــه توبه ایستل کافي دي که د ښښنې غوښتل ممکن نه وو اما د مال په غصبولو کې توبه کافي نده که موضوع آخرت ته پاته شوه یعنې که په دنیا کې اداء نشو.

که چیرې ظالم نیک عمل ولري، نو دخپل ظلم په کچه ورځنې اخیستل کیږي او که نیک عمل ونلري، نود مظلوم بدي پـــر ظالم اچول کیږي.

په حدیث کې راځي: (عَن إبن عُمر أن النَّبی ﷺ قالَ ألظُّلم ظُلُمات یَوم القِیمَة) {متفق علیه}

له ابن عمر څخه روایت دی چې نبي کریمﷺ فرمایلي: ظلم دقیامت په ورځ د تیارو لامل کیږي. (ظالم په هغه ورځ له هـــر اړخه تیارې په ځان کې را نغاړي اوله انوارو څخه محرومیږي)

دسیرت په کتابونو کې راغلي کله به چې رسول اللهﷺ د پخوانو ظالمانو په کلیو تیریده نو صحابه وو ته به یې فرمایل: له دې کلیو څخه عاجزي کوونکي او ژړیدونکي تیرشئ لکه څنګه، چې دابن عمر رضی الله عنهما په حدیث کې هم راځي. (عَن إبن عُمر أن النَّبی ﷺ لَمّامَرَّ بالحِجرِقالَ لا تَدخُلوا مَسَاکِنَ الذِینَ ظَلمُوا أنفُسَهُم إلاّ أن تَکُونُوا بَاکِینَ أن یُصِبَکُم مَا أصَابَهُم ثُم قَنَّعَ رَاسَهُ وَأسرَع حَتَّی إجتَازالوَادِی) {متفق علیه}

له حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی: کله چې نبي کریمﷺ د حجر له سیمې څخه (دصالحعليه السلام د قوم ثمودیانو ځمکه ده) تیریده او د تبوک دغزوې هوډ یې درلود، نو صحابه وو ته یې وفرمایل: د هغو کسانو ځایونو ته چې پـــر خپلو نفسونو یې ظلم کړی و(کفریې غوره کړی و او خپل پیغمبریې دروغجن ګڼلی و) مه داخلیږئ، مګـــر داچـــې تاســـې ژړیدونکي او عبرت اخیستونکي و اوسئ. له دې ځای په غفلت مه تیریږئ، څو تاسې په هغه څه اخته نشئ په کوم چـــې دوی اخته شوي وو. بیا رسول اللهﷺ خپل سر پټ کړ او په تیزی له صحابه وو سره له هغه دښتې تیرشو.

رسول اللهﷺ همیشه خپل یاران د مظلوم له ښیراوو څخه ژغورل لکه څنګه چې حضرت عليرضی الله عنه دا حدیث نقـــل کـــړی دی:
عَن عَلیٍّ قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ إیّاکَ وَدَعوَةَ المَظلُوم فَإنَّمَا یَسألَ الله تَعَالی حَقَّهُ وَإنَّ اللهَ لا یَمنَع ذَاحَقٍّ حَقَّهُ {رواه البیهقی}

ژباړه: د حضرت عليرضی الله عنه نه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: د مظلوم له ښیرا څخه ځان ژغوره، ځکه دی له الله څخـــه خپل حق غواړي او په باوري توګه الله تعالی له حق د خاوند نه خپل حق نه منع کوي.

او همدارنګه له ظالم سره د مرستې په هکله په عذاب کې راغلی چې حضرت اوس بن شرحبیلرضی الله عنه هغه روایت کړی دی. عَن أوسِ بن شُرحَبیل أنَّهُ سَمَع رَسُولَ الله ﷺ یَقولُ مَن مَشِیَ مَع ظَالِم لِیُقوِّیهُ وَهُوَیَعلَم أنَّهُ ظَالِم فَقد خَرَجَ مِنَ الاِسلاَم {رواه البیهقی}

ژباړه: له حضرت اوس بن شرحبیلؓ څخه روایت دی: بې شکه ده له رسول اللهﷺ څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: څوک چې له ظالم سره ملتیا او له هغه سره مرسته کوي څو هغه پیاوړی شي په داسې حال کې چې دی پرې پوهیږي چې ظالم دی، نو یقینا د اسلام له دایرې وتلی دی.

دځینوکلمو معنا:(ظلم: تیری) (ظالم:تیری کوونکی) (مظلوم: ظلم کړی شوی) (نزاع:اختلاف – دعوا) (مقدس: پاک، پاکیزه) (جاهلیت: داسلام څخه مخکې زمانه)

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر.....

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی له مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته د څو پوښتنو په طرح کولو سره د تیر شوي لوست ارزونه کوي. دبیلګې په توګه څوک کولای شي د حدیث د دغې برخې (مَا خُيِّرَبَينَ أمرَينِ قَطُّ) معنا د ټولګي په تخته ولیکي؟
۲۵دقیقې د لوست وړاندې کول	ښوونکی د ځوابونو له اوریدلو څخه وروسته د لوست په تخته لیکي او زده کوونکو ته ظلم تعریفوي. ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي، چې هر خپل ځان سره ظالم په دوو کرښو کې لیکلی معرفي کړي. ښوونکی د نمونې په ډول له څو زده کوونکو څخه غواړي، چې څه یې لیکلي، نورو زده کوونکو ته یې ولولي. ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه چې نسبتا یې پاملرنه لږه وي یو ښتنه کوي: هغه کومه بده ستونزه ده چې په هره وخت کې شتون لري او الله تعالی هغه حرامه کړې وي او عمل کوونکي یې ملعون کړي وي ؟ ښوونکی زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې لوست په پټه خوله ولولي او پخپله پدې وخت کې د ظلم، ظالم، مظلوم، نزاع، مقدس اوجاهلیت کلمې پر تخته لیکي. ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ لیکل شوې دي، پر زده‌کوونکو ژباړي، وروسته یوه زده‌کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنا سره ولولي. ښوونکی د زده‌کوونکو تیر وتنې سموي او له یو زده‌کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي، او په عین وخت کې له زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی یوه زده کوونکي ته لارښوونه کوي چې د لوست څنګیز سر لیکونه د تختې پر مخ ولیکي. ښاغلی ښوونکی له څنګیز سر لیکونو څخه په ګټه اخیستلو سره لوست تشریح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټینګار کوي. ښوونکی د لوست له توضیح څخه وروسته زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ لیکلې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی له دوو زده کوونکو څخه غواړي چې یو یې څنګیز سر لیکونه ولولي او بل یې پر تخته ولیکي: – د حدیث حکمت. – د ظالم لاس نیول ضروري دي. – له مظلومانو سره مرسته لازمي ده. – له ظالم سره مرسته یعنې څه؟ ښوونکی څنګیز سر لیکونه په یوه زده کوونکي د تختې له مخې په لوړ اواز لولي.

ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ لیکل شوې دي، پر زده‌کوونکو ژباړي وروسته یوه زده‌کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنا سره ولولي. ښوونکی د زده‌کوونکو تیر وتنې سموي، او له یو زده‌کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي، او په عین وخت کې له زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی یو زده کوونکی ته لارښوونه کوي چې د لوست څنګیز سر لیکونه د تختې پر مخ ولیکي. ښوونکی له څنګیز سر لیکونو څخه په ګټه اخیستلو سره لوست تشریح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټینګار کوي. ښوونکی د لوست له توضیح څخه وروسته زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ لیکلې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی زده‌کوونکي په څو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې د نامتو صحابه حضرت ابو هریرةؓ د شخصیت په اړه یو له بل سره بحث او خبرې وکړي. ښوونکی د ګروپونو د کار په وخت کې ټولګی کنترول او نظم برابروي او د اړتیا په صورت کې د ډلو په بحث کې ګډون کوي. ښاغلی ښوونکی له هر یې ډلې څخه غوښتنه کوي چې ځان ته یو مشر وټاکي او د بحث پایلې په یوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او د دوی مشر دې هغه کلمې د ټولګیوالو په وړاندې د ټولګي په مخ کې ولولي.	۱۰دقیقې
ارزونه: ښوونکی د بحث پایلې ارزوي. زده‌کوونکي خپلو تیر وتنو ته متوجه کوي او هڅوي یې. **لنډیز:** له دې لوست څخه لاندې نکتې لنډیز کیږي: ۱- باید مسلمان د ظالم لاس له ظلم څخه ونیسي چې دا پخپله له هغه سره مرسته ده. ۲- اسلامي دولت باید د مظلومانو احوال واخلي او له هغو څخه دفاع وکړي. ۳- ظلم د بد بختۍ او د الله د قهر لامل ګرځي. ۴- د ظالمانو یا مجرمانو مرسته چې حق یې نه وي په حقیقت کې د جاهلیت د له وخته سره تړاو لري.	
کورنۍ دنده: ښوونکی زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې حدیث شریف په کور کې ژباړې سره حفظ کړي .	۵دقیقې

شپاړلسم لوست:

سرليک: د غضب درملنه

مخ: ۵۲

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د حديث شريف متن سم ولوستلی شي.

۲- د حديث شريف موخه او غوښتنه درک کړلی شي.

۳- دحديث شريف کلمې سمې زده کړای شي.

۴- د قهر او غضب په هکله نورو ته خبرې وکړلای شي.

اضافي معلومات:

– قهر او غوسه يو فطري څيز دی، چې په ډېرو وختونوکې انسان ته راځي عقل يې ترتأثير لاندې راولي او پــه دې اســاس پرټول بدن باندې حکم کوونکی ګرځي. اما د دغه څيز اصلي تحريکوونکی شيطان ملعون دی. شيطان د غوسې پــه حالــت کې انسان زشت او ناروا کارونو ته را بولي. له غوسې او شيطان څخه د خلاصون ډېره ښه لاره اودس کول دي.

د اسلام دين تل خپل پيروان د اعصابو راحت ته رانغاړي او تشويق کوي يې. لکه څنګه چې الله عزوجل فرمايي: (وَسَــارِعوُا اِلی مَغفِرةٍ مِّن رِّبکمُ وَجَنّةٍ عَرضُهَا السّمَواتُ وَالارضُ اُعِدَت لِلمُتقِين*الّذِينَ يُنفِقُونَ فِی السَّرَآءِ وَالــضرّآءِ وَالکظِمِــينَ الغَــيظَ وَالعَافِينَ عَنِ النَّاس وَاللهُ يُحِبُ المُحسنِينَ) ۱۳۳ او۱۳۴ آل عمران سورت.

ژباړه: پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار دبښنې او د هغه د جنت خواته تللې ده چې هغــه لکــه د اســمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه له خدايه د وېرېدونکيو خلکو لپاره تيار کړای شويدی د هغو لپاره چــې دبــډايي او بېــوزلی پــه دواړو حالاتو کې مال مصرفوي، غوسه غوري او د نورو لنډ پاری ښښې داسې نېکان خلک د خدای ډېر خوښ دي.

– قهر او غوسه زيات ځايونه لري البته په بعضې ځايونو کې د تأييد وړ وي. له هغه يې غوسې څخه په اسلام کې دغيــرت او ايمــاني احساساتو په تعبير سره ياده شوې. هغه غوسه د تأييد وړ ده چې کله د الله د حدودو او د الله د احکامو په وړاندې بې عزتــي وشــي. په داسې حالاتو کې غوسه او قهر نکول بې له سستی ا وضعف څخه بل مفهوم نلري. يعنې که چيرې څــوک د الله د حکمونــو يــا درسول الله ﷺ د سنتو بې پروايي او بې عزتي کوي بايد د مؤمن په ضمير کې احساسات او غوسه راوپارېږي، چې دا قهر لــه ايمــان څخه سرچينه اخلي. حضرت موسی عليه السلام کله چې د تورات د حکمونو اخيستلو ته د سينا غره ته لاړ، ســره لــدې چــې حــضرت هارون عليه السلام يې د خپل ځان نماينده وټاکه اما اکثريت د قوم ګمراهی او شرک ته مخه کړې وه، نو حضرت موسی عليه السلام کلــه چــې را وګرځيد هغوی يې مشرکان وليدل، په غوسه شو، نو قهر اوغوسه د موسی عليه السلام هم له ايماني او ديني احساساتو څخه وه.

او که چيرې انسان په داسې حالاتو کې بې تفاوتي يا محافظه کاري وکړي، شايد د الله تعالی دقهر لاندې راشي، لکــه: همغــه مجــرم غوندې ګيل کيږي، لکه هغه عابد چې د نورو د جرم په وړاندې يې بې تفاوتي غوره کړې وه او په څيره کې يــې د هغــوی د ارتکــاب له امله بدلون نه راتللو نه راتله چې په پای کې يې برخليک دنورو په څير شو. په حديث کې دا عبرتناکه قصه لــه حــضرت جــابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت ده: (عَن جَابرٍ قالَ قالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أوحی الله عَزُوجَل إلی جبرَئيل عَليه السَلام أنِ أقلُّــبَ مَدِينَــة کَــذا وَکَــذا باهلِهَا فَقالَ يَا ربّ إنَّ فِيهِم عَبدِکَ فلاناً لَم يَعصِک طَرفَةَ عَينٍ قالَ أقلبهَا عَليه وَعَلَيهِم فَإنَّ وَجَهه لَم يَتَمَعّرُ فِی سَّاعَةً قَطّ) {رواه البيهقی}

له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله متعال حضرت جبرئيل عليه السلام ته حکم وکړ، چې فلانی ښار له اوسيدونکو سره چپه کړه. حضرت جبرئيل عليه السلام وفرمايل: ای الله په هغه کې ستا هغه فلانی بنــده دی او هيڅکلــه يــې د

ستر̇گو د رب په اندازه ګناه نده کړي! الله فرمايي: ورباندې يې چپه کړه، ځکه هغه به د دوی د نافرمانۍ په وړانـدې خپـل تندی د الله په خاطر ترو هم نکړ. متأسفانه ځيني مسلمانان نن ورځ په دې حالت کې قرار لري او د مسؤليت احساس نکوي.

دځینوکلمو معنا: (حنين: طائف او مکې تر منځ له مکې څخه د ٢٦ کیلو مترو په واټن لرې د یوې درې نوم .رسـول اللهﷺ هلته د غزوې لپاره تشريف وړی و) (حواس: دحس جمع ده – بې له آواز څخه حرکت) (مضطرب – پريشانه) (اختلال – خلل) (استيلاء – غلبه) (قايم – ولاړ– ثبات) (تأنی – ځنډ ايستل، آهسته کيدل)

د تدريس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضيحي او تشريحي

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشير.....

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې سريزه	ښاغلی ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، د الله تعالی له حمـد او ثنـاء لـه ويلـو د زده‌کوونکو له احوا ل پوښتنې، د ټولګي له تنظيم او د حاضرۍ له اخيستلو څخه وروسته د هڅـونې پـه غرض د لوست د سرليک د پيداکولو په اړه له زده‌کوونکو څخه پوښتنې کوي، مثلاً: څوک ويلای شـي چې چاته ظالم ويلای شو؟
۲۵ دقيقې د لوسـت وړانـدې کول	ښوونکی دې د پورتنۍ پوښتنې د سم ځواب له اورېدلو څخه وروسته د لوست سـرليک چـې(دغـضب درملنه) ده، د زده‌کوونکي په لاس پر تخته باندې په ښکلي او ښايسته خط وليکي. ښوونکی د ټولګي له اخر څخه دوه زده کوونکي غواړي چې يو يې څنګيز سر ليکونه ولولي او بل يـې د تختې پر مخ ليکي: – غضب ضعف دی اوصبرقوت. – د قهر او غوسې بدې پايلې. – ټولنيز زيانونه. – د قهر او غضب لامل. – د غضب علاج . ښوونکی له زده‌کوونکو غواړي چې ټول لوست په پټه خوله مطالعه کړي او د مهمو ټکو لانـدې کرښـه وباسي او خپله پدې وخت کې داکلمې: حنين، حواس، مضطرب، اختلال، استيلاء، قايم وتأنی په معناسره پر تخته ليکي. ښوونکی لومړی د لوست ستونزمنې کلمې او د هغو سمې معناوې زده‌کوونکو ته د تختې پر مـخ تـشريح کوي او ددې تر څنګ له دوی څخه غواړي چې هغه کلمې له معناوو سره په خپلو کتابچو کې وليکي. ښاغلی ښوونکی زده‌کوونکي په درېو يا څلورو ګروپونو وېشي او تنظيموي يې، دوی ته لارښـوونه کـوي چې د قهر او غوسې په هکله يو له بل سره خبرې وکړي بيا يې په لنډ ډول په يوه پاڼه کاغذ کې وليکـي او ښوونکی د دې لړۍ سرپرستي کوي. ښوونکی د زده‌کوونکو د بحث پر وخت د اړتيا په صورت کې له دوی سره ګډون کـوي او کمـزوري زده‌کوونکي زيات هڅوي. ښاغلی ښوونکی د ډله ييز کار له پای ته رسېدو وروسته د هرې ډلې له مشر څخه غواړي چـې د ټـولګي مخې ته راشي او د بحث پايلې ټولو زده‌کوونکو ته ووايي، خپله د دوی دکار پايلې ارزوي او تير وتنې يـې له توهين پرته اصلاح کوي.

۱۰دقیقې	**ارزونه:** ښوونکی د خپل ځان د ډاډه کولو لپاره زده‌کوونکي د درسي کتاب په پوښتنو باندې ارزوي. **لنډیز:** دا لوست په لاندې ټکو کې لنډیز کولای شو. ۱- د الله تعالی ذکر کول او اودس کول د قهر او غوسې لپاره بهترین علاج دی، ځکه شیطان د ذاکرینـــو په زړه کې ځای نه لري. ۲- زر په غوسه کیدل د انسان په کمزوری دلالت کوي صبر او حوصله د انسان په قوت دلالت کوي. ۳- قهر او غوسه د انسان عقل له منځه وړي او انسان د خپل ځان تابع ګرځوي. ۴- غضب ډېر زیانونه لري مثال د ټولنې او خلکو په وړاندې رټل کیدل. ۵- په ځینو ځایونو کې قهر او غوسه روا ده همدارنګه غیرت، ایماني احساس او دیني دی
۵دقیقې	**کورنۍ دنده:** ښوونکی زده‌کوونکو ته د کورنۍ دندې په اړه معلومات ورکوي، د هغې په سرته رسولو ګماري.

اوه لسم لوست:

سرلیک: غوره خلک

مخ: ۵۵

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د حدیث مبارک حفظ وکولای شي.

۲- د حدیث شریف مفهوم او معنا درک کړلی شي.

۳- د حدیث شریف موخه په خپل ژوند کې رعایت کړلی شي.

۴- د لوست متن سم ولوستلای شي او له مطلب څخه یې اخیستنه وکړلی شي.

اضافي معلومات:

هر مسلمان د خپل ایمان او اخلاقو په نسبت له خپل ځانګړی مقام څخه برخمن دی. مقام او مرتبه په شخصیت پورې تړلې ده. یعنې شخصیت او ایمانداري د یو بنده له اخلاقو، کړنو او معاملې څخه معلومیږي. نیک اخلاق خپلې ځانګې لري. چې یوه یې د نورو خلکو په وړاندې خیر رسول او خیر غوښتل دي.

-چا چې پدې نیک صفت منګولې لګولې او دا لوړ اوصاف یې دځانونولپاره غوره کړي دي رسول اللهﷺ دوی د بهترینو خلکو له ډلې څخه بللي دي.

هغه څوک کولای شي لدې ډلې څخه حساب شي، چې نورو ته یې معنوي او یا مادي خیر په عمل کې رسیدلی وي او خلکو په عمل کې ورڅخه ګټه تر لاسه کړې وي، نه دا چې یوازې په شعار ویلوسره.

خیر رسول له دوو لارو صورت ونیسي اویا په دوه ډوله دی. یو یې مادي او بل یې معنوي.

۱- مادي خیر: لکه څوک چې د خپلې فزیکي قوې او یا دلاس او ژبې او یا د خپل مال او پیسو. او یاهم دقلم او خپلو اسبابو په وسیله دخلکو لپاره د ګټې او خدمت مصدر ګرځي، چې دا ټولې پورتنې برخې د خیر الناس په مصداق کې راځي پدې شرط سره چې نیت اوموخه یې یوازې د الله رضاوي.

۲- معنوي خیر: په مثال دهغه چاچې د الله د رضا لپاره مسلمانانو او یا یې اولادونو ته ښوونه او روزنه ورکړي خصوصا په قرآني او دیني ښوونه او روزنه کې. دغه شان خلک هم د خیرالناس تر مصداق لاندې راځي. لکه رسول اللهﷺ د داسې بهترینو کسانو په هکله فرمایي: روای یې هم حضرت امیرالمؤمنین عثمان بن عفانؓ دی. (عَن عُثمَان قالَ قالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خَیرُکُم مَن تَعلّمَ القُرآنَ وَعلّمَه) {رواه البخاری}

ژباړه: له حضرت عثمانؓ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي: تاسو کې هغه څوک دی چې قرآن زده کړي اونورو ته یې وښیي.

رسول اللهﷺ نورو ته د خیر رسوونکو فضیلتونه زیات بیان کړي دي، چې څو یې د نمونې په توګه یادوو کوو. (عَن إبن عُمرأنّ رَسُولَ الله ﷺ قالَ أَلمُسلِمُ أخُوالمُسلِم لاَ یَظلِمُه وَلا یَسلِمُهُ وَمَن کانَ فِی حَاجَةِ أخِیهِ کانَ اللهُ فِی حَاجَتِه وَمَن فَرّجَ عَن مُّسلم کُربَةً فَرّجَ اللهُ عَنهُ کُربَةٍ مِّن کُربَاتِ یَومَ القِیمَةِ وَمَن سَترَمُسلِماً سَترَهُ اللهُ یَومَ القِیمَة) {متفق علیه}

ژباړه: له حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی په تحقیق سره رسول اللهﷺ وفرمایل: مسلمان د مسلمان ورور دی، ظلم دې پرې نه کوي او نه یې دې ت دښمن تهسلیموي او څوک چې د چا په حاجت کې وي، نو الله د هغه په حاجت کې دی او چاچې له مسلمان څخه سختي لرې کړه، نو الله به د قیامت په ورځ له ده څخه سختی لرې کړي او چاچې یو مسلمان پټ کړ، نو الله به د قیامت په ورځ دی پټ کړي یعنې عیبونه به یې پټ کړي.

همدارنگه حضرت ابوهریره‌ﷺ دا حدیث د رسول اللهﷺ څخه روایت کړی دی: (عَن أبی هُرَیرَة قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ مَن نَفَّسَ عَن مُؤمِن کُربَة ًمِّن کُربِ الدُنیَا نَفسَّ اللهُ عَنهُ کُربَةَ مِن کُربِ یَومَ القِیمَة وَمَن یَسَرَّ عَلی مُعَسرٍ یَسَّرَاللهُ عَلیهِ فِی الدُنیَا وَالاخِرةِ وَمَن سَترَ مُسلِماً سَترَهُ اللهُ فِی الدُنیا وَالاخِرة وَاللهُ فِی عَونِ العَبدِ مَاکانَ العَبدُ فِی عَونِ أخِیه) {رواه مسلم}

ژباړه: له ابي هریره‌ﷺ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: چاچې له یو مسلمان څخه دنیایي غم یا تکلیف لرې کړ، نو الله به د قیامت په ورځ له ده څخه د آخرت غمونه او تکلیفونه لرې کړي او چاچې سختي یا تکلیف لرې کړ نو الله به له ده څخه د دنیا او آخرت تکلیفونه اوسختی لرې کړي، چاچې د مسلمان عیبونه پټ کړل، نو الله به په دنیا او آخرت کې دده عیبونه پټ کړي او الله د خپل بنده په مرسته کې دی تر هغه دبل ورور په کومک اومرسته کې وي. (مراد یې دیني ورور دی)

په لاندې حدیث کې د خیر رسولو داده چې سړی جنت ته داخلوي.

(عَن أنس قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ مَن قَضی لاَحدٍ مِن اُمَّتِی حَاجَةً یُرِیدُ أن یَّسرّهُ بِهَا فَقد سَرَّنِی وَمَن سَرَّنِی فَقد سَرَّالله وَمَن سَرّالله أدخَلهُ اللهُ الجَنّة) {رواه البیهقی}

ژباړه: له حضرت انس‌ﷺ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

څوک چې زما له یو امتي څخه یوه اړتیا لرې کړي او موخه یې دده خوشحالي وي، نو په حقیقت کې یې زه خوشحاله کړی یم او چاچې زه خوشحاله کړم، په حقیقت کې یې الله خوشحاله کړی دی، څوک چې الله تعالی خوشحاله کړي هغه به یې جنت ته داخل کړي.

دځینوکلمو معنا: (مفتي: فتوا ورکوونکی) (مجتهد: کوشش کوونکی او په شرعي اصطلاح کې یې په هغه چا اطلاق کیږي، چې له نصوصوڅخه د احکامو په را ایستلو کې هڅه او هاند کوي) (نافع: نفع رسوونکی) (عوام: عام وګړي دخواصو ضد) (رفع: پورته کول)

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر....

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، او د الله تعالی له حمد او ثناء او پر پیغمبرﷺ باندې له درود ویلو، د زده‌کوونکو له احوا ل پوښتنې، د ټولګي له تنظیم او د حاضرۍ له اخیستلو وروسته مخکینی لوست د کورنۍ دندې په کتلو سره چې په هغې کې د حدیث شریف حفظ هم شامل دی ارزوي.
۲۵ دقیقې د لوست وړاندې کول	ښوونکی د نوي لوست په اړه د انګېزې او نوي لوست ته د سرلیک پیدا کولو په موخه له څو زده‌کوونکو څخه پوښتنې کوي، لکه: څوک کولای شي چې د ښه انسان صفتونه بیان کړي؟ ښوونکی دې د پورتنۍ پوښتنې د صحیح ځواب له اورېدلو څخه وروسته له یوه زده‌کوونکي څخه وغواړي چې د لوست سرلیک (غوره خلک) پر تخته په ښکلي او ښایسته خط ولیکي. ښوونکی زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې لوست په پټه خوله ولولي او پخپله پدې وخت کې د حدیث شریف د متن ستونزمنې کلمې له معنا سره پر تخته لیکي. ښوونکی په یو بې زړه زده‌کوونکي د حدیث شریف متن چې په کاغذ کې لیکل شوی، د تختې په یوه کونج کې ځړوي. ښوونکی د حدیث شریف متن د بېلګې په څېر لولي او له زده‌کوونکو څخه غواړي چې خپلو کتابونو ته په ځیر وګوري. ښوونکی د حدیث شریف متن په څو تکړه زده‌کوونکو باندې تکراروي او وروسته له نورو پاتې زده‌کوونکو

	غواړي چې هغه لوست ولولي چې د ټولو زده‌کوونکو له سمو لوستلو څخه ښه ډاډمن شي. ښوونکی لومړی د لوست ستونزمنې کلمې او د هغو سمې معناوې زده‌کوونکو ته د تختې پر مخ تشریح کوي او ددې تر څنګ له دوی څخه غواړي چې هغه کلمې له معناوو سره په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی چې کله د لوست له سم لوستلو څخه ډاډه شي د حدیث شریف متن ژباړي او دا کار درې ځلــه تکــراروي چې ټول زده‌کوونکي د حدیث په معنا پوه شي. ښوونکی له زده‌کوونکو غواړي چې ټول لوست په پټه خوله مطالعه کړي او تر مهمو ټکو لاندې کرښه وباسي او خپله پدې وخت کې د لوست څنګیز سر لیکونه پر تخته لیکي. ښوونکی زده‌کوونکي په دریو یا څلورو ډلو وېشي او تنظیموي یې، دوی ته لارښوونه کــوي چــې د غــوره خلکو او غوره اخلاقو په اړه یو له بل سره بحث وکړي او د بدو خلکو او بدو اخلاقو په اړه هم یو لــه بــل سره خبرې وکړي. بیا یې په لنډ ډول په یوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او ښوونکی د دې لړۍ سرپرستي کوي. ښوونکی د زده‌کوونکو د بحث پر وخت د اړتیا په صورت کې له دوی سره ګــډون کــوي او کمــزوري زده‌کوونکي زیات هڅوي. ښوونکی د ډله ییز کار له پای ته رسېدو وروسته د هرې ډلې له مشر څخه غواړي چې د ټولګي مخــې تــه راشي او د بحث پایلې ټولو زده‌کوونکو ته ووایي، خپله د دوی دکار پایلې ارزوي او تیر وتنې یې له تــوهین پرته اصلاح کوي. **ارزونه:** ښوونکی دې په شفاهي او یا کتبي ډول زده‌کوونکي و ارزوي او د لوست د زده کړې په هکلــه دې ځــان ډاډمن کړي. **لنډیز:**
۱۰دقيقي	پورتنی لوست په لاندې ټکو کې لنډولای شو: ۱- غوره خلک هغه کسان دي، چې عملاً د خلکو په خدمت کې وي. ۲- خدمت او نفعه په دوه ډوله ده یو معنوي او بل مادي. ۳- مرسته او خیر رسول له راسخ ایمان او ښو اخلاقو څخه ده. ۴- معلومه شوه چې بد خلک هغه دي چې نورو ته یې زیان رسیږي. **کورنۍ دنده:**
۵دقيقي	ښوونکی زده‌کوونکو ته د هغې کورنۍ دندې په اړه چې په درسي کتاب کې ورکړل شــوې ده، معلومــات ورکوي او د خپلو لازمي معلوماتو په سرته رسولو کې زده‌کوونکي مکلفوي او ټینګار کوي چــې مبــارک حدیث حفظ کړي.

اتلسم لوست:

سرلیک: **د ایمان څانګې**

مخ: ۵۷

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د لوست متن سم ولوستلای شي.

۲- د حدیث شریف معنا اومفهوم وپیژني.

۳- د ایمان له څانګو سره بلدتیا پیدا کړای شي.

۴- په خپلو کړو او وړو کې د حیاء نښې او نښانې څرګندې کړای شي.

اضافي معلومات :

- ایمان په لغت کې باور او تصدیق ته ویل کیږي او دشرعې په اصطلاح کې په ټولو هغو ویناوو او هغه شیانو چې د الله له لوري یې راوړي دي، باور درلودل دي.

- د ایمان اصول درې شیان دي. یا په بله وینا د ایمان اساسي محور درې شیان تشکیلوي: توحید، رسالت او معاد چې دا درې اصول ټولو مؤمن به شیانو ته شامليږي. دبېلګې په توګه له مرګه وروسته په ژوندي کیدو ایمان درلودل، په جنت او دوزخ باندې ایمان درلودل په معاد پورې اړه لري.مؤمن هغه څوک دی په غیبي امورو پوره باور او ایمان ولري او مسلمان هغه څوک دی، چې د قلبي تصدیق سره د اسلام ظاهري کارونه هم تر سره کوي.

که چیرته د اسلام او ایمان کلمې یو ځای ذکر شي، نو له ایمان څخه مراد شرعي ایمان دی او داسلام هدف د اسلام پنځه بناوې دي، خوکله چې جلا جلا ذکر شي، نو دواړه یوه معنا ورکوي، لکه مؤمن د مسلمان په معنی او مسلمان دمؤمن په معنا دی.

- د ایمان ضد کفر دی چې هیڅکله له ایمان سره یو ځای کیدای نشي. کفر د انکار په معنا دی او په اصطلاح کې له هغو دریو اصولو یا یو له هغو نه انکار دی.

- مراد له تصدیق څخه یوازې پوهیدنه او پیژندنه نده، ځکه اهل کتابو د ټولو په پرتله د الله د رسولﷺ شخصیت پوره او بشپړ پیژانده لکه چې الله تعالی فرمایي: (يَعرِفوُنَهُ كمَا يَعرِفوُنَ أبنَآءَ هُم) (بقره سورت ۱۴۶)

ژباړه: یهودو محمدﷺ داسې پیژانده، لکه: خپل اولادونه چې پیژني.

نو له تصدیق څخه مراد یقین او باوردی البته داسې باور چې د بنده زړه او باطن ورباندې آراميږي.

- د اهل سنت او جماعت په مذهب که یو تن په کبیره ګناه مرتکب شي او یا دا چې د ایمان په څنګ کې نیک عملونه ونه لري بیا هم مؤمن دی او ایمان ورڅخه نه سلب کیږي اما فاسق ګڼل کیږي.

- ځینو صحابه وو اوتابعینو د اسلام په ارکانو عمل د ایمان جز ګڼلی دی.

- خوارج دلویې ګناه مرتکب ته کافر وایي.

– معتزله د ګناه مرتکب کافر نه ګڼي او نه مسلمان بلکې د داسې خلکو په هکله منځګړی دریځ لري. دا لومړنی بدعت دی چې په عقائدو کې پیدا شو. [1]

لکه څنګه چې په درسي کتاب کې په حدیث کې راغلي: ایمان څه د پاسه اویا څانګې لري چې تر ټولو غوره څانګه یې د لاإله إلاّالله ویل دي او تر ټولو ټیټه څانګه یې له لارې څخه د ضررناکو شیانو لرې کول دي.

حضرت رسول اللهﷺ کله حیاء د ایمان جز ګڼلې ده او کله یې نکاح د ایمان جز ګڼلې ده او په یوبل ځای کې یې مینه او دوستي د ایمان جز ګڼلې ده، لکه چې په احادیثو کې راځي: (عَن أنسٍ قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ إذا تَزَوجَ العَبد فَقد إستَكمَل نِصفَ الدِين فَليَتَقِ الله فِى النِصفِ البَاقِى) {رواه البيهقى}

له حضرت انس‌ؓ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي: کله چې بنده نکاح وکړي، نو په باوري توګه نیم دین یې بشپړ کړ، نو باید د نیم نور په هکله له الله تعالی څخه وویریږي.

اوپه بل حدیث کې راځي. (عَن أبِى هُريرَة قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ لا تَدخَلُونَ الجَنّة حَتى تُؤمِنُوا وَلا تُؤمِنُوا حَتى تَحَابُوا أولا أدُلكُم عَلى شَئٍ إذا فَعلتُمُوهُ تَحَابَبتُم أفشُوالسَّلامَ بَينَكُم) {رواه مسلم}

ژباړه: له حضرت ابوهریره‌ؓ څخه روایت دی وایي: رسول اللهﷺ وفرمایل: جنت ته به داخل نشی، څو ایمان را نه وړي او ایمان به نه راوړي څو یو له بل سره مینه ونه لری. آیا تاسو ته په یوه داسې شي دلالت ونه کوم چې که هغه ترسره کړی، نو یو له بل سره به مو مینه پیدا شي.(هغه شی دا دی) چې په خپلو کې سلام اچول خور کړئ.

همدارنګه په بل حدیث کې راځي: (عَن اَبِى هُريرة قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ وَالحَيا ءُ شُعبَةٌ مِن الايمَانِ) {متفق عليه }

ژباړه: له حضرت ابوهریره‌ؓ څخه روایت دی وایي: د الله رسول وفرمایل: اوحیاء دایمان غوره څانګه ده.

او همدارنګه امانت ساتنه له اسلام د ارزښتناکو خویونو څخه یو خوی دی، چې د ایمان جز ګڼل کیږي او د یوه سړي په امینولی دلالت کوي، څکه د الله رسول فرمایي: (عَن أنسٍ قالَ قَلَمّا خَطَبنا رَسُولُ الله ﷺ إلاّ قالَ لاَ إيمَانَ لِمَن لاَ أمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِينَ لِمَن لا عَهدَ لَهُ) {رواه البيهقى}

ژباړه: له انس‌ؓ څخه روایت دی، چې کله به رسول اللهﷺ موږ ته وعظ کاوه فرمایل به یې: څوک چې دامانت رعایت نه کوي بشپړ مؤمن ندی او همدارنګه څوک چې په خپله ژمنه وفا نه کوي د کامل دین لرونکی ندی.

– لکه څنګه چې ایمان بېلا بېلې څانګې لري، چې بنده باید له هغو ټولو چینو څخه د خپل زړه او ضمیر نیالګي خړوبه کړي او خپله خوله یې د هغو له خوند څخه خوږه کړي البته د ایمان له چینې خړوبوالی او د هغو له مزې څخه خوږ والی د نیکو اعمالو تر سره کول او په هغو کې سود اخلاص ښودل دي، چې په دې هکله هم حدیث راغلی دی. (عَن العَباسِ بِن عَبدالمُطلِب قَالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ ذَاقَ طَعمَ الايمَان مَن رَضِىَ بالله رَباً وَّ بَالإسلامِ دِيناً وَّ بمُحمّدٍ رَّسُولاً) {رواه المسلم }

ژباړه: له حضرت عباس بن عبدالمطلب‌ؓ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ وفرمایل: د ایمان له خوند څخه هغه هغه څوک ګټه اخستلی شي، چې د الله په ربوبیت، د اسلام د دین حقانیت او د محمدﷺ په رسالت خوشحاله او ډاډه من وي.

دځینوکلمو معنا:(اصحاب صفه: درسول اللهﷺ هغه یارانو ته ویل کیږي، چې ځانونه یې د علم دین لپاره وقف کړي وو او اکثره وخت یې د نبوي مسجد په صفه تیرا وه.) (ذکاوت:پوهه) (متضمن: تضمین کوونکی) (غریزهٔ: د انسان فطري قوت)

[1] اشعة اللمعات – جلد اول ص ۴۰

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي.

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر........

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو او د الله تعالی له حمد او ثناء او پر پیغمبرﷺ باندې له درود ویلو، د زده‌کوونکو له احوا ل پوښتنې، د ټولګي له تنظیم او د حاضرۍ له اخیستلو وروسته مخکینی لوست د کورنۍ دندې په کتلو سره چې په هغې کې د حدیث شریف حفظ هم شامل دی ارزوي. ښوونکی د نوي لوست په اړه د انګېزې پیدا کولو او نوي لوست ته د سرلیک پیدا کولو په موخه له څو زده‌کوونکو څخه پوښتنې کوي، لکه: ایمان څو څانګې لري؟
۲۵ دقیقې د لوست وړاندې کول	ښوونکی د پورتنۍ پوښتنې د سم ځواب له اورېدلو څخه وروسته د لوست سرلیک چې (د ایمان اړین څېزونه) دي، د زده‌کوونکي په لاس پر تخته باندې په ښکلي او ښایسته خط لیکي. ښوونکی له څو زده کوونکو څخه غواړي، چې هر یو یې په خپل ځای کې ودرېږي او ایمان په لغت او اصطلاح کې تعریف کړي. ښوونکی زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې لوست په پټه خوله ولولي او پخپله پدې وخت کې دا کلمې اصحاب صفه، ذکاوت، تضمین کوونکی او فطرت پر تخته لیکي. ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ لیکل شوې دي پر زده‌کوونکو ژباړي، وروسته یوه زده‌کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنا سره ولولي، ښوونکی د زده‌کوونکو تیر وتنې سموي او له یوه زده‌کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي او په عین وخت کې له زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی یوه زده کوونکی ته لارښوونه کوي چې د لوست څنګیز سر لیکونه د تختې پر مخ ولیکي. د ایمان خصلتونه، – دکلمې طیبې فضیلت، – دکلمې غوښتنې، – ددلارو اوسرکونو څخه د زیان رسونکو شیانو لیرې کول، – حیاء د ایمان برخه ده، ښوونکی له څنګیزو سرلیکونو څخه په ګټه اخیستلو سره لوست تشریح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټینګار کوي. ښوونکی د لوست له توضیح څخه وروسته زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ لیکلې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی زده‌کوونکي په څو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې د طیبې کلمې د فضیلت په هکله او هغه څېزونه په اړه چې په لارو کې دخلکو د زیان سبب ګرځي یو له بل سره بحث او خبرې وکړي. ښوونکی د ډلو د کار په وخت کې ټولګی کنترول او نظم برابروي او د اړتیا په صورت کې د ډلو په بحث کې ګډون کوي. ښوونکی له هرې ډلې څخه غوښتنه کوي چې ځان ته یو مشر وټاکي او د بحث پایلې دې په یوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او د دوی مشر دې هغه کلمې د ټولګیوالو په وړاندې د ټولګي په مخ کې ولولي.

	ښوونکی د بحث پایلې ارزوي، زده‌کوونکي خپلو غلطیو ته متوجه کوي او هڅوي یې.
۱۰دقیقې	**ارزونه:**
	ښوونکی د خپل ځان د ډاډ لپاره زده‌کوونکي د درسي کتاب په پوښتنو باندې ارزوي.
	لنډیز:
	دا لوست په لاندې نکتو کې لنډیز کیږي.
	– ۱ حضرت ابو هریره ۵۳۷۴ حدیث له رسول اللهﷺ نه روایت کړی دی.
	– ۲ ایمان له اویا څخه زیاتې څانګې لري چې لوړه یې د طیبې کلمې ویل دي او ټیټه یې له لارو څخه د زیان رسوونکو شیانو لیرې کول دي.
	–۳ د طیبې کلمې غوښتنې دادي:په الله ایمان، په ملایکو، په رسالت او دقیامت په ورځ باندې همدارنګه د ټولو احکاموپیروي کول او د رسول اللهﷺ د سنتو پیروي د کلمې غوښتنه ده.
	– حیاء برسره پردې چې یو ه انساني غریزه ده په عین الحال کې د ایمان برخه ده.
۵دقیقې	**کورنۍ دنده:**
	ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې دحیاء په هکله یوه شپږ کرښیزه مقاله ولیکي.

نولسم لوست:

سرلیک: تعصب (قوم پرستي)

مخ: ٦١

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

١- د حدیث شریف متن په سم ډول ولوستلای شي.

٢- د حدیث شریف نص حفظ کړلی شي.

٣- د حدیث شریف مطلب اوغوښتنه وپیژندلی شي .

٤- د حدیث شریف پر معنا پوه شي.

اضافي معلومات :

– تعصب مصدردی د حمایت کولو په معنا او په اصطلاح کې له قوم، نژاد، کورنی، خپلوانو، سمت، ژبې، سیمې او نسب څخه پرظلم او ناحقه ملا تړ کول دي.

– تعصب له عصب نه اخیستل شوی او عصب د لغت له مخې پلې ته ویل کیږي، هغه پله چې د انسان په بدن کې د سپین رنګه، بې له وینې وجود لري، چې له مغز سره مستقیم ارتباط نیسي.

– ولې هغه چاته چې له خپل قوم څخه پر ناحقه حمایت او دفاع کوي متعصب ویل کیږي؟

ځکه متعصب سړی د تعصب او ظلم کولو په وخت کې خپل حواس نشي کنټرول کولای او د غاړې پلې یې پړسیږي. ([1])

– له قوم، دوستانو او خپلوانو سره، چې په ظلم او ناروا کې نه وي مینه، دوستي او مرسته کول تعصب نه بلل کیږي، لکه څنګه چې رسول اللهﷺ د پوښتنې په ځواب کې فرمایي:

(عَن عِبادة بن کثِیرالشَامِي مِن اَهل فلسطِین عَن إمرأةٍ مِنهُم یُقالَ لَهَا فسیلةُ أنَّهَا قالت سَمِعتُ أبی یَقوُل سألتُ رَسُولُ اللهِﷺ فَقلتُ یَا رَسُولَ اللهِﷺ أمِن العَصَبِیّة أن یُّحِبَ الرّجُل قومُهُ قالَ لا وَلکِن مِن العَصَبِیّة أن یَّنصُرالرَّجُل قومَهُ عَلی الظُلم){رواه احمد وابن ماجه}

ژباړه: له حضرت عباده بن کثیر الشامي «رح» څخه چې د فلسطین له اهل څخه و، روایت دی: نوموړې د یوې فلسطنی ښځې چې فسیلةُ به یې ورته ویل روایت کړی چې هغې ویل: له پلار څخه مې اوریدلي دي هغه ویل چې له رسول الله څخه مې پوښتنه وکړه: یا رسول الله! آیا دا په کې راځي څوک چې له خپل قوم سره مینه وکړي؟ ویې ویل نه بلکې په عصبیت کې هغه راځي څوک چې د قوم سره په ظلم مرسته وکړي.

– متأ سفانه زموږ په هیواد کې نن ورځ عصبیت له سرنه تر پښو پورې په ظلم او ناروا سره دی. دغه یوه ډېره بده پدیده ده، چې دهیلو، سولې، پرمختګ، دوستی او وروږګلوي ټولې دروازې یې زموږ افغانانو پر مخ تړلې دي.

–څوک چې د محمدﷺ د امتې دعوه لري، د اسلام نارې وهي، نو باید په پوره توګه په اسلام کې شامل شي او هیڅکله د جاهلیت او قومي دودونه د اسلام پر احکامو جګ ونه ګڼي. پدې هکله الله فرمایي: (یَاَیُّهَا الّذِینَ آمَنوُا ادخُلوُا فِی السّلِم کَآفّة) بقره ٢٠٨ ژباړه: ای مؤمنانو! تاسې په هر اړخیز ډول په اسلام کې ننوځئ. یعنې د اسلام د ټولو احکامو پیروي وکړئ.

– مسلمان باید دا درک کړي، چې برتري په قوم، نژاد، سیمه، ژبه، رنګ او نسب کې نده بلکې د الله په وړاندې معیار تقوا او پرهیزګاري ده. لکه چې الله فرمایي: (یَاَیُّهَا النّاس إنّا خَلقنَکُم مِن ذَکرٍ وَّ اُنثی وَجَعلنَکمُ شُعُوباً وّ قَبَائِل لِتعَارَفوُا إنّ أکـرَمَکُم عِندَالله أتقکمُ إنّ الله عَلیمٌ خَبیرٌ) حجرات ١٣.

---

[1] اشعة اللمعات – جلد ۴ – ص ۹۸

ژباړه: ای خلکو! مونږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې نه پیدا کړئ اوبیا مو تاسې قومونه او قبیلې وګرځولې چې چې تاسې یوتر بله سره وپیژنئ په حقیقت کې د الله په نزد له تاسې نه ترټولو زیات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهیزګار وي، په باوري ډول الله په هرڅه پوهیدونکی او باخبردی.

– رسول اللهﷺ هم د معیار د برتری په خپلو ارزښتناکو لارښونو کې فرمایلی، چې څو یې نظر په بحث سره ذکر کوو. (عَن اَبی هُریرةَ قالَ سُئل رَسُولَ اللهﷺأیّ النّاسِ أکرَم قالَ أکرَمُهُم عِندَاللهِ أتقهُم قالوُا لیسَ عَن هذا نسلُکَ قالَ فاکرَمَ النّاس یُوسُف نبّیِ اللهِ اِبن نبّیِ اللهِ اِبن نبّی اللهِ اِبن خَلِیلُ اللهِ قالوُا لیسَ عَن هذا نَسالُک قالَ فعَن مَعادِن العَربِ تَسالوُنی قالوُا نَعَم قالَ فَخِیارُکُم فِی الجَاهِلِیّةِ خِیارُکُم فِی الاِسلام إذا فَقِهُوا) {متفق علیه} ژباړه: له حضرت ابو هریرهؓ څخه روایت دی له رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وشوه، چې کوم شخص له خلکو څخه معزز او مکرم دی؟ هغهﷺ وفرمایل: مکرم او معزز خلک د الله په وړاندې هغه څوک دي چې پرهیزګاره وي. اصحابو وفرمایل مراد زمونږ دا سوال نه و. رسول اللهﷺ وفرمایل: که چیرې مو مراد له دې څخه د نسب کرم وي، نو حضرت یوسفؑ مکرمترین دخلکو و، ځکه خپله د الله پیغمبرو او پلار یې یعقوبؑ هم د الله پیغمبرو د هغه پلار یې اسحاقؑ هم د الله پیغمبر و، او نیکه یې ابراهیمؑ هم د الله پیغمبر و، اصحابو وفرمایل: دا پوښتنه هم نکوو. رسول اللهﷺ وفرمایل: تاسو د عربو دقبائلو او خپلو پلرونو پوښتنه کوئ دوی وویل: هو. ویې فرمایل: که چیرې د دې پوښتنه کوئ، نو پوه شئ، چې بهترین د تاسو دجاهلیت بهترین په اسلام کې دی کله چې دوی په احکامو او شرعه د دین پوه شي.

(عَن عَیاض بن المُجَاشِعِی أنَّ رَسُولَ اللهِﷺ قالَ إنَّ اللهَ أوحَی إلیَّ أن تواضَعوُا حَتّی لا یُفتَخِر أحدٌ عَلی أحدٍ وَلا یَبَغِی أحدٌ عَلی أحدٍ) {رواه مسلم}

له حضرت عیاض بن المجاشعيؓ څخه روایت دی په تحقیق سره رسول اللهﷺ وفرمایل: یقینا الله ماته وحی وکړه چې تواضع اوخاکسري وکړئ او هیڅ یو د پر بل فخر او تکبر ونه کړئ همدا رنګه یو پر بل ظلم او تیری ونه کړئ.

(عَن عَبدالرّحمَن اِبن اَبی عُقبَة عَن اَبی عُقبة وَکانَ مُولیً مِن اَهل فَارس قالَ شَهدتُ مَع رَسُولُ اللهِﷺ اُحُداً فضَربتُ رَجُلاً مِن المُشرکِین فقلتُ خُذهَا مِنّی وَأنا الغُلامُ الفَارس فَالتفَت إلیَّ رَسُولُ اللهِﷺ فقالَ هلاَّ قلتَ خُذهَا مِنّی وَأنا الغُلامُ الانصَاری) {رواه ابوداود}

له حضرت عبدالرحمن ابن ابي عقبه څخه روایت دی: په داسې حال کې چې هغه له پلار ابو عقبه څخه روایت کوي او ابو عقبه له فارس څخه یو ځوان و ابي عقبه وویل: زه د رسول اللهﷺ سره د احد په غزوه کې حاضر وم، نو یو سړی مې له مشرکانو څخه وواهه(په غشي یا نیزه اویا توره) او ومې ویل ورته ونیسه دا د مالخوا (دا هغه کلمه ده چې جنګي قهرمانان یې دجنګ په وخت کې وایي) زه د اهل فارس یو ځوان یم پدې وخت کې رسول اللهﷺ ماته کتل او ویې ویل ولې د داسې ورته ونه ویل چې واخله دا زما لخوا زه یو انصار یم (دهلوي صاحب وایي د صحابي لپاره د رسول اللهﷺ له دې فرمودې مراد دا دی چې په دغه وخت کې به یې نسبت قوم ته نه کاوه بلکې داسې به یې ویلي وو چې زه یو انصاري یم ځکه هغوی د الله د دین ناصرین دي)

– عصب هغه سپنې پلې ته ویل کیږي، چې په ټول بدن کې تیت دي اوبې له وینې وي.

– اقلیم په لغت کې سیمې او هیواد په معنا دی. د زمین پوهنې علماوو ټوله وچه د ځمکې په اوو برخو ویشلې ده او هره برخه یې په اقلیم نومولې ده.

دکلمو معنا: (انساب: د نسب جمع ده)(شګرف: عجیب، نیکو، ښکلی)(عصب: پله)(حسب: جاه اوجلال، شأن اوشوکت) (اقلیم – مملکت، هیواد)

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي.

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، او د الله تعالی له حمد او ثناء او پر پیغمبرﷺ باندې لـه درود ویلو، د زده‌کوونکو له احوا ل پوښتنې، د ټولګي له تنظیم او د حاضرۍ له اخیستلو وروسته مخکینـی لوست د کورنۍ دندې په کتلو سره چې په هغې کې د حدیث شریف حفظ هم شامل دی، ارزوي. ښوونکی د نوي لوست په اړه د انګېزې پیدا کولو او نوي لوست ته د سرلیک پیدا کولو په موخه لـه څـو زده‌کوونکو څخه پوښتنې کوي، لکه: ۱. ایمان څو څانګې لري؟ ۲. دایمان غوښتنې څه دي؟
۲۵ دقیقې د لوسـت ورکول	ښوونکی د پورتنۍ پوښتنې د سم ځواب له اورېدلو څخه وروسته د لوست سرلیک چې (قـوم پرسـتي) ده د زده‌کوونکي په لاس پر تخته باندې په ښکلي او ښایسته خط لیکي. ښوونکی د ځوابونو له اوریدلو څخه وروسته له زده کوونکو څخه غواړي چې څه شی د یو ملت او ټـولنې د بد بختۍ او وروسته والي سبب کیږي یو له د ځان سره غور او فکر کوي. ښوونکی لوست د بېلګی په څېر لولي، په دویم ځل لوستنه کې له زده‌کوونکو څخه غواړي چې له ده څخـه وروسـته یـې تکرار کړي او په خپله باندې د دوی تکرار ته غوږ نیسي، او د تیر وتنې په وخت کې د دوی لوستنه تصحیح کوي. ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ لیکل شوې دي پر زده‌کوونکـو ژبـاړي، وروسـته یـوه زده‌کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنـا سـره ولـولي، ښـوونکی د زده‌کوونکو تیر وتنې سموي، او له یوه زده‌کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي او پـه عـین وخت کې له زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی یوه زده کوونکی ته لارښوونه کوي چې د لوست څنګیز سر لیکونه د تختې پر مخ ولیکي. – عصبیت دجاهلیت شعار دی. – په اسلام کې عصبیت ته بلنه کول حرام دي. ښوونکی له څنګیزو سر لیکونو څخه په ګټه اخیستلو سره لوست تشریح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټینګار کوي. ښوونکی د لوست له توضیح څخه وروسته زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ لیکلې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
۱۰دقیقې	ښوونکی زده‌کوونکي په څو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې د عصبیت او قوم پرستۍ په اړه یو له بل سره بحث او خبرې وکړي. ښوونکی د ډلو د کار په وخت کې ټولګی کنترول او نظم برابروي او د اړتیا په صورت کې د ګروپونـو پـه بحـث کـې ګډون کوي.ښوونکی له هر ګروپ څخه غوښتنه کوي چې ځان ته یو مشر وټاکي او د بحث پایلې دې په یـوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او د دوی مشر دې هغه کلمې د ټولګیوالو په وړاندې د ټولګي په مخ کې ولولي. ښوونکی د بحث پایلې ارزوي زده‌کوونکي خپلو تیر وتنو ته متوجه کوي او هڅوي یې.
۵دقیقې	**ارزونه:** ښوونکی د خپل ځان د ډاډ لپاره زده‌کوونکي د درسي کتاب په پوښتنو باندې ارزوي. **لنډیز:** دا لوست په لاندې نکتو کې لنډیز کیږي. ۱– د قوم، خپلوانو، نژاد، نسب، سمت او ژبې په برخه کې په ناحقه حمایت کولو ته عصبیت وایي. ۲– د الله په وړاندې معیار او لوړوالی تقوا اوپرهیزګاري ده. ۳– عصبیت ته بلنه کول که په هر نوم وي حرامه ده. ۴– څوک چې د عصبیت په خاطر جنګ کوي او یا نور تشویقوي درسول اللهﷺ د وینا له مخې له اسلامي امت څخه نه حسابیږي. **کورنۍ دنده:** ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې په اسلام کې دمعیار او لوړوالي په هکله یوه اوه کرښیزه مقاله ولیکي.

شلم لوست:

سرليک: د مؤمن شان (حالت)

مخ: ٦٥

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي بايد:

١- د حديث شريف متن په سم ډول ولوستلای شي.

٢- د مسلمان مقام درک کړای شي.

٣- د حديث شريف د کلمو پر معنا سم وپوهېږي.

٤- د حديث د محتوا په هکله خبرې او وينا وکړلای شي.

اضافي معلومات:

چاچې ايمان راوړی ټول ژوند يې په اسلامي اساساتو برابر کړی، د الله په وړاندې لوړ مقام او منزلت لري لکه څنګه، چې قرانکريم پدې باندې شاهد دی او په ډېرو آيتونو کې يې د دنيا او اخرت د نيکمرغۍ زيری ورکړی دی.

- د درسي کتاب له محتوا څخه داسې معلومېږي، چې په مجموع کې د مؤمن د ژوند ټول اړخونه په کاميابی، نيکمرغی، ګټې او خير کې دي په دې شرط، چې مؤمن بنده شکر کوونکی او صبر کوونکی وي.يعنې د اسانی او نعمت په وخت کې شکرکوونکی وي، د مصيبت او تکليف په وخت کې د صبر او حوصلې څخه کار واخلي.

- د بنده څخه له هغو نيکمرغيو او کاميابيو چې سترګې ورنه نشي پټېدلای يوه هغه داده، چې الله د خپلې دوستی اعلان کړی دی. د دوستی دغه تړون د آل عمران په ٦٨ آيت کې ثابت شوی دی. (إنّ أولى النّاسِ بِإبرَاهِيمَ للذِينَ اتّبعُوهُ وَهَذا النّبيُ وَالذِينَ آمَنُوا وَاللهُ وَلِيُ المُؤمِنينَ)

ژباړه: ځوک چې تر دې ټولو زيات حقدار دي چې ابراهيمعليه السلام ته منسوب شي هغه خلک دي چې د هغه پيروي يې وکړه او اوس دا پيغمبر او دده منونکي د دې منسوبېدو زيات حقدار دي. الله يوازې د هماغه کسانو ملاتړ او مرستندوی دی چې ايمان يې راوړی دی.

د پروردګار نعمتونه بې شماره دي لکه چې الله فرمايي: (وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَةَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ اللّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ)النحل ﴿١٨﴾

ژباړه: که تاسې د الله دنعمتونو شمېرل وغواړئ، نونه يې شئ شمېرلی، حقيقت دا دی چې هغه ډېر بښونکی او مهربان دی.

نو د الله نعمتونه په يوه يا څو شيانو نه خلاصه کېږي، بلکې هر څه چې په ماحول، کائناتو او خپلو نفسونو کې په سترګو ګورو دا ټول او ټول د پروردګار نعمتونه دي، چې د موږ لپاره يې محيا کړي او دا ټول د آسانۍ په خاطر د ژوند زموږ په خدمت کې دي. له دې امله لازمه ده چې بنده د دې ټولو له توان سره سم شکر او کړي.

- د الهي نعمتونو په مقابل کې شکر کوونکی و اوسي. چې دا يوازې په پيروی، بندګی، امر منني، سجدې او بنده ګۍ اداء کېږي.

- بايد بنده د ژوند په هر حالت کې راضي وي او د الله د رضا لاسته راوړلو سره د دنيا جاه او جلال شان او شوکت ته ترجيح ورکړي. په دې صورت کې الله دده په ځان او مال کې په برکت اچوي او دی اجر لرونکی ګرځوي.

او که بنده بر عکس نافرماني او د نعمت کفران وکړي علاوه له دې څخه چې هغه نعمت ورڅخه بيرته اخلي، بلکې هغه تعذيبوي لکه څنګه چې دا نکته په قرآنکريم کې واضحه شوي ده. (وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ) [1]

ژباړه: او په ياد ولرئ ستاسې رب خبردار کړي ياست، چې که تاسې شکر وباسې، نو پر تاسې به لا زياته پيزوينه وکړم او که د نعمت ناشکري وکړئ، نو زما سزا ډيره سخته ده.

– د ايمان او اعمالو بهترى کومې چې الله دغه امت ته ورپه برخه کړې په نورو امتونو کې وجود نلري، څنګه چې قرآنکريم په نورو ټولو اسماني کتابونو فضيلت ورکړى يا رسول اللهﷺ ته يې په نورو انبياء عليهم السلام باندې فضيلت او برترې ورکړې همدارنګه يې دغه (اخر زمان امت) د نورو امتونو په پرتله فضيلت او بر تري ورکړې، نو د دې امله مؤمن په هر حالت کې د خپل خير او فلاح ته متوجه کيږي.

دځينوکلمو معنا:(جليل القدر: لوړ مقام اوعالي) (پراخ: وسيع، آزاد) (رديف: قطار) (تعلق: تړلى) (فخر: وياړ، افتخار)

د تدريس تګلاره: پوښتني او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضيحي او تشريحي

مرستندويه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشير...

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې سريزه	ښوونکی وروسته له مقدماتي موضوع څخه د تير شوي لوست څو پوښتنې کوي، چې پر هغه تير شوي لوست هم ارزوي دبېلګې په توګه: ۱- څوک کولای شي متعصب شخص معرفي کړي؟ ۲- څوک دا مبارک حديث تکميلولای شي؟ (ليسَ مِنّا مَن .... وَليسَ مِنّا مَن .... وَليسَ مِنّا مَن ...عَصَبِيَّةٍ
۲۵دقيقې د لوست وړاندې کول	ښوونکی دځوابونو له اوريدلو څخه وروسته په اسلام کې د مؤمن په موقف او فضيلتونو لنډې خبرې کوي. ښوونکی د پورتنی پوښتنې د صحيح ځواب له اوريدلو څخه وروسته د لوست سرليک چې (د مؤمن شان) دي، د زده‌کوونکي په لاس پر تخته باندې په ښکلي او ښايسته خط ليکي. ښوونکی زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې لوست په پټه خوله ولولي او پخپله پدې وخت کې دا کلمې جليل القدر، پراخ، رديف او فخر پر تخته ليکي. ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ ليکل شوې دي پر زده‌کوونکو ژباړي، وروسته يوه زده‌کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنا سره ولولي، ښوونکی د زده‌کوونکو تيروتنې سموي او له يوه زده‌کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي او په عين وخت کې له زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي. ښوونکی يو زده کوونکی ته لارښوونه کوي چې د لوست څنګيز سرليکونه د تختې پر مخ وليکي. انسان مورد ابتلا قرار مى ګيرد، – د خوشحالی او نعمت حالت، – دنعمتونو شکر ايستل، – داندامونو په مرسته شکر کول.

[1] سوره ابراهيم – آيت ۷

– شکر ایستل د قیامت په ورځ باندې سبب. ښوونکی له څنګیزو سرلیکونو څخه په ګډه اخیستلو سره لوست تشریح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټینګار کوي. ښوونکی د لوست له توضیح څخه وروسته زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ لیکلې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی زده‌کوونکي په څو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې د شکرفضیلتونو او د ناشکری د زیانونو په اړه یو له بل سره بحث او خبرې وکړي. ښوونکی د ډلو د کار په وخت کې د ټولګی کنترول او نظم برابروي او د اړتیا په صورت کې د ډلو په بحث کې ګډون کوي. ښوونکی له هرې ډلې څخه غوښتنه کوي چې ځان ته یو مشر وټاکي او د بحث پایلې په یوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او د دوی مشر دې هغه کلمې د ټولګیوالو په وړاندې د ټولګي په مخ کې ولولي. ښوونکی د بحث پایلې ارزوي زده‌کوونکي خپلو غلطیو ته متوجه کوي او هڅوي یې.	۱۰دقیقې
ارزونه: ښوونکی د خپل ځان د ډاډ لپاره زده‌کوونکي د درسي کتاب په پوښتنو باندې ارزوي. **لنډیز:** دا لوست په لاندې ټکو کې لنډیز کیږي. ۱– حضرت صهیب بن مالک له مور اوپلارڅخه عربي و، خو د رومیانو په مینځ کې لوی شوی و او هغه په ټولو غزواتو کې د رسول اللهﷺ سره شرکت کړی و. نوموړی په ۳۸ هجری کال کې وفات شوی دی. ۲– د انسان ژوند ټول په آزموینو کې دی، چې لاملونه یې نعمتونه، آرامی کله هم غمونه او تکلیفونه وي. – که مسلمان واقعاً صابر اوشاکر وي، نو د دنیا او اخرت کامیابي یې په برخه ده. شکر یوازې په ژبه نه بلکې په طاعتونو او عباتونه اداء کیږي. – په مال، ثروت، صحت، عمر ځواني داټول په حقیقت کې د الله نعمتونه دي باید قدر یې وشي. **کورنۍ دنده:** ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې دمبارک حدیث د ګټو په هکله یوه شپږ کرښیزه مقاله ولیکي.	۵دقیقې

یویشتم لوست:

سرلیک: پر تکالیفو صبر

مخ: ۷۱

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱– دلوست نصوص سم ولوستلای شي.

۲– د موضوع ارزښت درک کړای شي.

۳– دصبر او حوصلې په ارزښت او اجر باندې پوه شي.

۴– په راتلونکي کې صابر او تحمل لرونکي شخصیتونه شي.

اضافي معلومات :

خوښو او ښو اخلاقو څخه چې د انسان مقام او منزلت لوړوي او د الله رضا حا صلوي صبر او زغم دی. صبر او زغم پر نفس باندې د ستونزو او ناخوالو په وړاندې د ناوړو شیانو زغمل دي، آن تر دې چې صبر او زغم کله داسې کچې ته رسیږي، چې مؤمن انسان په خپله خوښه او رضا د ستونزو سره مخامخ کیږي.

– مؤمن بنده له یوې خوا نه خپل نفس د الله په عبادت او پیروی مجبوروي او دنفس ناخوښی ته پاملرنه نکوي او له بل لوري هغه د الله له ګناه او نافرمانۍ څخه بندوي او هغه ته سرغړونې او په فاني لذتونو پسې تللو ته اجازه نه ورکوي.

همدارنګه په سختو او ستونزمنو شرایطو کې خپل نفس زغم او حوصلې ته هڅوي او چیغو فریادونو ته اجازه نه ورکوي.

– پوهانو ویلي دي: د ستونزو په وړاندې بې حوصلګي په خپله بده ستونزه او غم دی او د الله په تقدیر ناخوښ اوسیدل د نا پوهی نښانه ده او د حکیم الله په اراده اعتراض کول دي.

– مؤمن انسان په سختو شرایطو او ناخوالو کې د شیانو په پیل او انجام کې فکر کوي او الله یادوي او دالله عبادت کوي، دهغه په نعتونو شکر باسي، دهغه له عذاب څخه ځان ژغوري، له ځان سره وایي چې دالله تقدیر اوکړنلاره د حکمت او علم په بنسټ منځته راځي او هیڅوک نشي کولای چې دهغه مخه ونیسي. چیغې او فریا دونه دردونه دوا کولای نشي او مشکل اسانولای نه شي بلکې باید وپوهیږي، چې بې صبري دده دګناه بار لا درنوي. خو د صبر اوزغم په وسیله غمونه دده له اوږې څخه سپکیږي او اخروي اجر هم لاسته راوړي.

– صبر او زغم هغه اخلاق دي، چې په انسان کې په هلو ځلو، پالنه او روزنه منځته راځي او د کمال پوړۍ ته رسیږي، نولازمه ده چې مؤمن په خپله اړتیا او د الله په بډایوالي کې فکر وکړي او له هغه څخه وغواړي څو صبر او زغم دده په ضمیر کې پیدا کړي او دقرآني آیتونو په وسیله د هغو ارزښت وپیژني، لکه چې الله فرمایي:

(یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُونَ) آل عمران ۲۰۰.

ژباړه: ای کسانو چې ایمان مو راوړی دی، صبرکوئ او استقامت وکړئ. د احکامو ساتنه کوئ او له الله نه ووېرېږئ شاید چې کامیاب شئ.

همدارنګه الله فرمایي: (الَّذِینَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِیبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَیْهِ رَاجِعونَ) أُولَئِکَ عَلَیْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِکَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ) ([1])

ژباړه: او د مصیبت راتلو په وخت کې ووایي چې موږ د الله یو او دهماغه الله لوري ته زموږ ورګرځېدل دي. پر هغو به د هغو درب زیاتې پېرزوینې او رحمت وي او همدغه شان خلک پر سمه لار روان دي.

[1] سوره بقره – آیات ۱۵۷–۱۵۸

همدارنګه الله فرمايي: (قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ) [1]

ژباړه: اى پيغمبره ووايه چې اى د الله بندګانو چې ايمان موراوړيدى له خپل رب نه ووېرېږئ كومو كسانو چې په دنيا كـې نيک چلند غوره كړى دى دهغو لپاره ښېګڼه ده او د الله ځمكه پراخه ده، صبر كوونكو ته به خپل اجر بې حسابه وركړشي..

– هوكې صبر او زغم د نيكو، رښتينو او پرهيزګارو خلكو خوى او عادت دى.

او حقيقت دا دى كه چيرته مؤمن د الهي دين په خدمت او دده د رضا په حاصلولوكې رنځ او كړاو ومني، د صـبر او زغـم لاره خپله كړي، بديو ته په نيكيو ځواب وركړي او دالله د رضا لپاره له چا څخه د غچ اخيستلو په فكر كې و نه اوسـيږي او پدې هكله بايد په پيغمبرانو او نيكانو پسې اقتدا وكړي. [2]

– عبدالله بن مسعودﷺ وايي: د الله له رسول څخه مې واوريدل چې فرمايل يې: دخلكو لخوا يو پيغمبرته رنځ او كړاو ورسيد او دهغه مبارک مخ يې تپي كړ، خو كله چې هغو دخپل مخ وينې پاكولې، الله ته يې ويل: (اَللَّهم اغفِرلِقَومِی فَاِنَّهُم لاَيَعلمُون): اې زما پروردګاره زما قوم ته بښنه وكړه، ځكه دوى نه پوهيږي د ناپوهۍ له وجهې دا كار كوي. او همدارنګه رسول اللهﷺ د صبر او زغم په هكله داسې لارښوونې كړي دي: (عَن اِبی هُرِیرَة قالَ قالَ رَسُولُ اللهﷺ اَلمُؤمِن القویُّ خَیرٌ وَأحبُّ إلی اللهِ مِنَ المُؤمِنِ الضَعِیف وَفِی كُلِّ خَیرٌ أحرِص عَلی مَا یَنفَعُکَ وَإستَعِینَ باللهِ وَلا تُعجز وَإن أصَابَکَ شَئٌ فَلا تَقُل لَوإنِّی فَعَلتُ كَانَ كَذا وَكَذا وَلكِن قُل قَدّرَالله وَمَا شَآءَ فَعل فإنَّ لوتَفتَحَ عَمل الشّیطَان){رواه مسلم}

ژباړه: له حضرت ابوهريرهﷺ څخه روايت دى وايي: رسول اللهﷺ وفرمايل: پياوړى مؤمن (په ايمان، عقيده، توكل، صبر، جهاد او پيروى كې) دالله په وړاندې دضعيف او بې وزلي مؤمن څخه غوره دى، نو په هرهغه څه كې چې تاته ګټه رسوي حريص اوسيږه او له الله نه مرسته غواړه او له غوښتنې عاجز مه اوسيږه او كه تاته څه كړاو ورسيد، نو داسې مه وايه چې كه مې داسې كړي واى داسې به شوي واى، بلكې وايه هر څه د الله په تقدير كې دي او هغه كوي چې خوښه يې وي، او له بلې خوا د شيطان لپاره لاره خلاصيږي او د ويونكي په زړه كې وسوسه اچوي د شيطان له وسوسو څخه دى.

(عَن اَبی هُریرةَ أنّ رَسُولَ الله ﷺ قالَ یَقولُ اللهُ تعَالی مَا لِعَبدِی المُؤمِن عِندِی جَزاءُ إذا قَبَضتُ صَفِیَّهُ مِن أهل الدُنیَا ثُمّ أحسَبَهُ إلاّ الجَنّة) {رواه البخارى}

ژباړه: له ابوهريرهﷺ نه روايت دى وايي: رسول اللهﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: زما دمؤمن بنده لپاره چې كله يو دوسـت ورځنې واخلم او هغه صبر وكړي او دخپل زغم بدلې ته هيله من وي له جنت څخه پرته بله بدله نشته.

(عَن اَبی هُریرة قالَ قالَ رَسُولُ اللهﷺ مَایَزَال البَلاءُ بِالمُؤمِنِ وَالمُؤمِنَةَ فِی نَفسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتّی یَلقَی الله تَعالی وَمَا عَلیهِ خَطِیئةِ) {رواه الترمذى}

ژباړه: له حضرت ابوهريرهﷺ څخه روايت دى، چې رسول اللهﷺ وفرمايل: پرمؤمن سړي او ښځه باندې د الله له لوري هميشه ځاني، مالي او اولادونوكې آزموينې راځي(خوكه صبروكړي) دالله سره به داسې مخامخ شي چې پرده به هيڅ د ګناه اثر پاتې نه وي.

عَن أبِی مُوسی الاَشعَرِی قالَ قالَ رَسُولُ اللهﷺ إذا مَاتَ وَلدِ العَبد قالَ اللهُ تَعَالی لِلمَلائِكة قَبَضتُم وَلدَ عَبدِی فَیَقُولون نَعم فَیَقُولُ قَبَضتُم ثَمرَةَ فُوادِه فَیقُولُونَ نَعم فَیَقول مَا ذا قالَ عَبدِی فَیقُولُونَ حَمدَکَ وَإسترجَع فَیقُولُ إبنُوا لِعَبدِی بَیتاً فِی الجَنّة وَسَمُّوهُ بَیتُ الحَمد {رواه احمد والترمذى}

ژباړه: له ابوموسى اشعريﷺ نه روايت دى وايي رسول اللهﷺ وفرمايل: كله چې ديو بنده اولاد مړشي، نو الله د مرګ پرښتو ته وايي: زما د بنده د اولاد روح دې قبض كړ؟ هغه وايي: بلې! نو الله فرمايي: د هغه د زړه ميوه دې واخيسته؟ هغه وايي:

[1] سوره الزمر – آيت ۱۰

[2] منهاج المسلم– ص ۱۸۲

بلې! الله فرمايي: په دغه وخت کې زما بنده څه وويل؟ پوښتې وايي هغه ستا ستاينه وکړه او وې ويل: موږ د الله يو او الله ته ورګرځېدونکي يو، نو الله وايي: په جنت کې هغو ته کور جوړ کړئ او هغه کور په حمد سره ونوموئ.

– کله چې مؤمن بنده د مشکلاتو په وړاندې پر آيتونو او احاديثو عمل وکړي، صبر وکړي، الله تعالی خپل اجر او ثواب څخه غواړي بدي ته په نيکۍ او ښښې سره ځواب وايي بيشکه چې دغه بنده د ايمان او اسلام غوښتنه په عمل کې ثابته کړه له دې کبله الله متعال ورته بې حسابه اجر او ثواب ورکوي. ځکه هرڅوک چې صبر اوښښنه وکړي په رښتيا سره چې لوی کار يې تر سره کړ.

معنای کلمات:(مشقت: سختي)(شکوه: شکايت کول)(انزوا: کناره کيدل)(عيادت:د مريض پوښتنه کول، احوال اخيستل)

د تدريس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضيحي او تشريحي

مرستندويه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشير...

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې سريزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، او د الله تعالی له حمد او ثناء او پر پيغمبرﷺ باندې له درود ويلو، د زده‌کوونکو د احوا ل له پوښتنې، د ټولګي له تنظيم او د حاضرۍ له اخيستلو وروسته مخکينی لوست د کورنۍ دندې په کتلو سره چې په هغې کې د حديث شريف حفظ هم شامل دی، ارزوي. ښوونکی د نوي لوست په اړه د انګيزې پيدا کولو او نوي لوست ته د سرليک پيدا کولو په موخه له څو زده‌کوونکو څخه پوښتنې کوي، لکه: ۱. شکر کول څه مفهوم لري؟ ۲. څوک د شکر ډولونه بيانولی شي؟
۲۵دقيقې د لوست وړاندې کول	ښوونکی د پورتنۍ پوښتنې د سم ځواب له اورېدلو څخه وروسته د لوست سرليک چې (پرتکاليفو صبر) دی د زده‌کوونکي په لاس پر تخته باندې په ښکلي او ښايسته خط ليکي. ښوونکی لوست د بېلګې په څېر لولي، په دويم ځل لوستنه کې له زده‌کوونکو څخه غواړي چې له ده څخه وروسته يې تکرار کړي او په خپله باندې د دوی تکرار ته غوږ نيسي، او د تير وتنې په وخت کې د دوی لوستنه سموي. ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ ليکل شوې دي، پر زده‌کوونکو ژباړي، وروسته يوه زده‌کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنا سره ولولي، ښوونکی د زده‌کوونکو تير وتنې سموي، او له يوه زده‌کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي او په عين وخت کې له زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي. ښوونکی له زده‌کوونکو غواړي چې ټول لوست په پټه خوله مطالعه کړي او د مهمو ټکو لاندې کرښه وباسي او خپله پدې وخت کې د لوست څنګيز سرليکونه پر تخته ليکي. ۱- د صبر حقيقت، ۲- د صبر اهميت، ۳- د صبر اقسام، ښوونکی له څنګيزو سرليکونو څخه په ګټه اخيستلو سره لوست تشريح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټينګار کوي. ښوونکی د لوست له توضيح څخه وروسته زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ ليکلې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي. ښوونکی زده‌کوونکي په درېو يا څلورو ډلو وېشي او تنظيموي يې، دوی ته لارښوونه کوي چې د صبر په اړه

یو له بل سره بحث وکړي او د بې صبری په اړه هم یو له بل سره خبرې وکړي بیا یې په لنډ ډول په یوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او ښوونکی د دې لړۍ سرپرستي کوي. ښوونکی د زده کوونکو د بحث پر وخت د اړتیا په صورت کې له دوی سره ګډون کوي او کمزوري زده کوونکي زیات هڅوي. ښوونکی د ډله ییز کار له پای ته رسېدو وروسته د هرې ډلې له مشر څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي او د بحث پایلې ټولو زده کوونکو ته ووایي، خپله د دوی دکار پایلې ارزوي او تیروتنې یې له توهین پرته اصلاح کوي. **ارزونه:** ښوونکی دې په شفاهي او یا تحریري ډول زده کوونکي و ارزوي او د لوست د زده کړې په هکله دې ځان ډاډمن کړي.	۱۰دقیقې
لنډیز: دا لوست په لاندو ټکو کې لنډیز کیږي. ۱– د صبر حقیقت د نفس دي متوجه کول په کومو کې چې هغه نه غواړي. ۲– د صبر فضیلت په قرآني آیتونو او نبوي احادیثو ثابت شوی دی. ۳– صبر په درې ډوله دی– صبرپرطاعت – صبر له معصیت – صبر پر مصیبت. ۴– د ناروغۍ په ورځو کې صبر کول دګناهونو د له منځه وړلو سبب کیږي. ۵– خدای تعالی صابر انسان دوست ګڼي. ۶– دصبر پایله جنت دی.	۵دقیقې
کورنۍ دنده: ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې هر یو یې د صبر ډولونو په څو کرښو کې شرح کړي.	

دوه ویشتم لوست:

سرلیک: د مسلمان حقوق

مخ: ۷۵

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د حدیث شریف متن په سم ډول ولوستلای شي.

۲- د حدیث شریف د کلمو پر معنا سم وپوهېږي.

۳- متقابل لازم حقوق وپیژني.

۴- متقابل حقوق سم تشریح کړای شي.

اضافي معلومات :

لکه څنګه چې اسلام مؤمنان یو دبل ورووڼه ګڼلي همدا رنګه یې متقابل حقوق هم ورته ایښي دي، چې د مختلفو روایتونو په پرتله د حقوقو شمیر فرق کوي.

علامه ابوبر الجزا ئري د متقابلو حقوقو اودندو په هکله اوږد بحث کړی دی:

۱- مسلمانان باید په مالي اوقتصادي مرستو او د یو دبل د ستونزو په لیرې کولو کې ځان و نه سپموي.

۲- هر یو د دوی باید یو دبل مرستندوی او ملاتړی وي او د هغه اړتیاوې په خپلو اړتیاوو وړاندې وګڼي، یو د بل د حال پوښتنه وکړي که ناروغ وي، باید پوښتنې ته یې ورشي، په کارونو کې د وس په کچه ورسره مرسته وشي او که کورته یې راشي، درناوی یې وکړي، که خبره ورته کوي، خبرو ته یې غوږ ونیول شي.

۳ – خپل مسلمان ورور یوازې په نیکۍ یاد کړي. په شتون او نه شتون کې یې عیب او کمې ونه وایي، رازونه یې ونه سپړي او نه یې د پټو رازونو د څرګندلو هلې ځلې وکړي، دکورنۍ او ژوند په هکله یې هم باید پلټنه ونشي.

په ارامی او مهربانی ورته نصیحت وکړي په هیڅ وجه ملامتیا او رټنه ونکړل شي.

۴- له مسلمان ورور سره د دوست په توګه خبرې وشي او په هغه نامه یې یاد کړي، چې دی یې خوښوي. دنورو سلام او حال پوښتنه ورته ورسول شي، دهغه د نیک نامه په څرګندیدو خوشحاله شي او هغه ته د نورو په وړاندې نصحت ونه کړي. امام شافعي رحمة الله فرمایي: هرڅوک چې بل نفر ته په پټه توګه نصیحت کوي، نو ده سم او حکیمانه کار ترسره کړی دی او که د نورو په وړاندې ورته نصیحت کوي په حقیقت کې یې د هغه آبرو توی کړې او هغه عزت یې تر پښو لاندې کړی دی.

۵- د مسلمان ورور له سهوو څخه باید سترګې پټې شي او رازونه یې پټ وساتل شي او په هغه نیک ګمان ولري. که کومه پټه او ښکاره ګناه یې کوله، اړیکې ورسره ونه شلوي، بلکې باید هغه توبې ایستلوته وهڅوي. که هغه په ګناه ټینګار کاوه نو بیا اختیار لري چې هغه پریږدي او له د هغه په هکله نصیحت ته دوام ورکوي. حضرت ابوداود رحمة الله علیه وایي: «کله چې ویې وینی چې د دوست اخلاق دې تغیر شوي، نو هغه مه پرېږده، ځکه انسان کله په سمه نیغه لاره درومي او کله په بې لارو او کږنګونو.»

٦– مسلمان باید د دوستۍ او وروروګلوۍ په اړیکو کې په ټولو شرطونو کې وفا ولري وي، ځکه د اړیکو پرې کول دوستي له منځه وړي. د دوست له مرګه وروسته له هغه د اولادونو سره د دوستۍ اړیکې باید ټینګې شي، ځکه د الله رسولﷺ د یوې بوډۍ ښځې ډېر احترام کاوه په دې هکله ورځنې پوښتنه وشوه. ده په ځواب کې وویل: کله یې چې د خدیجې سره ژوند کاوه دا ښځه زموږ کره راتله او دخدیجې سره یې دوستي کوله او زه د هغو اړیکو په هکله ځان قرضدار ګڼم. دقربانۍ له ښو ښیانو ځخه یوه داده چې هیڅکله د خپل دوست له دښمن سره دوستي ونکړي.

٧– هغه د سختو کارونو په ترسره کولو مجبور نکړئ او د امکان تر کچې د هغه دشتو او رتبې په هکله انتظار ونه باسئ، ځکه په دین کې وروروګلوي د ایمان او دیني ارزښتونو په بنسټ ولاړه ده، نو باید مادي رنګ او بوی وا نخلي. ([1])

– د مسلمانانو دحقوقو په هکله له رسولﷺ څخه ډېر مبارک حدیثونه روایت شوي دي په دې توګه: (عَن أَبِی هُرِیرَة قالَ قالَ رَسُولُ اللهﷺ لِلمُؤمِنِ عَلی المُؤمِن سِتَّ خِصَالٍ یَعُودُه إذا مَرِضَ وَیُشهِدُهُ إذا مَاتَ وَیُجِیبُهُ إذا دَعَاه وَیُسلِّم عَلیه إذا لَقِیهِ وَیُشمّتهُ إذا عَطسَ وَیَنصَح لهُ إذا غَابَ) {رواه النسائی}

ژباړه: له حضرت ابوهریرهرضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول اللهﷺ وفرمایل: یو مؤمن پربل مؤمن باندې شپږ حقونه لري: که مریض شي پوښتنه یې وشي، که مړشي جنازې ته یې ورشي، که مېلمستیا ته یې را وبولي هغه قبوله کړي، کله چې سره مخامخ شي، نو سلام دې پرې واچوي، که پرنجی وکړي او الحمدلله ووایي ځواب یې ورکړل شي او که مسافرشي، د ده په هکله ښېګڼه ترسره شي.

(عَن أَبِی هُرِیرَة قالَ قالَ رَسُولُ اللهﷺ حَقُ المُسلم عَلی المُسلمِ خَمسٌ رَدَّ السَّلام وَعَیَادَة المَرِیض وَإتبَاعِ الجَنَائز وَإجابَةِ الدَّعوَة وَتَشمَیت العَاطِس) {متفق علیه}

ژباړه: له حضرت ابوهریرهرضي الله عنه نه روایت دی وایي: رسول اللهﷺ وفرمایل: د یوه مسلمان پربل مسلمان باندې پنځه حقونه دي. د السلام علیکم ځواب ورکول، د ناروغۍ پوښتنه، جنازې ته تلل، د بلنې قبلول او د پرنجي ځواب په یرحمک الله سره ورکول.

حضرت رسول اللهﷺ د سلام اچولو او د ناروغ د پوښتنې په اړه چې د لوست ځنګیز سرلیکونه دي، لارښوونه کړې ده:

(عَن أَبِی هُرِیرَة قالَ قالَ رَسُولُ الله ﷺ یُسلِّمُ الرَاکِبُ عَلی المَاشِی وَالمَاشِی عَلی القَاعِد وَالقَلِیل عَلَی الکَثِیر) {متفق علیه}

ژباړه: له حضرت ابوهریرهرضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: باید سپور پر پلي او پلی پر ناست او کوچنۍ ډله پر لویه ډله سلام واچوي.

(عَن أنسٍ أنَّ رَسُولَ الله ﷺ قالَ یَا بُنیَّ إذا دَخلتَ عَلی أهلِکَ فَسلُم یَکُونَ بَرکَةٍ عَلیکَ وَعَلی أهلِ بَیتِکَ) {رواه الترمذی}

ژباړه: له حضرت انسرضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: اي بچیه کله چې خپل کور او کهول ته ننوځې، نو په هغوی باندې سلام اچوه، نو دا سلام به ستا او ستا دکورنۍ لپاره برکت وي.

عَن ثَوبَان قالَ قالَ رَسُولُ اللهﷺ إنَّ المُسلِم إذا عَادَ أخاهُ المُسلمِ لَم یَزل فِی خَرقَةِ الجَنَةِ {رواه مسلم}:

ژباړه: همدارنګه له حضرت ثوبانرضي الله عنه نه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: په یقیني توګه کله چې یو مسلمان د خپل مسلمان ورور د ناروغۍ پوښتنه کوي. هغه به د تل لپاره د جنت په باغچه کې وي یعنې بدله یې جنت دی.

د کلمو معنا: (واعظ: نصیحت کوونکی) (عقیقه – د پسه حلالول دي کله چې ماشوم یا ماشومه پیداشي، په اوومه ورځ یې ویښتان خریي، زوی لپاره دوه پسونه او د لور لپاره یو پسه) کدورت – زړه تنګوالی، بغض – کینه، تدفین – خاورو ته سپارل.

[1] منهاج المسلم– ص ١٥٠

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، او د الله تعالی له حمد، ثناء او پر پیغمبرﷺ له درود ویلو څخه وروسته د زده کوونکو د احوال پوښتنه کوي، د ټولګي له تنظیمولو او د حاضرۍ له اخیستلو وروسته مخکینی لوست د څو پوښتنو په کولو سره ارزوي، لکه: ۱- څوک چې د صبر ډولونه بیانولای شي؟ ۲- څوک صبر له معصیت څخه بیل او شرح کولای شي؟
۲۵دقیقې دلوست وړاندې کول	ښوونکی د پورتنۍ پوښتنې د سم ځواب له اورېدلو څخه وروسته د لوست سرلیک چې (دمسلمان حقوق) دي د زده کوونکي په لاس پر تخته باندې په ښکلي او ښایسته خط لیکي. ښوونکی دا کلمې پر تخته لیکي: واعظ، عقیقه، کدورت اوتدفین. ښوونکی لوست د بېلګې په څېر لولي، په دویم ځل لوستنه کې له زده کوونکو څخه غواړي چې له ده څخه وروسته یې تکرار کړي او په خپله باندې د دوی تکرار ته غوږ نیسي، او د تیروتنې په وخت کې د دوی لوستنه تصحیح کوي. ښوونکی هغه ستونزمنې کلمې چې د تختې پر مخ لیکل شوې دي پر زده کوونکو ژباړي، وروسته یوه زده کوونکي ته بلنه ورکوي چې د تختې مخې ته راشي او هغه کلمې له معنا سره ولولي، ښوونکی د زده کوونکو تیروتنې سموي او له یوه زده کوونکي څخه غواړي چې کلمې له معنا سره ولولي او په عین وخت کې له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لوست ستونزمنې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی له زده کوونکو غواړي چې ټول لوست په پټه خوله مطالعه کړي او د مهمو ټکو لاندې کرښه وباسي او خپله پدې وخت کې د لوست څنګیز سرلیکونه پر تخته لیکي. ۱- د صبر حقیقت، ۲- د صبر اهمیت، ۳- د صبر اقسام، یو څنګیز سرلیک لولي او بل یې ولیکي: ۱- دحدیث فواید، ۲- حق سلام ویل، ۳- هغه ځایونه چې سلام ویل پکې ښه ندي، ۴- بلنه قبولول، ۵- د ناروغ پوښتنه، ٦- د مسلمان په جنازه کې ګډون کول. ښوونکی له څنګیزو سرلیکونو څخه په ګټه اخیستلو سره لوست تشریح کوي او په ارزښتناکو کلمو باندې ډېر ټینګار کوي. ښوونکی د لوست له توضیح څخه وروسته زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تختې پر مخ لیکلې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ښوونکی زده‌کوونکي په درېو یا څلورو ډلو وېشي او تنظیموي یې، دوی ته لارښوونه کوي چې د صبر په اړه یو له بل سره بحث وکړي او د بې صبرۍ په اړه هم یو له بل سره خبرې وکړي بیا یې په لنډ ډول په یوه پاڼه کاغذ کې ولیکي او ښوونکی د دې لړۍ سرپرستي کوي. ښوونکی د زده‌کوونکو د بحث پر وخت د اړتیا په صورت کې له دوی سره ګډون کوي او کمزوري زده‌کوونکي زیات هڅوي. ښوونکی د ډله ییز کار له پای ته رسېدو وروسته د هرې ډلې له مشر څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي او د بحث پایلې ټولو زده‌کوونکو ته ووایي، خپله د دوی دکار پایلې ارزوي او تیروتنې یې له توهین پرته اصلاح کوي. **ارزونه:** ښوونکی دې په شفاهي او یا تحریري ډول زده‌کوونکي و ارزوي او د لوست د زده کړې په هکله دې ځان ډاډمن کړي.	
لنډیز: دا لوست په لاندو ټکو کې لنډیز کیږي. ۱- په اسلام کې اخلاقي نظام دا غواړي چې یو مسلمان باید بل مسلمان ته د متقابل احترام او خیر غوښتنې قائل وي. ۲- د مسلمان حق رعایت کول په بیلا بیلو پړاوونو کې کله فرض، کله واجب، کله سنت اوکله مستحب وي. ۳- په ځینو وختونو کې سلام نه اچول کیږي. ۴- څوک چې د ناروغ پوښتنه کوي د خدای د رحمت مستحق ګرځي. ۵- په جنازه کې اشتراک کول لوی اجر دی، چې له غره سره تشبیه دی.	۱۰دقیقې
کورنۍ دنده: ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې د حدیث متن زده کړي کړي او په خپلو کتابچو کې یې ولیکي.	۵دقیقې

درویشتم لوست:

سرلیک: دوه مخي

مخ: ۸۰

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱- د حدیث شریف متن په سم ډول ولوستلای شي.

۲- د لوست مفهوم په سم ډول زده کړي.

۳-د حدیث شریف د کلمو پر معنا سم وپوهېږي.

۴- ښه صفتونه په ځان کې پیدا کړي او بد صفتونه له ځان لرې کړي.

۵- د بد خصلت د زیانونو په هکله یوه مقاله ولیکلی شي.

اضافي معلومات :

– په ځینو انسانانو کې ناخوښه او ناوړه صفتونه وي، لکه: ظلم، تیری، کینه، شومتیا، منافقت، درغلي، غیبت، ځان غوښتنه، تنبلي، بد ګماني او داسې نور. یوله دغه یاد شویو ناوړه صفتونو څخه دوه مخي ده چې دا صفت له مسلمان سره هېڅ نه ښایي بلکې د منافقانو خوی دی، چې په زړه کې یې یو څه او په ژبه بل څه څرګندوي. دوه مخي انسان د الله ﷻ په وړاندې رسوا کوي.

– کوم انسانان چې خپل ظاهر او باطن له داسې صفتونونه څخه نه پاکوي، نو په حقیقت کې خپل شخصیت په دنیا او آخرت کې د نابودۍ او تباهۍ کندې ته اچوي او پرځان ظلم کوي.

– دا چې مسلمان د هرچا لپاره خیر غوښتونکی دی آن تر دې چې کله نورو ته پرځان غوره والی ورکوي، هیڅکله هغو ناوړه خویونو ته مخه نه کوي، چې د الله او پیغمبر له لوري رټل شوي دي، ځکه پوهیږي، چې دا کار اصلاً د مسلمان د شان او دبدبې سره نه ښایي.

– دوه مخي د خپل ځان په وړاندې بدې او ناوړه پایلې لري، چې د دوو ورونو، کورنیو، قبیلو، قومونو ترمنځ او بلآخره دیوې ټولنې د نړیدو لامل کیږي اوله بلې خوا دوه مخي د مسلمانانو ترمنځ د دښمنۍ او بې باورۍ سبب کیږي، نو همدا وجه ده، چې د اسلام ستر پیغمبر دوه مخي سړي ته ترټولو ناوړه سړی ویلی دی.

لکه چې فرمایي: دوه مخي د عذاب وړ ده او دوه مخی سړی دوزخي دی.

همدارنګه فرمایي:(عَن عِمَارِبنِ يَاسِرعَن النّبی ﷺ قَالَ مَن كَانَ ذاالوَجهَين فِي الدُنيَاكانَ لَهُ لسَانانِ مِن نّارِيَومَ القِيَامَة) سم ابن حبان

ژباړه: له حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایي: څوک چې په دنیا کې دوه مخي کوي د هغو لپاره به په قیامت کې د اور دوه ژبې وي.

– که چیرته د اسلام تاریخ ته یو نظر واچوو. نو تورمخي او دوه مخي کسان به ووینو چې دغه ناوړه صفتونه د اسلامي ټولنې د بدمرغۍ او تباهۍ سبب کیږي.

دځینوکلمو معنا: (معادن: د معدن جمع ده، ذخایر) (مناصب: د منصب جمع ده) (نایاب:کمیاب) (زرع: کښت)
د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي او تشریحي
مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، او د الله تعالی له حمد، ثناء او پر پیغمبرﷺ له درود ویلو څخه وروسته د زده‌کوونکو د احوال پوښتنه کوي، د ټولګي له تنظیمولو او د حاضرۍ له اخیستلو وروسته مخکینی لوست د څو پوښتنو په کولو سره ارزوي، لکه: د مخکیني لوست حدیث شریف څوک له مخې لوستلای شي؟ د مخکیني لوست د حدیث شریف له ګټو څخه دوې ګټې ولیکئ؟
۲۵ دقیقې دلوست وړاندې کول	ښوونکی د نوي لوست په اړه د انګېزې او نوي لوست ته د سرلیک پیدا کولو په موخه له زده‌کوونکو څخه پوښتنې کوي، لکه: هغه څوک چې د دوو مسلمانانو تر منځ بدې خبرې وړي څه ورته ویل کېږي؟ د لوست وړاندې کول: ښوونکی د سم ځواب له اورېدلو څخه وروسته د نوي لوست سرلیک چې (دوه مخي) ده د یو تن زده‌کوونکي څخه غواړي چې په ښکلي خط سره یې د تختې پر مخ ولیکي. ښوونکی زده‌کوونکو ته دنده ورکوي چې لوست په پټه خوله ولولي او ستونزمنې کلمې یې له خپلو ځانونو سره یاد داشت کړي او د (نفرت او رفق) کلمې له معنا سره پر تخته ولیکي. ښوونکی له یو زده‌کوونکي څخه غواړي چې د لوست څنګیز سرلیکونه په ښکلي خط سره پر تخته ولیکي. ښوونکی په یو زده‌کوونکي د لوست سرلیکونه د تختې له مخې لولي. ښوونکی زده‌کوونکي خپلو کتابونو ته متوجه کوي او لوست په لوړ او مناسب آواز سره لولي، د لوستلو پر وخت د لوست ځینې تکراري کلمې له ځان سره لیکي. ښوونکی د حدیث شریف متن په یوه زده‌کوونکي او نور پاتې لوست په څو نورو زده‌کوونکو لولي. ښوونکی زده‌کوونکي د لوستلو پر وخت هڅوي. ښوونکی له زده‌کوونکو څخه غواړي چې د حدیث شریف راوي د کتاب په مرسته معرفي کړي. ښوونکی د څنګیزو سرلیکونو په مرسته لوست تشریح کوي او د توضیح په وخت کې د لوست په مهمو ټکو ټینګار کوي. ښوونکی زده‌کوونکو ته دنده ورکوي چې د لوست کلمې د تختې له مخې په خپلو کتابچو کې ولیکي. ښوونکی زده‌کوونکي پر تختې د کلمو د لیکلو پر وخت کنترول او څارنه یې کوي.
۱۰دقیقې	ښوونکی زده‌کوونکي په مناسبو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې هره یوه ډله د دوه مخي سړي په اړه یو له بل سره بحث وکړي. ښوونکی د ډله ییز کار پر مهال کې ټولګی کنترول او نظم یې ساتي او د اړتیا پر وخت له ځینو ډلو سره مرسته کوي. ښوونکی د ګروپي کار له پای ته رسېدلو څخه وروسته زده‌کوونکي هڅوي او د بحث پایلې ارزوي. **ارزونه:** ښاغلی ښوونکی د خپل ډاډ لپاره له زده‌کوونکو څخه د لوست پوښتنې کوي.
۵دقیقې	**کورنۍ دنده:** ښوونکی له زده‌کوونکو څخه غواړي چې د حدیث شریف متن له ژباړې سره په خپل کور کې حفظ کړي او همدارنګه دوی مکلفوي چې په خپلو کورونو کې د دوه مخۍ د زیانونو په اړه یوه مخ مقاله ولیکي.

څلر ویشتم لوست:

سرلیک: د خوب اداب

مخ: ۸۴

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید

۱- د حدیث شریف متن په سم ډول ولوستلای شي.

۲- د حدیث شریف د کلمو پر معنا سم وپوهېږي.

۳- دحدیث شریف رواي سم معرفي کړلی شي.

۴- د خوب ادبونه رعایت کړلی شي.

اضافي معلومات:

- مسلمان خوب او استراحت د الله تعالی له نعتونو څخه ګڼي لکه: الله تعالی په ډېرو مبارکو آیتونو کې د خوب په هکله فرمايي: (لِتسكُنوُا فِيه) یعنې تاسې په کې ارام کوئ.

- د شپې لخوا هوساینه، خوب او استراحت د ورځني عبادت او دبدن د ارامۍ لپاره ډېره ضروري ده او دا ډېر لوی نعمت دی چې انسان يې باید شکریه ادا کړي له همدې وجهې مسلمان يې په ځان لازمه ګڼي، چې دخوب په هکله لاندې ادبونه مراعات کړي:

۱- که چيرې ضروري کارونه، لکه: علمي بحث او څېړنه، مطالعه، له میلمه سره ناسته او خبرې د خپلې کورنۍ مانع ونه ګرځي بهتره داده چې مسلمان د ماسختن لمانځه وروسته استراحت وکړي. څکه حضرت ابوهريرهؓ روایت کوي، چې رسول اللهﷺ د ماسختن له لمانځه مخکې خوب کول او د ماسختن له مانځه وروسته خبرې کول نه خوښولې.

۲- کوښښ دې وشي چې له ویده کيدو مخکې اودس ولرو، لومړی پرښي اړخ څملو او بیا وروسته په کيڼ اړخ ویده کیدل هم څه منع ندي، خو په خیټه ویده کیدل ښه نه دي له خوب څخه مخکې د لاندې ذکرونو ویل مستحب دي: درې دیرش ځله «سبحان الله، درې دیرش ځله والحمد لله او څلور دیرش ځله والله اکبر» او بیا ورپسې یوځل د «لااله الاّ الله وحده لاشریک له الملک وله الحمد وهو علی کلّ شیءٍ قدیر» ویل دي اوهمدارنګه د فاتحې سورت اود بقرې پنځه لومړني آیتونه او آیة الکرسي ویل مستحب دي.

- کله چې مسلمان له خوبه پاڅيږي د دې دعا لوستل هم مستحب دي: «الحمدُ لله الذى رَدّ عَلىّ رُوحِى وَعَافَانِى فِى جَسَدِى وَأذِن لِى بِذِكرِى» دا دعا هم ویلی شي: « لاإلهَ إلاّالله وَحدهُ لا شَريکَ لهُ المُلکُ وَلهُ الحَمدُ وَهُو عَلى کُلّ شَىءٍ قَدير. سَبحَانَ اللهِ وَالحَمدُ للهِ وَلا إله إلاّ الله وَاللهُ أكبَر وَلا حَولَ وَلا قُوةَ إلاّ بِالله »

- که چیرته دا مسنونه طریقه له خوب نه مخکې لکه څنګه یې چې حق دی رعایت شي، نو په باوري توګه د مسلمان خوب هم عبادت ګڼل کیږي، څکه موږ نشو کولای چې یوازې په ورځ کې په هغه کچه د الله عبادت وکړو، چې دکوم هدف لپاره پیدا شوي یو، لکه چې الله فرمایي: «وما خلقت الجن والانس إلاّ ليعبدون» : یعنې موږ پیریان او انسانان ندي پیدا کړي مګر د عبادت لپاره.

کله څنګه چې اشاره وشوه خو به په حقیقت کې یو الهي نعمت دی چې کله د انسان روح، مغز او بدن په معنوي او فزیکي کارونو ستړی کیږي، نو همدا خوب دی چې ټولې ستړیاوې لیرې کوي او انسان ته ارامي وربښي.

– په جنت کې خوب نشته اونه هلته جنتیان له ستړیا سره مخ کیږي، پدې هکله له رسول اللهﷺ نه پوښتنه وشوه، چې آیا په جنت کې خوب شته؟ پدې هکله رسول اللهﷺ ځواب ورکړ: (عَن جَابِرٍقالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللهﷺ أَيَنَام أهلُ الجَنّةِ قــالَ النَّــومُ أخُوالمَوت وَلا يَمُوتُ أهل الجَنّة) {رواه البيهقى}

ژباړه: له حضرت جابرﷺ نه روایت دی چې یو سړي له رسول اللهﷺ نه پوښتنه وکړه آیا په جنت کې جنتیان خوب کوي؟ رسول اللهﷺ وفرمایل:خوب دمرګ وررور دی او جنتیان نه مري.

– خوب له استراحت سره څه تو پیرلري؟ د خوب اواستراحت ترمنځ توپیر څرګند دی: د خوب به وخت کې د انسان له دوو روحونو څخه چې په بدن کې یې دي یوه خارجیږي او انسان په خپل ځان حاکم او تسلط نلري او ظاهري حواس له لاسه ورکوي اما ژوندی وي، ځکه هغه بل روح چې د مرګ په وخت کې ورځني وځي په بدن کې یې باقي وي لکه چې الله فرمایي: (اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْـأُخْرَى إِلَـى أَجَـلٍ مُسَمًّى إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ) ([1]) { الزمر /۴۲}

ژباړه: هغه همدغه الله دی چې دمرګ په وخت کې ساګاني اخلي او څوک چې لاتر اوسه پوري نه دی مړشوی دهغه روح په خوب کې قبض کوي، بیا چې هغه د مرګ پریکړه پرچا باندې نافذوي، هغه ساتي او د نورو ساګانې تریو ټاکلي وخت پورې بیرته (جسدونوته) لیږي. په دې کې غټې نښانې دي دهغو کسانو لپاره چې غور او فکر کوونکي دي.

– استراحت د هوساینې غوښتنه ده. البته دبیداری په حالت کې دا هوساینه برابره ده دماغي وي او یا جسمي. مثلا یو نفر دماغي کار کوي، لکه: مطالعه، لیکنه، تالیف، تدریس او یا فزیکي کارکوي اوبیا د ستړیا د له منځه وړو لپاره چپ کیني او یا اوږد غزیږي چې همدې ځنډ ته استراحت وایي.

دځینوکلمو معنا:(حراس خوف، ترس) (اتکا – تکیه کردن، توکل) (سان – مثل، طور) (مسنونه– سنت)

د تدریس تګلاره: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي او ګروپي، توضیحي، تشریحي او مباحثوي

مرستندویه درسي توکي: کتاب، تخته، تباشیر...

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې سریزه	ښوونکی ټولګي ته له ننوتلو سره سم له سلام اچولو، او د الله تعالی له حمد، ثناء او پر پیغمبرﷺ له درود ویلو څخه وروسته د زده‌کوونکو د احوال پوښتنه کوي، د ټولګي له تنظیمولو او د حاضرۍ له اخیستلو وروسته مخکینی لوست د څو پوښتنو په کولو سره ارزوي، لکه: – څوک ویلای شي چې دمقام او منصب له مخې بهترین شخصیت څوک دی؟ – څوک ویلای شي چې له دوه مخي سړي سره په آخرت کې کومه معامله کیږي؟
۲۵ دقیقې دلوست	ښوونکی د صحیح ځواب له اوریدلو څخه وروسته د نوي لوست سرلیک چې (د خوب آداب) دی له یو

[1] سوره الزمر– أیت ۴۲

وړانــــدې کول	زده‌کوونکي ځخه غواړي چې په ښکلي خط سره يې د تختې پر مخ وليکي. ښوونکی زده‌کوونکو ته دنده ورکوي چې لوست په پټه خوله ولولي او ستونزمنې کلمې يې له خپلو ځــانونو سره ياد داشت کړي او د (حراس، اتکا، توکل، مثل، مسنونه. کلمې له معنا سره پر تخته وليکي. ښوونکی له يو زده‌کوونکي ځخه غواړي چې د لوست ځنګيز سرليکونه په ښکلي خط سره پر تخته وليکي. ۱- خوب د بدن لپاره ضروري دی، ۲- خوب هم کیدلای شي په عبادت کې حساب شي، ۳- خوب کول پرښي اړخ، ۴- د خوب په وخت کې مسنونه دعاګانې ويل، ۵- وختي خوب کول. ښاغلی ښوونکی د ځنګيزو سرليکونو په مرسته لوست تشريح کوي او د توضيح په وخت کې د لوســت پــه مهمو ټکو ټينګار کوي. ښوونکی په يو تن زده‌کوونکي د لوست سرليکونه د تختې له مخې لولي. ښوونکی زده‌کوونکو ته دنده ورکوي چې د لوست کلمې د تختې له مخې په خپلو کتابچو کې وليکي. ښوونکی زده‌کوونکي خپلو کتابونو ته متوجه کوي او لوست په لوړ او مناسب آواز سره لولي، د لوستلو پر وخــت د لوست ځينې تکراري کلمې له ځان سره ليکي. ښوونکی زده‌کوونکي پر تختې د کلمو د ليکلو پر وخت کنترول او ځارنه يې کوي. ښاغلی ښوونکی زده‌کوونکي په مناسبو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې هره ډله د خوب د آدابو په اړه له يو بل سره بحث وکړي. ښوونکی د ډله ييز کار پر مها ل کې ټولګی کنترول او نظم يې ساتي او د اړتيا پر وخت له ځينو ډلو ســره مرسته کوي. ښوونکی د ډله ييز کار له پای ته رسېدلو ځخه وروسته زده‌کوونکي هڅوي او د بحث پايلې ارزوي. **ارزونه:** ښوونکی د خپل ډاډ لپاره له زده‌کوونکو ځخه د لوست پوښتنې کوي.
۱۰دقيقې	**لنډيز:** دا لوست په لاندو ټکو کې خلاصه شوی دی. ۱- حضرت براء‌ﷺ او پلار يې هر يو د جليل القدره صحابيانو له جملې ځخه دي. پر دې سر بيره د احد له غزوې سره سره يې په څوارلسو غزوو کې ګډون کړی دی، نوموړی په ۷۲ هجري کال په کوفه کې وفــات شوی دی. ۲- لکه ځنګه چې د اسلام مبارک دين په ورځني ژوند کې لارښوونه کوي همدارنګه د خوب کولو په هکله هم لارښوونې لري. ۳- پردې سربيره خوب د انسان لپاره اړتيا په عين حال کې عبادت هم دی. ۴- حضرت رسول الله‌ﷺ د ماخستن د لمانځه نه مخکې خوب او وروسته خبرې نه خوښولې.
۵دقيقې	**کورنۍ دنده:** ښوونکی دې له درسي کتاب ځخه زده‌کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي.

د فقهي برخه

لوست: پنځه ویشتم

سرلیک: اسلام د ژوند کړنلاره ده

مخ: ۸۹

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې:

زده کوونکي باید:

۱_ د اسلام د اقتصادي تګ لارې ښېګڼې وپېژني.

۲_ د کاپيټالېزم او سوسیالېزم اقتصادي نظام په هکله معلومات ترلاسه کړي.

۳_ د اسلام د اقتصادي تګ لارې ځانګړتیاوې وپېژني او نورو ته یې بیان کړی شي.

لازمي پوهه:

لوست: ۲۵_۲۸

د اقتصادي نظام د تعریفولو لپاره لومړی دنظام تعریف او بیا د اقتصاد تعریف ضروري دی.

نظام: هغه ډله عنصرونه دي چې د دوی ترمنځ څه اړیکې شتون ولري او یا رامنځته شي او دا نظام موخې لرونکی وي.

اقتصاد: په لغت کې منځنی تګلاره، منځنی لګښت او منځني ژوند ته وايي.

د اقتصاد لپاره ډېر تعریفونه شوي، خو دوه تعریفونه یې ډېر مشهور دي:

لومړی تعریف: اقتصاد هغو تدبیرونو ته ویل کیږي چې د انساني نامحدودو اړتیاوو او د لازمو محدودو وسایلو ترمنځ همغږي رامنځ ته کوي.

دویم تعریف: اقتصاد په معینو او ټاکلو وسیلو سره زیاتو پایلو او نتیجو ته د رسېدلو یا په ډېرو کمو ممکنه وسیلو سره ټاکلو پایلو او نتیجو ته د رسېدلو لپاره هلې ځلې او زیار ایستل دي.

اقتصاد د انسان یوه ځانګړې تګ لاره ده چې د تولید، توزیع او مصرف په هکله د غوښتنې، ارزښتنې او غوره کولو سره مل او یو ځای وي او تر ټولو زیاته برلاسي هغه ته ور په برخه کړي.

نوموړو تعریفونو ته په پاملرنې سره کولای شو اقتصادي نظام او تګ لاره داسې تعریف کړو:

اقتصادي نظام د هغو مرتبو او منظمو عنصرونو له ډلې څخه عبارت دی چې د تولید، توزیع او لګښت د ارزښتنې او غوره کولو په هکله د ډېرې زیاتې برلاسی هڅونه او فعالیت کوي.([1])

سوسیالېزم ((Socialism)) سوسیالیستي یا ګډ نظام:

په لنډه توګه کولای شو سوسیالېزم داسې تعریف کړو: سوسیالېزم د مالکیت عمومي کول او د حکومت په لاس کې دهغه راوستل دي چې د یوه پراخه اقتصادي نظام په واسطه تنظیمېږي او د لزوم په صورت کې د زور په واسطه ترسره کېږي. د سوسیالېزم د اقتصادي نظام د پیدایښت لاملونو د اقتصاد د پوهانو او غیر سوسیالیستي مکتبونو د نیوکو او انتقادونو او د پانګوال اقتصادي نظام له فکري بنسټونو سره په ټکر کې داسې تفکر او اندېښنه هم را منځته کړه چې دا نظام په خپلو اصولو سره هېڅکله د اقتصادي مسئلو په حلولو سره ټولنیزې ستونزې له منځه وړلی نه شي. ډېر ټولنیز نامناسب شرطونه، بیکاري،

[1] اقتصاد اسلامي، علامه تقي عثماني

عمومي غریبي، د پانګې او شتون غیر عادلانه وېش، اقتصادي ناانډول والی او هغه بحرانونه چې هر ځل د اقتصادي حالــت د لا خطرناک کېدو لامل کېده، د سوسیالیستي نظام او د پانګوال نظام د اصولو تر منځ یې ډېره متضاده موقع برابره کــړه. دا هم بایدووایو چې په سوسیالیستي نظام کې ټول ملکیتونه دولتي ګرځي او شخصي ملکیت وجود نه لري او هر څوک د خپل کار په انډول مزد اخلي او په کمونستي کې، هلته دوی وایي چې هر چا ته د اړتیا په اندازه مزد ورکول کېږي. مثلاً یو تن د سلو روپو کار کوي، خو د پنځو سوو افغانیو اړتیا لري، نو ده ته به پنځه سوه روپۍ ورکول کېږي، البته دا دوره د دوی پــه نزد یو خیالي جنت دی، خو دې مرحلې ته نه دوی رسېدلي دي او نه به ورسېږي، بلکې دا نظام له نړېدو سره مخامخ شو او سرمایه داري نظامونه هم د ړنګېدو په درشل کې دي.

د اسلام اقتصادي نظام:

دا نظام او کړنلاره په دې بنسټ ولاړه ده چې اصلي مالک او خاوند الله دی او د انسان مالکیت او شته موقتي او مجــازي دي، نو باید انسان د حقیقي مالک له امر سره سم عمل وکړي او پرته له دې د انسان مالکیت ناسم ګڼل کېږي او انسانان له الهي نعمتونو او څه چې په ځمکه کې دي، له هغو څخه ټول په مساوي توګه د برخې اخیستلو حق لري، لکه چې الله تعــالی فرمایي: ((هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً)) بقره/۲۹

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسې لپاره یې هغه څه پیدا کړي چې په ځمکه کې دي او هېڅ وګړی په هېڅ توګه نــه د نژاد نه د وینې او نه د قوم ... په بنسټ له نورو وګړو څخه امتیاز او غوره والی لري او نه کومه کورنۍ یا کومه طبقــه د دې حق لري چې څه شی تر ځان پورې اړین وګڼي او نور ورڅخه محروم کاندي او همدارنګه د روزۍ او خوراکې او د ژونــد تېرولو د وسیلو په لاس ته راوړلو کې ټول وګړي برابر دي او د هلو ځلو او کار په پایله کې د مالکیت تفاوت منځ ته راځي. الله ﷻ فرمایي: ((نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا)) د الزحزف سورت آیت (۳۲).

ژباړه: موږ په دغه نړۍ کې د دوی روزي د دوی په منځ کې ویشلې ده او ځنې د دوی مو له ځینو نورو څخه په لوړو مرتبــو پورته کړل. څو ځینې د دوی ځینې نور تابعان کار کوونکي.

مالکیت په اسلام کې محترم ګڼل شوی او د هر وګړي طبیعي حق دی. د روزۍ او خوارکې توپیر چې د کار او استعداد پــه بنسټ منځ ته راځي، دا طبیعي او کسبي خبره ده، نو څوک د هغه د ضبطولو او مصادره کولو او یا له هغه سره د مبــارزې کولوحق نه لري. په دې شرط چې کوم بل لامل چې په هغه کې داستثمار او زور څخه ناوړه ګټه اخیستل ونه لیــده شــي او همدارنګه ځانګړی ملکیت او شته محترم او د هر انسان طبیعي حق دی، البته چې کله له مشروع لارې څخه هغــه لاس تــه راغلی وي خو که چیرې مالکیت له غیر شرعي او غیر قانوني لارې څخه لاس ته راغلی وي او په هغه کې اسلامي شرطونه نه وي رعایت شوي، نو هغه ملکیت د ارزښت وړ نه دی، نو هر ډول کړه وړه چې نورو ته زیان رسوي او یا د ټولنې وګړو تــه مادي او اخلاقي زیانونه رامنځ ته کوي، هغه له شرعې له لارې حرام دي او مرتکب یې پرې نیول کېږي، نو ټول الکــولي او نشه یي توکي، فحشا او بې حیایي، قمار وهل، سود خوړل، احتکار، زیان راوړونکي معاملات او په لنډه توګه هر هغه عمــل چې په هغه کې یعني هم د ځان په تاوان وي او هم نورو ته تاوان ولري، د شریعت له مخې حرام دي او مرتکب یې په هــېڅ ډول له قانوني څخه د ځان ژغورنې حق نه لري او نه یې ملکیت داحترام وړ ګڼل کېږي.

لنډه دا چې ا سلامي اقتصادي نظام نه بې قيد او بې بندوباره پانګه واله خوا لري او نه د سوسياليستۍ ديکتاتورۍ زور او ظلم، بلکې دا يوه طبيعي او فطري لاره ده چې د هېڅ وګړي حق نه ضايع کوي او د عامه مصلحت په نظر کې نيولو سره اسلام د هروګړي په حق اعتراف کوي.

د تدريس لارې: پوښتنه او ځواب، تشريحي، توضيحي او ګروپي

وخت	فعاليتونه
۵ دقيقې	ښوونکی له سلام او روغبړ څخه وروسته د فقهې د نوي سرليک په هکله زده کوونکو ته په زړه پورې معلومات ورکوي او ورته وايي چې اسلام د ژوندانه تګ لاره ده او بيا زده کوونکو ته لارښوونه کوي، چې لوست په پټه خوله له خپلو ځانونو سره مطالعه کړي او ستونزمن ځايونه په نښه کړي، وروسته ښوونکی لوست د زده کوونکو له سويې سره سم تشريح کوي او د زده کوونکو پوښتنو ته ځوابونه وايي، وروسته بيا د نوي لوست يو يو سرليک په زده کوونکو شرح کوي. وروسته زده کوونکي په مناسبو ډلو وېشي او کمزوري زده کوونکي له لايقو زده کوونکو سره په يوه ډله کې تنظيموي او د ډلو مشران ورته ټاکي، چې د نوي لوست په هکله په خپلو کې بحث او څېړنه وکړي او بيا يې پايله ټولګيوالو ته بيانوي او ښوونکی ورسره مرسته کوي. **د لوست لنډيز:** هر مسلمان باور او عقيده لري چې الله جل جلاله زموږ پيدا کوونکی او پالونکی او حقيقي مالک دی او د بشر د لارښوونې لپاره يې پيغمبران رالېږلي او حضرت محمد ﷺ وروستنی پيغمبر دی او ده موږ ته بشپړ او کامل دين بيان کړی دی، يعني لکه څنګه چې يې عبادتونو او ادبونه تشريح کړي دي د ژوندانه هر اړخ يې هم تشريح کړی دی. د مثال په توګه کورنی ژوند، سياست، اقتصاد، امنيت، ښوونه او روزنه او د ژوندانه نورې اړتياوې يې په ځانګړې توګه بيان کړې دي. الله په هر څه کامل علم لري او ټول قوانين يې له هر زيان او کمي څخه پاک دي. **ارزونه:** ۱_ د اسلام د اقتصادي نظام په هکله خپل نظريات ووايئ؟ ۲_ د اسلام مقدس او سپېڅلی دين ((د ژوندانه په هر اړخ کې بشپړ احکام لري)) دا عبارت شرح کړئ. ۳_ د اسلام، سوسياليستۍ او پانګوالۍ ترمنځ د اقتصاد په هکله توپير بيان کړئ؟ کورنۍ دنده: ښوونکی زده کوونکو ته د درسي کتاب له مخې کورنۍ دنده سپاري.

لوست: شپږ ویشتم

سرلیک: د اسلام اقتصادي نظام

مخ: ۹۱

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ د اسلام اقتصادي نظام وپېژني.

۲_ د نړۍ د نظامي نظامونو سره آشنايي تر لاسه کړي.

۳_ د کاپیتالېزم او سوسیالېزم عنصرونه او ځانګړتیاوې وپېژني او نورو ته يې بیان کړای شي.

۴_ د اسلام له نظره د کار په ارزښت وپوهېږي.

۵_ د اسلام په اقتصادي نظام کې د زکات د رول په هکله بشپړ معلومات ترلاسه کړي.

لازمي پوهه:

کار د اسلام له نظره:

د اسلام په سپېڅلي دین کې کار او انساني هلې ځلې او د الله ﷻ په وړاندې خپله دنده ترسره کول د عبادت حکم لري، نو د کار کوونکي هلې ځلې سپېڅلې او ارزښتناکې دي، لکه څنګه چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: ((هېڅوک نه شي کولای چې د خپل لاس له مزدورۍ څخه پاکيزه خوراک لاس ته راوړي.))

په دې هکله حضرت داؤد عليه السلام سره له دې چې پيغمبر و بيا يې هم د خپل تندې په خولې کولو سره ژوند تېراوه او په ډېره غوره بېلګه ورځنې يادونه شوېده.

رسول الله ﷺ بيا مهرباني کوي فرمايي: کوم سړی چې د خپلو اولادونو د نفقې پيدا کولو يا د خپل مور او پلار د اړتياوو د پوره کولو او يا د خپل ځان لپاره د روزۍ د ګټلو په خاطر له کوره ووځي، ځو چې کور ته راستون شوی نه وي د الله په لاره کې ګڼل کېږي او همدارنګه نبي کريم ﷺ زيږی ورکوي هغو کسانو ته چې د دې لپاره کار کوي، څو مور او پلار او اولادونه يې نورو ته محتاج نه شي او د دروېزې لاس چا ته اوږد نه کړي، په هر قدم کې د عبادت ثواب لاس ته راوړي.

يوه ورځ رسول الله ﷺ د حضرت معاذ رضي الله عنه سره د مصافحې په ترڅ کې وفرمايل: ای معاذه! خپل لاسونه دې ترلي دي، هغه ځواب ورکړ بلې، ای د الله رسوله! کلنګ وهم او د خپلې کورنۍ نفقه حاصلوم ....

رسول الله ﷺ حضرت معاذ مچو کوي او فرمايي: دا لاسونه د دوزخ اور نه سوځوي.

فعالیتونه	وخت
ښوونکی له سلام او حال پوښتنې څخه وروسته تېر شوی لوست ارزوي، مثلاً: ۱_ څوک ویلای شي چې په اوسنۍ نړۍ کې څو اقتصادي نظامونه شتون لري، نومونه یې واخلئ؟ ۲_ په درې ګونو اقتصادي نظامونو کې کوم نظام د بشریت لپاره ګټور تمامیږي او ولې؟ ښوونکی له ځوابونو اورېدلو وروسته د نوي لوست سرلیک (د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې) په تخته لیکي او زده کوونکو ته ښوونه کوي څو لوست په پټه خوله له ځانونو سره ولولي. بیا نوی لوست ورته شرح کوي او بیا زده کوونکو ته دنده سپاري، چې ((کی لایکون دولة بین الاغنیاء)) بیان کړئ. **د لوست لنډیز:** سرمایه داري او سوسیالیستي نظامونه دواړه ناکام دي، ځکه په سرمایه دارۍ کې ټوله پانګه او سرمایه د محدودو څو بډایانو لاس ته ورځي او لوی سرمایه داران واړه سرمایه داران له پښو غورځوي او غریبان پکې غریبان کېږي او په سوسیالیستۍ کې خو هر چا ته د کار او زحمت په اندازه مزد ورکول کېږي، نو که یو نفر په کور کې ډېر اولادونه ولري، نو د ده مزد د ټولو لپاره نشي کافي کېدای. په ځانګړې توګه که څوک ناروغ یا معیوب وي، نو هغه به څه کوي؟ اما اسلام د ملت ټول اړخونه او ټولې اړتیاوې په نظر کې نیولې او تر ټولو دمخه یې دېته توجه او پاملرنه کړې ده، چې باید مال او حلالې لارې څخه لاس ته راوړي او په حلاله لاره یې مصرف کړي او د غریبانو او بېوزلو لپاره یې په اسلام کې زکات، عشر، صدقات او نور... په بډایانو لازم کړي، څو د غریبانو او بېوزلو چاره وشي او د دوی ترمنځ مینه او محبت هم رامنځ ته شي. **ارزونه:** ښوونکی دې له درسي کتاب څخه د پوښتنو په کولو سره زده کوونکي وارزوي. **کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې زموږ د هېواد د اقتصادي نرام په هکله یوه لنډۀ مقاله ولیکي.	

لوست: اووه ویشتم او اته ویشتم

سرلیک: د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې

مخ: ۹۳-۹۶

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱ـ د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې وپېژني.

۲ـ وپوهېږي چې کوم ډول اقتصادي نظام کامیاب کوم ډول ناکام ګڼل کېږي.

۳ـ د لوست ګټې نورو ته بیان کړای شي.

د فعالیت حل:

لاندې آیاتونه د اسلام اقتصادی نظام اساسات بیانوي:

(كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ...) د الحشر سورت آیت (۷).

یعنې دا د مالونو مصرفول او لګښت یې ځکه شرح کړ، څو یتیمان، محتاجان او عامه بېوزلی مسلمانان د تل لپاره د مرستې مورد واقع شي. د اسلامي ټولنې عمومي ضرورتونه پوره شي او همدارنګه دا مالونه یوازې د پانګوالو او شتمنو خلکو په لاسونو زیرمه نشي، ځکه په دې کار سره د پانګوالو پانګه لازیاتېږي او غریبان له لوږې او هلاکت سره مخامخ کېږي او ټولې وړې سرمایې او پانګې له منځه ځي.

(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا...) د الحشر سورت آیت (۷).

ژباړه: پیغمبرﷺ چې څه تاسو ته درکوي، نو هغه واخلئ او له څه شي څخه چې تاسو بندوي له هغو منع شئ.

یعنې مال او نور شیزونه چې پیغمبرﷺ د الله په حکم تقسیموي هغه په رضا او مینه قبول کړئ څه چې درکوي هغه واخلئ او له څه شي څخه چې مومنع کوي د هغه نه لاس په سر شئ او په دې توګه د هغه د ټولو حکمونو، امرونو او نواهیو پابندي وکړئ.

که څه دا دوه کرښلارې او قوانینه د فی (غنیمت) او د هغه د وېش په باره کې ذکر شوي، خو دا دوه کرښلارې د دې موضوع له پولو څخه ډېر پورته قدم ایږدي او د اسلام د ټولنیز نظام لوړو پوړیو ته رسېږي.

په ټولنه کې اقتصادي نظام ته تر ټولو قوانینو مخکې او زیاته اړتیا لیده کېږي، په دې کتنه کې فردي ملکیت په رسمیت پېژندل شوی او په هغه یې اعتراف کړی دی او په هره ټولنه کې چې مالونه د پانګوالو په لاسونو کې سره تبادله شي، نو هغه وضع او حالات د اسلامي اقتصاد سره مخالفت بنیي، نو باید په ټولنه کې ټولې اړیکې او معاملې داسې تنظیم شي، څو داسې وضع رامنځ ته نشي چې په هغه کې مالونه ټول د څو پانګوالو په لاسونو کې ولوېږي او بېوزلان او مسکینان ورځنې محروم شي.

اسلام عملاً خپل نظام او کرښلاره په دې قانون پورې تړلې ده. اسلام زکات واجب کړی دی د اصل پانګې او نغدې شتمنیو په سلو کې دوه نیم (۲،۵) فیصده او په نورو حاصلاتو او غلو دانو کې لس (۱۰) فیصده او یا پنځه (۵) فیصده زکات ټاکلی دی. په څارویو کې یې هم زکات فرض کړی دی او په غنیمتونو کې د مجاهدینو لپاره څلور پر پنځه ($\frac{4}{5}$) برخه ټاکلې ده. برابره ده چې مجاهد غني وي یا فقیر.

همدارنګه اسلام د ځمکې په کرلو کې هم ځانګړی قانون لري چې دهقان او بزګر د ځمکې د خاوند سره په ځمکه کې شریکوي او همدارنګه اسلام د مسلمانانو مشر ته دا حق ورکړی چې د پانګوالو او شتمنوله مالونو څخه مالیه واخلي او هغه بېوزلانو او فقیرانو ته ورکړي او آن تر دې د مسلمانانو مشر ته حق ورکوي چې د بودیجې د کمبود او د بیت المال د خالي والي په صورت کې د پانګوالو په مالونو کې تصرف وکړي او یو څه ورځنې واخلي. یا پر دوی څه دنده وټاکي.

اسلام احتکار او سود حرام کړی، ځکه دا هم د دې سبب کېږي چې مالونه د پانګوالو په لاسونو کې سره مبادله شي او له دې څېړنې څخه دا نتیجه اخلو چې پانګوال نظام د قرآن په همدې نیم آیت مردود ګڼل شوی، ځکه په پانګوال نظـام کـې وړې سرمایې او پانګې له منځه ځي او ټول پانګه او شته د څو محدودو کسانو لاس ته ورځي او د دوی د چړچو او عیشونو زمینه برابروي.

لنډه دا چې اسلامي نظام هغه کړنلاره ده چې فردي او شخصي مالکیت آزاد او مباح ګڼي او د الله ﷻ له لوري راغلـی دی او څه شي چې د الله ﷻ له لوري سرچینه اخیستې وي هغه حتماً د بندګانو په ګټه تمامېږي.

د فعالیت شرح او څېړنه:

مال څه دی؟

مال طبیعتاً د ملکیت محل دی او د انساني ژوندانه لپاره یو ضروري او بنسټیز عنصر ګڼل کېږي چې پـه غالبـه توګـه د معاملاتو، لکه د بیعې، اجارې، وصیت او داسې نورو ځای نیسي.

مال په لغت کې هغه شی دی چې په لاس راوړل کېږي یا هغه شی دی چې د چا په ملکیت کـې اوسـېږي او د مبـادلې ارزښت لري او یا دا چې انسان له هغه څخه ګټه اخیستلای شي او د تملیک وړ وي. او هر هغه شی چې د انسان په تـصرف کې نه وي هغه مال نه ګڼل کېږي، لکه مرغه په هوا کې، ماهي په اوبو کې او داسې نور...

د مال په هکله فقهاء دوه نظریې لري:

۱ـ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له نظره هر هغه شی چې دهغه تصرف او ساتنه ممکنه او په عادي توګه له هغه څخه ګټـه اخیستل کېږي، مال دی.

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه له نظره مال دوه عنصرونه لري:

۱ـ د هغه د تصرف او ساتنې امکان: نو هر هغه چې په تصرف او ساتنه کې رانشی اوتصرف یې ممکن نه وي، هغه مال نـه دی، لکه: علم، روغتیا، شرف، هوا او داسې نور...

۲ـ ګټه اخیستل له هغه څخه ممکنه وي: نو هر هغه شی چې ګټه ورځنې ممکنه نه وي، هغه مال نه دی، لکه: د مـردارې غوښه، فاسد شوی خوراک او یا دا چې په دودیزه توګه د هغه څخه د لازمې استفادې امکان نه وي، لکه یوه دانـه وریجـه مال نه ګڼل کېږي، ځکه په تنهایي له هغې څخه ګټه نشي اخیستل کېدای. همدارنګه د یوه حرام شي څخه ګټـه اخیـستل د مخمصې په حالت کې د مال حکم نشي رامنځته کولای، ځکه د مخمصې حالت یو استثنایي حالت دی.

۳ـ د جمهورو فقهاؤو نظر: هر شی چې د قیمت خاوند وي او هلاک کوونکی یې ضامن ګڼل کېږي، هغه مال دی.

د احنافو د تعریف څخه داسې معلومېږي چې مادي څیزونه او اعیان چې د خارجي وجود لرونکي وي مال حـسابېږي امـا ګټې او حقوق مال نه دی. یوازېې ملکیت دی، ځکه تصرف ورباندې ممکن نه دی، لکه د لمـر روښـنایي او تـودوالی، د کورونوهستوګنه، سپرلی په موټرونو کې او داسې نور...

آیا مال پلیت اود غورځېدلو شی دی؟

ممکنه ده څوک داسې وګڼي چې اسلام په بنسټیزه توګه مال یو پلیت او لرې غورځېدلی شی ګڼي، نو کوم شی چې پلیـت او د غورځولو وړ وي، هغه باید څه اصول او مقررات هم ونه لري، نو باید هغه لاس ته رانه وړو، په هغه لاس ونه وهو، هغـه لاس په لاس نکړو، هغه په مصرف ونه رسوو، لکه چې د شرابو په هکله راغلي دي ((لعن الله بایعها و مشتریها و آکل ثمنها و ساقیها و شاربها...)) یعنې الله تعالی د شرابو په خرڅوونکي، اخیستونکي، جوړونکي، شراب ورکوونکي او شراب څـښونکي باندې لعنت ویلی دی. داسې مفکوره یوه لویه اشتباه ده چې په اسلام کې مال او پانګه سپک ګڼل شوي دي، بلکې مـال او

پانګه يې تائيد کړي او هغو ته يې شرطونه او کړنلارې ټاکلې دي. هېڅکله پانګه او شته د اسلام له نظره لرې غورځېدونکي نه دي، خواسراف او تبذير اود مال ضايع کول په غوڅه توګه حرام دي.

اشتباه له هغه ځايه رامنځ ته شوې ده چې اسلام پانګه او شته داسې اصلي موخه نه ګڼي چې د انسان انسانيت ورځنې قربان شي او مادي پانګه اصلي هدف وګرځول شي او په دې هکله يې مبارزه ورسره کړې ده.

په بله وينا اسلام د پيسو لمانځنه او دا چې انسان د پيسو مريی واوسي او د پيسو د ذخيره کولو لپاره شپه او ورځ هلې ځلې وکړي او له هېڅ ډول زيار او کوښښ څخه ځان ونه سپموي بده ګڼي، لکه چې الله فرمايي: وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ. د التوبه سورت آيت (۳۴).

ژباړه: هغه کسان چې سره او سپين زر ذخيره کوي او هغه د الله په لاره کې نه لګوي، نو هغوی ته په درد لرونکي عذاب زيری ورکړئ.

چې د دې حالت نوم حرص دی او اسلام هغه غندي. داسې پيسې غوښتل ذلت او سپکتيا ده او د انساني شخصيت او معنوي شرافت له منځه وړلو دي. له بلې خوا کوم انسان چې پيسې د آبرومندانه ژوندانه د وسيلې په سرليک لاس ته راوړي، ليده کېږي چې پيسې د هغه کلي هدف تابع ګڼي چې انسان د هغه لپاره پيداشوی دی، داسې پيسې نه يوازې د ده شخصيت ته ضربه ورکوي، بلکې خپل مقصد ته د رسېدو يوازينۍ لاره ګڼل کېږي.

دا چې الله ﷻ فرمايي: (كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَى (٦) أَن رَّآهُ اسْتَغْنَى (٧)) د العلق سورت آيت (٦ــ٧).

ژباړه: هيڅکله داسې نده د انسان هرومرو سر کشي کوي. يعنې انسانان نافرماني کوي هر کله چې ځان بې احتياجه ګڼي.

دغه آيت د انساني شخصيت په فاسدولو کې د پيسو رول بيان کړی او په څرګنده توګه بيانوي چې مال او شته په خپل ذات کې د سرغړونې لاملونه نه دي، بلکې د سرغړونې لامل دا دی چې انسان له نورو او کله د الله ﷻ څخه هم ځان بې احتياجه احساسوي.

همدارنګه الله فرمايي: ((زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ)) (ال عمران/۱۴)

ژباړه: د خلکو لپاره په زړه پورې (ځيزونه لکه) ښځې او اولاد او د سرو او سپينو زرو ډيرې شوې زيرمې کره آسونه... ښايسته کړی شوي دي.

له بله لوري نوي مکتبونه لکه پانګوالي او مارکستي چې د ژوندانه بنسټ اقتصاد ګڼي او د مال او پانګې څخه يې د فرد او ټولنې لپاره معبود جوړ کړی او خلک د هغه عبادت ته هڅوي. اما اسلام مال او پانګې ته نه په تفريطي او منفي نظر سره ګوري او نه ورته په افراطي او ډېر مثبت نظر، بلکې وايي:

الف: اسلام مال او پانګه د ژوندانه بنسټيزه بنه ګڼي. له همدې کبله الله تعالی فرمايي: ((وَلاَ تُؤْتُواْ السُّفَهَاء أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللّهُ لَكُمْ قِيَاما)) يعنې مال او شته چې ستاسو د ژوندانه بنسټ پرې ولاړ دی ناپوهانو ته مه ورکوئ.

ب: د قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې مال د خير او ښېګڼې په سرليک ياد شوی دی، د مثال په توګه: ((وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ)) او په رښتيا سره هغه مال ډېر خوښوي. ((قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ)) ووايه هغه څه چې له ماله لګوئ (لومړيتوب) مور او پلار او خپلوانو ته ورکړئ.

((كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ)) يعنې هر کله چې يو د تاسو ته مرګ ورسېږي، نو که مال مو پرېښې وي، وصيت درباندې واجب دی.

په ذکر شوو آیتونو کې مال ته د ((خیر)) کلمه استعمال شوې ده. او مال او شته او بې احتیاجي یې نعمت ګڼلی چې الله تعالی یې پر پیغمبرﷺ او مؤمنانو د احسان په توګه یادوي او فرمایي: ((وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى)) یعنې ته یې بېوزلی وموندې او بې نیازه یې کړې.

ج: رسول اللهﷺ خپله نظریه په لنډو او شاملو جملو سره داسې بیان کړې ده: پاک او حلال مال او شته د نیک او صالح انسان لپاره ډېر خوښ دي. (رواه احمد)

مال او شته نشو کولای چې په خپل ذات کې مطلق خیر او مطلق شر وګڼو، بلکې مال او شته د اسلحې او وسیلې په څېر دي چې که چېرې د نیکو انسانانو لاس ته ورشي، نو ښه او ګټور شی دی او که په واجبه اړتیاوو، لکه حج، جهاد، زکات، د ځمکې په آبادۍ او نورو ښو کارونو کې استعمال شي، نو د ژوند تر ټولو مهمه او بنسټیزه وسیله ده.

لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه اسلام یوازې د دې غوښتونکی نه دی چې مال او پانګه د معبود په ښه د انسان لپاره وځلېږي او د الله د بندګۍ نه د مانع کېدو لامل وګرځي او انسان باید داسې د مال او پانګې عاشق ونه اوسېږي چې مال او پانګه د دې په ځای چې وسیله وګڼل شي خپل وروستنی مقصود او هدف وګرځول شي، څو د الله جل جلاله په وړاندې سرغړونه او بغاوت رامنځ ته کړي، دا هماغه خبرتیا ده چې اسلام انسان ته وړاندې کړې څو د دنیا لمانځنې په ګرداب لاهو نشي.

الله جل جلاله فرمایي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلاَ أَوْلاَدُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ)) (المنافقون/۹)

ژباړه: ای مؤمنانو ستاسې شتمني او ستاسې اولاد باید تاسې د الله جل جلاله له یاده غافل نکړي او هرڅوک چې دا کار وکړي همدوی زیانکاران دي.

د_ اسلام تولید، پانګې، کرنې، صنعت او نورو ته توصیه کوي.

هـ_ د مالونو د غلا، خیانت او غصب لپاره شدید قضایي قوانین وضع شوي دي.

و_ د مال څخه دفاع د جهاد حکم لري او په دې لاره کې مړه ته شهید ویل کېږي.

ز_ د فردي اړتیاوو په حدودو کې د مال لګول له هر ډول اسراف څخه باید خالي وي.

د مال سره مینه او علاقه او په هغه کې تصرف او لاس ته راوړنه داسې شی دی چې د بشر په فطرت کې شتون لري، څکه الله تعالی د انسان په هکله فرمایي: ((وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ)) (العادیات/۸)

ژباړه: او هغه د مال او شتو سره ډېره سخته علاقه لري. او بل ځای فرمایي: ((وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا)) (الفجر/۲۰)

یعنې مال او شتو سره ډېره مینه لري.

نو که یو مسلمان غواړي چې دین او دنیا او آخرت یې روغ او سالم پاتې شي باید د الله او رسول په حکم راضي واوسي، حلالو ته حلال او حرامو ته حرام ووایي او د الله له پولو تیری ونکړي، څو یو پاک او سپېڅلی ژوند ولري، الله یې کورنۍ او اولادونه وساتي او مالونه یې ورته د جاري صدقې په توګه وګرځوي او په داسې حالت کې د الله سره مخ شي چې هغه ورځنې خوشحال وي.

الله تعالی په قرآن کریم کې د متوفي په میراث کې د مستحقینو برخې په داسې توګه ټاکلې دي چې بېلګه یې په هېڅ قانون کې نه لیده کېږي او واقعي عدالت پکې مراعات شوی دی.

د اسلام نه مخکې ځینو خلکو د میراث په هکله ځانونه مطلق العنان ګڼل د خپلې خوښې سره سم یې میراث تقسیم کاوه، ځینو د متوفي اصول (پلار او نیکه) د متوفي په فرع (اولاد) کې د میراث مستحق نه ګڼل او نه یې ښځه د مړه په مال کې د میراث وړ بلله، ځینو د کورنۍ مشر د میراث مستحق ګڼلو او ځینو به لویو زامنو ته د وړوکو زامنو په پرتله دوه چنده حصه ورکوله او ځینو به د خپلوانو په منځ کې فرق نه کاوه، ټولو خپلوانو ته به یې مساوي برخه ورکوله چې دا څرګنده ظلم دی.

نو اسلامي شریعت د دې لپاره چې عدالت پلی شي د ورثې ترمنځ د جنګ او جګړې او اختلافونو لمن ټوله شي، هر یوه تــه یې په میراث کې برخه ټاکلې ده، آن تر دې چې مؤرث ته یې دا حق نه دی ورکړی چې د خپل مال تر دریمې برخې زیــات چا ته ورکړي او یا وصیت ورته وکړي.

همدرانګه اسلامي شریعت ښځې او میړه ته هم په میراث کې برخه ټاکلې ده حال دا چې ښځې د اسلام نه مخکې د میراث وړلو حق نه درلود، بلکې د دې سره به د مال او متاع په څیر معامله کېدله، په میراث بــه وړل کېــده او پــه نکــاح بــه مجبورېدله، بلکې مطلقاً د ملکیت حق یې نه درلود او که به کله د څه شي مالکه کیده په هغه کې یې هم دخپــل میــړه لــه اجازې پرته تصرف نشوای کولای، همدا اسلامي شریعت دی چې ټولې بې عدالتۍ یې له منځه یوړې او ټولو ته یې د ملکیت حق ورکړ.

وخت	فعالیتونه
	ښوونکی له مخکنیو مقدماتو څخه وروسته د څو پوښتنو په مطرح کولو تېر شوی لوست ارزوي، د بېلګــې پــه توګه: ۱_ څوک د اسلام اقتصادي نرام تعریفولای شي؟ ۲_ څوک د کاپټالېزم غوره ځانګړتیاوې بیانولی شي؟ شوونکی د ځوابونو له اورېدلو وروسته د اسلام د اقتصادي نرام په هکله لنډ معلومات ورکوي او د نوي لوســت سرلیک په تخته لیکي. بیا زده کوونکو ته ښودنه کوي، چې لوست په چوپه خوله ولولي او مهمې موضوع ګانې یې له ځان سره په نــښنه کړي. بیا ښوونکی د لوست څنګیز سرلیکونه په تخته لیکي او زده کوونکو ته یې تشریح کوي. **د لوست لنډیز:** د اسلام اقتصادي په هکله قرآن او سنتو او اسلام پوهو شخصیتونو خپل نظریات وړاندې کړي او پــه ځــانګړې توګه د مال د لاس ته راوړلو او د هغه د لګولو په هکله یې خلکو ته اوږده بیانونه کړي دي. په اوسنۍ نړۍ کې د اسلام په اقتصادي نظام سربېره دوه نور اقتصادي نظامونه هم شتون او پیروان لري، چې یــو کاپیتالېزم او بل سوسیالېزم دی. کاپیتالیزم د غربۍ نړۍ د اقتصاد غوره برخه تشکیلوي او د اقتصاد په هکله یې خلکو ته زیــاتې آزادۍ ورکــړې دي، آن تر دې چې سود او قمار ته یې هم جواز ورکړی دی. سوسیالیزم: دا نظام له خلکو څخه د آزاد کار حق سلبوي او د تولید وسیلې تر دولت پورې اړوند بولي او هر چا ته د کار په اندازه مزد ټاکي. **ارزونه:** د کتاب له ارزونو څخه دې زده کوونکي وارزول شي. **کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې د اقتصادي نظام په هکله درې قرآني لارښوونې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

لوست: نهه ویشتم او دیرشم

سرلیک: د میراث په هکله قراني لارښوونې

مخ: ۹۷-۱۰۱

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې:

دزده کوونکي باید:

۱_ د میراث په هکله قرآني لارښوونې وپېژني.

۲_ وپوهېږي چې په قرآن کریم کې د ښځې لپاره څو ډوله د میراث حق ذکر شوی دی.

۳_ د هغو کسانو حقوق چې په مبارک آیت کې ذکر شوي دي هغه وپېژني او آیت حفظ کړای شي.

د فعالیت حل:

ذکر شوی آیت ولولئ او لاندې صورتونه ورځنې راوباسئ:

۱_ د ښځې د میراث حق او شرطونه:

ښځې دوه حقه لري: ربع او ثمن یعنې څلورمه او اتمه

فرض (برخه)	مستحق	د استحقاق شرطونه	د استحقاق دلیل
څلورمه ۱/۴	زوجه (ښځه)	مړی اولاد ونلري	وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ
اتمه ۱/۸	ښځه یا ښځې	مړی اولاد ولري	فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم

۲_ د مېړه د میراث حق او شرطونه: ۱/۸، ۲/۳، ۱/۳، ۱/۶

فرض (برخه)	مستحق	د استحقاق شرطونه	د استحقاق دلیل
نیمه ۱/۲	مېړه	مړی اولاد نلري	وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ
څلورمه ۱/۴	مېړه	مړی اولاد لري	فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ

وخت	د ښوونکي فعالیت
۵دقیقې	ښوونکی د مقدماتي موضوع ګانو په وړاندې کولو د تېر شوي لوست په هکله څو پوښتنې ارزوي. **۱ــ** په اسلامي نظام کې د مال د ارزښت په هکله ابن تیم څه نظریه لري؟ **۲ــ** د میراث د تقسیم په هکله چې کوم آیتونه راغلي څوک ورځنې یو آیت ویلای شي؟ **۳ــ** ایا د مال خاوند په مرض الموت کې خپل ټول مال چاته ډالۍ کولای شي او که نه؟ له هغه وروسته د نوي لوست سرلیک ((د میراث په هکله قرآني لارښوونې په لوی خط په تختــه لیکــي او زده کوونکو ته لارښوونه کوي، څو لوست په پټه خوله ولولي. بیا د څو زده کوونکو څخه غواړي څو د لوست آیت تلاوت کړي، بیا نوی لوست ورته شرح کوي او بیا یې په زده کوونکو هم تکراروي. بیا زده کوونکي په دریو ګروپونو کې وېشي او دنده ورکوي چې د لوست په آیت کې فکر وکــړي او لانــدې موضوع ګانې ورځنې راوباسي: ۱ــ د ښځې د میراث حق او شرطونه یې. ۲ــ د مېړه د میراث حق او شرطونه یې. ۳ــ د مېړه او ښځې له میراث پرته د نورو د میراث په هکله څه ویل شوي دي. بیا د استازیو څخه غواړي څو رااېستل شوې موضوع ګانې په غور او فکر سره زده کړي او ځان پرې وپوهوي. **د لوست لنډیز:** د لوست لنډیز د درسي کتاب له مخې ولولئ. **ارزونه:** ښوونکی د درسي کتاب له ارزونو څخه زده کوونکي ارزوي. **کورنۍ دنده:** د لوست آیت باید په صحیح توګه حفظ کړي.

لوست: یو دیرشم

سرلیک: د میراث په هکله قراني لارښوونې

مخ: ۱۰۲

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې:

زده کوونکي باید:

۱ـ د هغه مېړه میراث چې (کلالة) اولاد نلري یا د هغې ښځې میراث چې مور او پلار یې وفات شوي وي وپېژني.

۲ـ وپوهېږي چې کله خور یوازې وي، څومره میراث ورڅای شي.

۳ـ هغه مبارک آیت چې د دې لوست په هکله راوړی شوی دی حفظ کړي.

د فعالیت حل:

۱ـ کلاله څه ته وايي؟

ځواب: کلاله هغه چا ته وايي چې پلار، مور او ژوندی اولاد ونلري (یعنې چې نه اصل ولري نه فرع) او کلاله د الکل څخه مشتق دی د ضعف او بېوزلۍ په معنا دی، لکه چې ویل کېږي: کل الرجل اذاضعف و ذهبت قوته... د علماؤ په اجماع سره کلاله په هغه مړي اطلاق کېږي چې اولاد او مور او پلار نلري.

۲ـ که خور یوازې وي څومره میراث ورڅای شي؟

ځواب: که خور یوازې وي، یعنې مړی زوی، پلار، لمسی، لور، لمسۍ، اعیاني ورور ونه لري، نیم ۱/۲ اخلي.

۳ـ په هغه صورت کې که خویندې له یوې څخه زیاتې وي او ورور ونلري، څومره میراث وړي؟

ځواب: دوه ثلثه ۲/۳ میراث اخلي.

۴ـ که وروڼه او خویندې سره یو ځای شي، نو ورور د خور په پرتله څومره میراث ورڅای شي؟ځواب: په دې صورت کې ورور دوه چنده د خور میراث وړي.

د تدریس لاره: پوښتنې او ځوابونه، تشریحي او توضیحي

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د مقدماتي موضوع ګانو وروسته د څو پوښتنو په طرح کولو سره تېر شوی لوست ارزوي، وروسته ښوونکی د لوست نوی سرلیک چې د میراث په هکله قرآني لارښوونې (۳) دي په لوی خط په تخته لیکي او زده کوونکو ته امر کوي چې لوست یو ځل په چپه چوپتیا سره ولولي. وروسته لوست شرح کوي او بیا یې د څو زده کوونکو په واسطه تکراروي. وروسته زده کوونکي په دریو ډلو وېشي او دنده ورکوي چې د کتاب فعالیت په خپلو کتابچو کې حل کړي او بیا یې د استازیو په واسطه ټولګیوالو ته بیان کړي. وروسته ښاغلی ښوونکی د درسي کتاب له مخې د لوست لنډیز ورته شرح کوي او د دوی د ارزونې لپاره د درسي کتاب په ارزونه یې ارزوي. وروسته په کورنۍ دنده کې ورته امر کوي چې د لوست آیت په مینه او شوق حفظ کړي، ځکه پرته د آیت له حفظ کولو د ورثې برخې نشي معلومېدای.

لوست: دوه دیرشم

سرلیک: د میراث د علم مبادي

وخت: دوه درسي ساعتونه

مخ: ۱۰۴

موخې: زده کوونکي باید:

۱ـ د میراث د علم تعریف صحیح وپېژني.

۲ـ د میراث د علم په ارزښت وپوهېږي او نورو ته یې بیان کړی شي.

۳ـ د مړي په متروکه پورې اړوند حقوق وپېژني او د میراث په عملي قضیه کې یې بیان کړی شي.

لازمي پوهه:

د میراث لفظ په لغت کې په دوو معناوو استعمال شوی دی:

۱ـ د بقاء په معنا، همدا وجه ده چې یو د الله په نومونو کې وارث دی: ((وانا لنحن نحیي و نمیت و نحن الوارثون))

یعنې او پرته له شکه همدا موږ یو چې ژوندي کول کوو او مړه کول کوو او موږ د ټولو وارث یو.

همدارنګه د ((وارث)) کلمه د رسول اللهﷺ په دعا کې داسې راغلې ده: ((اللهم متعنی بسمعي و بصري واجعله الوارث مني))

ژباړه: ای الله ما د خپل غوږ او سترګو نه مستفید وګرځوې او هغوی زما د وفات تر وخته روغ او جوړ باقي وساتې.

۲ـ د انتقال په معنا یعنې د یوه شي انتقال (حسي وي یا معنوي) د یوه سړي نه بل سړي ته یا د یوه قوم څخه بل قوم ته ویل کېږي: مال او لویي یې د فلاني څخه په میراث وړې ده.

یو تن چې د میراث په اساس د یوه مال مستحق وي وارث ورته ویل کېږي، مړي او په میراث پورې مستحق مال ته ((مورث)) ویل کېږي. مثلا وایي: که څه هم د مړي لپاره په غالبه توګه مُوَرِّث استعمالېږي.

د میراث کلمه په عربي ژبه کې مصدر دی او فعل یې ((وَرِثَ)) دی، ویل کېږي: ورث فلان اباه ورثاً و وراثة وارثاً و میراثاً، نو د ارث او میراث کلمه په یوه معنا استعمالېږي او د ((ورث)) فعل مصدر دی.

او د اسلامي فقهاؤ په اصطلاح کې د میراث علم د هغو فقهي او حسابي قواعدو څخه عبارت دی چې د هغه په واسطه د مړي په متروکه کې د هر وارث برخه ټاکل کېږي.

د میراث د علم غوره والی:

ابن ماجه په خپل سند له ابو هریرهؓ څخه حدیث نقل کوي چې رسول اللهﷺ فرمایي: د میراث علم زده کړئ او هغه نورو ته هم وښیئ، ځکه د میراث علم نیم علم دی او دا علم ډېر په تېزۍ سره هېرېږي او هغه لومړنی شی دی چې زما د امت څخه به جلا کېږي.

ابو داؤد سنن په خپل سند سره له عبدالله بن عمرو بن عاصؓ څخه روایت کړی چې د الله رسولﷺ فرمایي: علم درې ډوله دی او په هغه زیاتوالی زیاتوالی دی: محکم آیتونه، په ښنو ټینګ سنت او عادلانه میراث.

حاکم له عبدالله بن مسعودؓ څخه نقل کوي چې رسول اللهﷺ وفرمایل: قرآن زده کړئ او هغه خلکو ته وښیئ او د میراث علم زده کړئ او خلکو ته یې هم وروښیئ، ځکه زه مرم او علم له امته پورته کېږي او ممکنه ده چې دوه نفره به د میراث په هکله په خپلو کې مختلف وي او څوک به نه مومي چې د هغوی سره مرسته وکړي.

حضرت عمرؓ به خلک د میراث علم زده کولو ته هڅول او فرمایل به یې چې د میراث علم زده کړئ، ځکه دا ستاسو د دین یوه برخه ده.

تر ټولو غوره سړی چې د رسول اللهﷺ څخه وروسته يې د ميراث په علم کې پوهه او وياړ ګټلی و، زيد بن ثابتﷺ و او رسول اللهﷺ په دې ګواهي اداء کوله. احمد او ابن ماجه، ترمذي او نسايي د انسﷺ څخه روايت کوي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: تر ټولو مهربانه سړی زما په امت کې ابوبکر او تر ټولو غښتلی عمر او تر ټولو شرمناک او پاک لمنی عثمان او د حلال او حرام په مسائلو تر ټولو عالم معاذ بن جبل او په قرآنکريم تلاوت کولو کې تر ټولو غوره ابي بن کعب او د ميراث په علم کې تر ټولو پوه او ماهر زيدبن ثابت رضوان الله عليهم دي او هر امت يو امانتدار لري او زما د امت امين ابوعبيده بن جراح دی.

د دې حديث نه معلومه شوه چې زيد بن ثابت د ميراث په علم کې تر ټولو صحابه ؤو ښه عالم و. د يوولسو کلونو و چې مدينې منورې ته يې تشريف راوړ او د خندق په غزوه کې يې لومړنی شرکت و او د رسول الله د وحې کاتب هم و. حضرت ابوبکرﷺ ورته د قرآنکريم جمع کولو امر وکړ او ورته ويې ويل چې ته يو پوه او هوښيار ځوان يې او تا ته د وحې د کتابت شرف حاصل دی، نو قرآنکريم جمع کړه. زيد ويل په الله قسم که د يوه غره په پورته کولو دې راته امر کړی وای هغه ما ته آسانه و د دې کار نه چې ماته دې پرې امر کړی دی.

صحابه کرامو به د زيد بن ثابت د علم له کبله ډېر احترام کاوه، آن تر دې روايت شوی چې عبدالله ابن عباسﷺ به د ده د اوښ رکاب ورته نيوه او زيدﷺ به ورته ويل ای د رسول اللهﷺ د کاکا بچيه خوشې يې کړه هغه به ويل موږ د خپلو علماؤو او لويانو سره داسې کړه وړه کوو.

د زيد بن ثابتﷺ د وفات په ورځ ابن عباسﷺ وفرمايل: نن زموږ له منځ څخه علم سفر وکړ او ډېر علم مو له لاسه ورکړ او ابوهريرهﷺ به ويل: د دې امت جوهر او پانګه له منځه ولاړه او ښايي چې الله تعالی ابن عباسﷺ دده په ځای کېنولی وي او ډېر علما هم په ميراث کې زيد بن ثابت ته ترجيح ورکوي.

د ميراث د علم فايده:

د ميراث علم د اسلامي فقهې په کتابونو کې د فرايضو په علم سره هم نومول شوی دی، فرايض د فرض جمع ده او په لغت کې په ګڼو معناوو راغلی، لکه تقدير، تعين، غوڅول، نازلېدل، حلال، بيان او د هغه څه په معنا هم دی چې بې عوضه ورکول کېږي، لکه دا قول د عربو: ما احبت منه وقرضاً ولاقرضاً يعنې له هغه څخه مې نه د عوض په مقابل کې څه واخيستل او نه د بلاعوض او هره معنا د ميراث په علم کې موجودېدای شي، ځکه په ميراث کې برخې د الله له لوري نازل شوې او په مفصله توګه بيان شوې دي او د ميراث اخيستل ورثې ته حلال دي او پرته له کوم عوضه د خپل مورث د مال مستحق ګرځي.

د ميراث اسباب:

اسباب د سبب جمع ده او په لغت کې هغه شی دی چې د هغه په واسطه بل ته وصل کېږي او په اصطلاح کې د هغه شي نه عبارت دی چې دهغه له شتون څخه شی موجودېږي او د نه شتون څخه يې شی نه موجودېږي، لکه د لمر پرېوتل چې د ماښام د لمانځه لپاره لامل او د روژه لرونکو لپاره د افطار لامل کېږي، نو د لمر پرېوتل چې د ماښام د لمانځه لپاره لامل او د روژه لرونکو لپاره د افطار لامل کيږي، نو د لمر پريوتل ددې احکامو د ثبوت سبب دي.

د رجيه په متن کې راغلي دي: د ميراث سببونه درې دي چې هر يو له دوی څخه د ميراث خاوند د ميراث مستحق ګرځوي، هغه نکاح، ولاء او نسب دي له دې پرته بل سبب د ارث لپاره شتون نه لري.

قرابت (نسب):

د وينو قرابت او خپلوي چې د زېږېدو لامل وي د ميراث په علم کې په درې ډوله ده:

د فروضو (برخو) خاوندان: د مړي خپلوان دي چې الله تعالی په قرآنکریم یا نبوي سنتو کې ورته برخې ټاکلې دي، لکه پلار، نیکه، مور، نیا، لور، وربره، اعیاني خور او پلرنۍ خور او مورنی اولاد.

۲ـ عصبه: (هغه کسان چې صریحاً مقدره برخه نه لري) پلرنۍ کورنۍ ته نږدې لکه زوی، لمسی او یا تر دې ښکته او اعیاني ورور او زوی یې، علاتي ورور او زوی یې، اعیاني کاکا او زوی یې او پلرنی کاکا او زوی یې.

۳ـ ذوی الارحام: لکه د لور لور، د لور زوی ماما او زوی یې او مور او د مور پلار دا ټول د پلار له طرفه او یا یې د زوی له طرفه د مړي فامیل ګڼل کېږي، نو پورته کسان لکه پلار نیکه او کاکا په واقعیت کې د پلار ورور او د دې په شان دي او ولد والی په زوی یا زامنو کې ډېر ظاهره دی، که هر څومره ښکته وي او په لور او زامنو یې هم اطلاق کېږي او لور د فرضو خاونده ده او زوی یې د ذوی الارحامو جزء دی، ځکه تر بلې کورنۍ پورې اړیکې لري.

هغه دلیل چې د خپلوۍ او قرابت په میراث دلالت کوي دا مبارک آیت دی: ((لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا)) (النساء/۷)

ژباړه: د هغه څه نه چې د پلار، مور او خپلوانو ته پاتې کیږي د نارینه وو لپاره برخه ده او (هم) د هغه څه نه چې د پلار مور او خپلوانو څخه پاتې کیږي د ښځو لپاره برخه ده که (شتمني) لږه وي یا زیاته ټاکلی برخه ده.

دویم_ نکاح:

هغه صحیح حقیقي یا حکمي نکاح ده چې لاندې شرطونه باید پکې مراعات شوي وي:

۱ـ هغه ښځه چې په یوه صحیح تړون یې نکاح شوې وي برابره ده چې د مړه شوي مېړه سره یې جماع کړې وي یا نه.

۲ـ طلاقه شوې ښځه چې طلاق یې رجعي وي او د عدت په مهال کې وي.

۳ـ هغه ښځه چې باین طلاق ورکړ شوی وي او د مرض الموت په مهال کې وي او لاندې شرطونه پکې شتون ولري:

الف_ له طلاق ورکولو څخه یې موخه د میراث څخه محرومولی وي، د ښځې د غوښتنې په خلاف.، اما چا چې خپله ښځه. د مرض الموت په مهال کې د ښځې د خیانت یا بد چلند چې د زغم وړ نه وي یایې د مرتد والي له وجې طلاقه کړې وي، نو له ده څخه میراث نه شي وړلای.

او هغه دلیل چې د نکاح له لارې د میراث وړلو په حق کې دلالت کوي دا مبارک آیت دی: ((وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ))

ژباړه: او تاسو لره د هغه ترکې نه نیمایي برخه ده کوم چې ستاسو ده ښځو پاتې ده که چیرې د دوی نه اولاد نه وي پاتې شوی.

دریم_ ولاء:

دې ډول ولاء ته د عتق (آزادولو) ولاء وایي، ځکه د مریي په آزادولو پورې اړه لري، نه د قسم تر ولاء پورې او کومه معاهده او ژمنه چې تر هغو غلامانو پورې ځانګړې شوې وي چې بادار یې آزاد کړي وي، نو په پایله کې دا بادار د خپل غلام مال په میراث وړلای شي که غلام وارث ونه لري چې د ولاء او وفا په معنا یې ټینګار کړی وي، ځکه هغوی یې آزاد کړي او د غلامانو په آزادولو کې په داسې توګه تشویق کوونکی وي چې د دوی حق د هغوی په میراث کې له منځه ولاړ نشي.

په دې درې ګونو سببونو باندې ټول علماء اتفاق لري او هر کله چې کوم وارث د خپلوۍ یا نکاح یا ولاء په سبب شتون ونلري، بیا یې وارث بیت المال دی او په دې صورت کې بیت المال ته د مال سپارل د مصلحت په اساس دي نه د میراث، لکه کوم ورک شوی شی چې خاوند ونلري.[1]

لاندې جدول د میراث سببونه بیانوي:

---

[1]. په دې هکله چې آیا بیت المال منظم دی یا نه، عادل حاکم پرې ا شراف لري یا نه، په دې هکله د ابن جزي قوانینو ته مراجعه وکړئ.



د میراث موانع:

مانع په لغت کې د دوو شیزونو ترمنځ پردې ته ویل کېږي او په اصطلاح کې هغه شی دی چې د شتون په سبب یې د شخص څخه د سبب له قیامه وروسته د حکم انتفاء راځي او د میراث موانع د احنافو په نزد څلور شیان دي: مرئیتوب، وژنه، د دین اختلاف او د ځای (هېواد) اختلاف.

۱ــ مرئیتوب: هغه حکمي او اعتباري مانع دی چې د انسان سره لازم شوی او په هغه سره قیام پیدا کوي او د هغه د پیدایښت اصلي لامل کفر دی، نو غلام نه میراث وړای شي او نه له ده څخه میراث وړل کېدای شي. او نه څوک حجب (منع) کولای شي.

او حجب په لغت کې د منع په معنا دی او په اصطلاح کې د یوه وارث منع کول او بندول دي د متروکې له ټول مال یا ځینې مال څخه، د یوه بل ډېر مستحق شخص په واسطه.

۲ــ وژنه: هغه وژنه د میراث مانع کېږي چې د قصاص لامل وي، نو چا چې خپل مورث قصداً مړ کړ، نو د ده له مال او دیت څخه میراث نشي وړلای. اما که یې خپل مورث په خطا او سهوې سره مړ کړ، نو په دغه صورت کې دمال نه میراث وړلای شي نه د دیت نه.

۳ــ د دین اختلاف: مسلمان له کافر او کافر له مسلمان څخه میراث نشي وړای پرته د ولاء له لارې. هر کله له کافر د ترکې له تقسیم نه مخکې مسلمان شو، نو اسلام ته د ترغیب له وجې میراث ورکول کېږي او کفر ډېر ډولونه لري او د رسول الله ﷺ څخه احادیث روایت شوي چې د دین اختلاف د میراث مانع کېږي.

۴ــ د ځای (هېواد) اختلاف: د اوسېدنې د هېواد اختلاف هم د میراث مانع کېدای شي اومطلب یې دا دی چې هغه هېوادونه چې مورث او وارث ورته منسوب دي، د سلطې او قدرت درلودنې له کبله مستقل او خپلواک دوه رئیسان ولري او یو د بل تابع ونه اوسي.

د هېواد اختلاف هغه وخت مانع ګڼل کېږي یعنې د دوو هېوادو پیروان چې یو د بل سره خپلوي ولري یو د بل څخه په لاندې دریو حالتونو کې میراث نشي وړلای:

۱ــ دواړه هېوادونه ځانګړي او خپلواک عسکر د خپلې دفاع او ساتنې لپاره ولري.

۲ــ دواړه هېوادونه ټاکلې جغرافیاوي پولې او د امورو د ادارې لپاره خپلواک رئیسان ولري.

۳_ دواړه هېوادونه د جنګ په حالت کې وي د یوه هېواد د عسکرو یا پیروانو وژنه بل هېوادته د بین المللي قوانینو سره سم جرم ونه ګڼل شي.

د اسلامي فقهې علماء په دې عقیده دي چې د هېواد اختلاف د مسلمانانو ترمنځ د میراث مانع نه ګرځي، ځکه اسلامي هېوادونه سره له دې چې حکومتونه یې جلا او سیاسي نظامونه یې سره مختلف او یو د بل څخه لرېوالی لري، خو حاکم یې یو دی، مسلمانان که هر ځای او په هر هېواد کې اوسېږي د قرآني آیت: ((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ)) په بنسټ سره وروڼه دي او بل ځای الله ﷻ فرمايي: ((وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ)) یعنې مؤمنان او مؤمنانې ځینې د ځینو نورو کار جوړوونکي دي او د رسول الله ﷺ د وینا سره سم: ((اَلْمُسْلِمُ اَخُوالْمُسْلِم)) یعنې مسلمان د مسلمان ورور دی او که کله نا کله د اسلامي هېوادونو ترمنځ ناوړه تفاهم یا څه اختلافات رامنځ ته شي، دا اختلافات موقتي بڼه لري او د اسلام د سپېڅلي دین د اصولو سره سم دوی مکلف دي چې خپل اختلافات له منځه یوسي او د صمیمیت او محبت په ډکه فضا کې سره ژوند وکړي، نو د اسلامي بنسټونو سره سم مسلمانان د خپلوۍ په صورت کې یو د بل څخه میراث وړلای شي، هر ځای چې اوسېږي. د احنافو او شوافعو په وړاندې د هېواد اختلاف د کافرانو په هکله د میراث مانع کېږي، نه د مسلمانانو ترمنځ.

د تدریس طریقه: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي، توضیحي، تمثیلي

وخت	فعالیتونه
۵ دقیقې	ښوونکی دمخکینیو موضوعاتو وروسته د تېر شوي لوست په هکله له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي، مثلاً: ۱_ د میراث وړلو لاملونه څوک ویلای شي؟ ۲_ د میراث موانع کوم شیان دي؟
۲۵ دقیقې	د لوست وړاندیز: ښاغلی ښوونکی د ځوابونو له اورېدلو وروسته د نوي لوست سرلیک (د میراث د علم مبادي) په لوی خط په تخته لیکي او زده کوونکو ته دنده سپاري څو لوست په چوپتیا سره ولولي او بیا زده کوونکو ته لوست شرح کوي او زده کوونکي متوجه کوي چې میراث دوه شرطونه لري: ۱_ د مورث مړینه ۲_ د مورث له مرګه وروسته د وارث ژوندون. بیا ښوونکی زده کوونکو ته د متروکې په اړوند معلومات ورکوي او وایي چې په متروکه پورې څلور حقونه اړه لري: ۱_ د مړي کفن او خښول ۲_ د مړي د قرضونو اداء کول ۳_ د مړي وصیت ترسره کول ۴_ د ورثه د حقوقو اداء کول. وارثان: له ذوی الفروضو، عصبه وو، ذوی الارحامو او موصٰی له دی په ټول مال سره. بیا ښاغلی ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه غواړي څو د میراث ارکان او شرطونه عملاً تمثیل کړي.
۱۰ دقیقې	د لوست لنډیز: د میراث علم هغه علم دی چې مستحقینو ته د مړي څخه د پاتې مالونو د انتقال او وېش په هکله بحث کوي. د میراث د علم موضوع: د مړي متروکه مال دی. غرض یې: د مړي له متروکې څخه د مستحقینو د متروکې پېژندل دي، څو هر مستحق خپل حق وپېژني او په نورو ظلم ونکړي او د میراث علم ته نیم علم ویل شوی دی.
۵ دقیقې	ارزونه: ښوونکی د درسي کتاب له مخې کورنۍ دنده ورکوي.

لوست: درى ديرشم

سرليک: ذوى الفروض او برخې يې او د ښځو له ډلې څخه د ذوى الفروضو حالتونه:

مخ: ۱۰۶

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي بايد:

۱ـ ذوی الفروض وپېژني.

۲ـ د ذوی الفروضو ټاکل شوې برخې زده کړي او په ټولنه کې يې تطبيق کړای شي.

۳ـ د ښځو د ذوی الفروضو حالتونه وپېژني.

۴ـ د نرانو د ذوی الفروضو حالتونه وپېژني.

لازمي پوهه:

د وارثانو حقوق:

د مړي د تکفين، تجهيز او خښولو او قرضونو له اداء کولو او د ۱/۳ وصيت ترسره کولو وروسته چې څومره مال پاتې شي هغه د وارثانو حق دی او په لاندې توګه بيانېږي:

۱ـ د فروضو (برخو) خاوندان: هغه کسان دي چې الله تعالی د نساء سورت په آيتونو کې ذکر کړي او پيغمبرﷺ هغه په نبوي احاديثو کې ټاکلې دي چې هغه شپږ برخې دي: ۱/۲، ۱/۴، ۱/۸، ۲/۳، ۱/۳، ۱/۶ يا په بله وينا نيم، څلورمه، اتمه، دوه دريمې، دريمه او شپږمه.

۲ـ نسبي عصبې: دا د فروضو له خاوندانو څخه پرته نږدې خپلوان دي او د فروضو له خاوندانو څخه وروسته هر څه چې له ترکې څخه پاتې شي، هغه اخلي او که د برخې خاوند وارث شتون ونلري، بيا ټوله ترکه اخلي.

۳ـ که عصبه شتون ونلري او د برخو خاوندانو ټوله ترکه نه وي اخيستې، نو باقيمانده يې د برخو خاوندانو ته رسېږي، پرته له يو د زوجينو څخه چې دې عمل ته د ميراث په علم کې رد وايي.

۴ـ ذوی الارحام: د فروضو له خاوندانو او عصبې نه پرته خپلوان دي، لکه د لور زوی او ماما دوی يوازې هغه وخت ميراث وړي چې د فروضو خاوندان او عصبه شتون ونلري يا د فروضو له خاوندانو څخه يوازې يو له زوجينو باقي پاتې وي. همدارنګه که چېرې کومه ښځه مړه شي مېړه او ماما ولري، نو مېړه نيمه ترکه وړي او نيمه نوره ماما ته رسېږي، ځکه د ذوی الارحامو جز دی.

۵ـ زوجينو ته رد کول (د خپلې برخې له حاصلولو وروسته) که چېرې عصبه يا ذوی الارحام ونه لري، د بېلګې په توګه که چېرې يو سړی مړ شي او يوازې ښځه يې وارثه وي، نو ښځه خپله برخه مال اخلي او نور پاتې هم په رد سره اخلي، ځکه عصبه او ذوی الارحام وجود نلري او حکمت پکې دا دی چې شيخ حسب الله وايي: د ذوی الارحامو له ميراثه مخکې هېڅ يوه زوجينو ته نه رد کېږي، ځو مال پر دوی مقدم شي او د صله رحمۍ د پرې کېدو لامل کېږي. الله تعالی فرمايي: ((وَأُوْلُواْ الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللّهِ إِنَّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ)) (الانفال/۷۵)

ژباړه: او د الله ﷻ په کتاب کې د وينې خپلوان يو دبل نه زيات حقدار دی بيشکه الله ﷻ په هرشي پوهيدونکی دی.

۱ـ سببي عصبه: کوم بادار چې خپل غلام آزاد کړي او دا غلام مړ شي او د فروضو خاوند، عصبه او د کورنۍ ورثه ونه لري، نو دا بادار د ده عصبه کېږي او ميراث اخيستلی شي. دا د هغو وارثانو حقوق دي چې په ميراث پورې تړلي مسبب لري، لکه خپلوي يا نکاح يا ولاء.

کله چې څوک له دې ذکر شوو څخه څوک ونه لري چې ميراث ورته ورسېږي، نو ترکه په ترتيب سره له دريو لاندې ډلو څخه يوه ته ورکول کېږي.

الف_ هغه څوک چې اقرار د ده په نسب سره شوی وي او دا اقرار پر بل حمل شوی وي، مثلاً يو تن چې نسب يې مجهول دی پيدا کوي او نوم يې زيد دی او محمد اقرار کوي چې ورور يې دی، محمد په داسې حال کې چې په دې خپل

اقرار ټینګار کوي، مړ کېږي او کوم وارث هم نلري، نو زید د محمد د مالونو او پانګې وارث کېږي او ویل کېږي چې دا داسې اقرار دی چې پر بل بار شوی دی، ځکه کله چې محمد وایي: هغه مې ورور دی، نو ضرورتاً یې هغه خپل پلار ته منسوب کړی او دا اقرار د محمد د پلار په نسبت نافذ او جاري نه دی، یعنې زید د محمد له پلار او ورور او خور او هیڅ شخه میراث نه وړي. او دا اقرار یوازې د محمد په حق کې نافذ او د اجراء وړ دی. که چېرې محمد مړ شي او حقیقي یا حکمي وارث ونه لري، دلته په هغه اقرار چې د خپل ځان په هکله یې کړی د ده سره چلند کېږي، نه د بل په حق کې.

ب_ چا ته چې له دریمې زیات وصیت شوی وي، نو که چېرې بل قبلي وارث شتون ونلري، نو دغه تن چې تر دریمې زیات ورته وصیت شوی کولای شي هغه واخلي.

ج_ هر کله چې هېڅ یو له وارثانو چې مخکې ذکر شول شتون ونلري، نو د مړي مالونه او شته د مسلمانانو بیت المال یا د حکومت عمومي خزانې ته سپارل کېږي او دلیل پرې دا دی چې پیغمبرﷺ فرمایي: زه د هغه وارث یم چې وارث ونلري او دا شخصاً د پیغمبر په معنا نه دی، بلکې د مسلمانانو مصلحت دی.

د تدریس طریقه: پوښتنې او ځوابونه، انفرادي، توضیحي، تشریحي، تمثیلي.

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د مخکینیو موضوعاتو له وړاندې کولو وروسته تېر شوی لوست په څو پوښتنو ارزوي. بیا وروسته د نوي لوست سرلیک ((ذوی الفروض او د دوی برخې)) په لوی خط په تخته لیکي. بیا زده کوونکو ته لارښوونه کوي څو لوست له خپلو ځانونو سره ولولي. ښوونکی د ذوی الفروضو برخې چې نیمه، څلورمه، اتمه، دوه په دریمه، دریمه او شپږمه ده او همدارنګه د نارینه وو ذوی الرفروضو حالتونه، لکه پلار، نیکه، ورور او مېره په تخته لیکي او بیا هر یو زده کوونکوته شرح کوي. بیا زده کوونکو ته دنده ورکوي څو د ذوی الفروضو حالتونه او د دوی برخې په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې د ذوی الفروضو حالتونه او برخې ټولګیوالو ته بیان کړي.
	د لوست لنډیز: ذوی الفروض هغه کسان دي چې برخې یې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ټاکل شوې دي چې د اسلام په سپېڅلي شریعت کې شپږ دي: نیمه، څلورمه، اتمه، دوه دریمې، دریمه او شپږمه او د ټاکل شوو برخو مستحقین دولس تنه دي چې څلور د نرانو له ډلې او باقي اته تنه د ښځو نه دي. د نرانو له ډلې ذوی الفروض دا دي: پلار، صحیح نیکه (لوی پلار) وروړمور لخوا، مېړه.
	ارزونه: ښوونکی د خپلې ډاډینې لپاره د درسي کتاب له پوښتنو څخه زده کوونکي ارزوي.
	کورنۍ دنده: زده کوونکي باید ذوی الفروض او د هغوی برخې زده کړي.

لوست: څلور دیرشم

سرلیک: د ښځو له ډلې څخه د ذوی الفروضو حالتونه

مخ: ۱۰۹

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱ــ د ښځو له ډلې د ذوی الفروض حالتونه وپېژني.

۲ــ اته ډلې ذوی الفروض یاد کړی شي.

۳ــ د لوست لاس ته راوړنې تطبیق کړای شي.

د تدریس طریقه: تشریحي، توضیحي او د پوښتنو ځوابونه

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی له مخکینیو موضوعاتو څخه وروسته د څو پوښتنو په ترڅ کې تېر شــوی لوســت ارزوي او د نوي لوست د سرلیک لپاره زده کوونکو ته انګېزه روکوي او بیا یې په تخته لیکي. زده کوونکي په چوپتیا سره د لوست په لوستلو مشغولوي او دی په خپله بغلي سرلیکونه لیکي، لکه ښځه، لــور، د زوی لور، اعیاني خور، علاتي خور، مور، نیا (د مور مور) او اخیافي خور. بیا هره یوه شرح کوي او د لوست په مهمو نکتو زیات ترکیز کوي. بیا ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته دنــده ورکوي څو د ښځینه وو ذوی الفروضو حالتونه او د دوی برخې په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې ټولګیوالو ته یې بیان کړي. بیا د لوست لنډیز ورته بیانوي او د درسي کتاب له پوښتنو څخه د دوی ارزونه کوي او کورنۍ دنده ورسپاري.

لوست: پنځه دیرشم

سرلیک: عصبات

مخ: ۱۱۳

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ عصبه وپېژني.

۲_ د عصبه حقوق وپېژني او نورو ته يې بيان کړای شي.

۳_ د حجب لغوي او اصطلاحي معنا او د هغه اساسي هدف او موخه وپېژني.

لازمي پوهه:

د میراث د اسبابو دويم سبب عصوبت دی او ورثه چې په عصوبت سره د میراث مستحق ګرځـي د ذوی الفروضـو نـه وروسته قرار لري.

عصبات د عصبه جمع ده او د عربو د دې وينا څخه چې د احاطې معنا ورکوي اخيستل شوېده چې وايي: عـصب القـوم بالرجل عصبا، ځکه د يوه نفر نارينه خپلوان چې د ده په واسطه يې مذکر ته منسوب کړي دا نفر يـې احاطـه کـړی او د ضرورت په مهال دفاع ترې کوي او د ميراث د علم په اصطلاح کې عصبه هغه چا ته ويل کېږي چې د ذوی الفروضـو پـه نشتوالي کې د ټولې ترکې مستحق ګرځي او د دوی د شتون په حالت کې د دوی نه وروسته د بقيه مال مستحق کېږي.

عصبه په درې ډوله ده:

۱_ عصبه بنفسه: هغه څوک دی چې په خپل ذات عصبه واوسي دقرابت په سلسله کې مړی مؤنث نوي او عـصبه بنفـسه ټول نارينه او په څلور ډوله دي.

_ د مړي فروع: زوی، د زوی زوی او له دې نه ښکته. _ د مړي اصول: پلار، د پلار پلار او يا ترې پورته.

_ د مړه پلار فروع: اعياني او علاتي وروڼه او زامن يې. _ د مړه نيکه فروع: اعياني او علاتي کاکاګان او زامن يې.

۲_ عصبه بغيره: هغه کس دی چې ذاتاً عصبه نه وي، خو د بل کس په واسطه چې هغه عصبه وي عصبه وګرځي او عبارت دي له لور، د زوی لور، اعياني خور، علاتي خور چې دا ټول ذوی الفروض دي او په ترتيـب سـره د زوی، د زوی زوی، اعياني ورور او علاتي ورور په واسطه چې عصبه دي، عصبه ګرځول کېږي او همدارنګه د زوی لـور د زوی د زوی د زوی په واسطه عصبه کېدای شي.

۳_ عصبه مع غيره: هر کله چې کوم نفرمؤنث د داسې نفر مؤ نث په واسطه چې په ذات خپل کې عصبه نه وي، عصبه وګرځي هغـه د عصبه مع غيره په نامه يادېږي او دا اعياني خورانو ته شاملېږي، اعياني او علاتي خوراني اصلاً ذوی الفروض دي اما دواړه د لـور او د زوی د لور په واسطه چې عصبه نه دي، ذوی الفروض دي، عصبه ګرځول کېږي. د شرعي قاعدې پـه اسـاس چـې وايـي: (اِجْعَلُـوا الاَخَوَاتِ مَعَ الْبَنَاتِ عَصَبَةً) يعنې خوراني د لورانو سره عصبه وګرځوي او دا موضوع د هذيل بن شرجيل په روايت استناد لري.

حجب: په لغت کې منع ته وايي، مثلاً ويل کېږي حَجَبَتِ السُّحُبُ الشَّمْسَ کله چې وريځ وپوښي، د حجـب اسـم فاعـل حاجب او اسم مفعول يې محجوب راځي.

حجب د ميراث د علماؤ په اصطلاح کې د معين کس منع کول دي، د ټول ميراث نه يا د ځينې ميراث څخه د بل کس د وجود په سبب. حجب په دوه ډوله دی: ۱_ د نقصان حجب ۲_ د حرمان حجب.

۱_ د نقصان حجب: د وارث انتقال دی د اعلی برخې نه ادنی برخې ته د بل کس په موجوديت سره، لکه مېره چې د مړي د اولاد په موجوديت کې يې برخه له نيم څخه څلورمې ته نقلېږي او هغه ورثه چې د اعلی او ادنی برخو لرونکي دي دا دي:

۱ـ مېره د اعلی (۱/۲) برخې لرونکی او د مړي د اولاد په صورت کې د نیم نه څلورمې ته انتقال مومي.
۲ـ ښځه چې د اعلی برخې (۱/۴) لرونکې ده او د مېره د اولاد په شتون کې اتمې (۱/۸) ته انتقال مومي.
۳ـ د زوی لور: د اعلی برخې لرونکې نیم (۱/۲) د یوازوالي په صورت کې او د تعدد په حالت کې دوه ثلثه (۲/۳) اعلی برخه لري، خو د مړي د یوې لور په شتون کې د اعلی برخې نیم یا ثلثان څخه ادنی برخې (۱/٦) ته انتقال مومي.
۴ـ علاتي خور چې د یوازېوالي په وخت کې نیمه (۱/۲) او د تعدد په صورت کې دوه ثلثه (۲/۳) اعلی برخه لري، خو د یوې اعیاني خور د شتون په مهال د اعلی برخې نه ادنی (۱/٦) ته انتقال مومي.
۵ـ مور چې د اعلی برخې درېمې (۱/۳) لرونکې ده، خو د مړي د اولاد په صورت کې یا د دوو خورانو یـا د وررور پـه شتون کې د ثلث نه ادنی برخې (۱/٦) ته انتقال مومي.
دویم د حرمان حجب: د یوه کس منع کول دي له میراث څخه د بل کس په موجودیت سره، لکه نیکه چې د پلار په شـتون دمیـراث څخـه محرومېږي.
ورثه د حرمان د حجب د قبول یا نه قبول له حیثه په دوه ډوله ده:
٦ـ هغه ورثه چې د حرمان حجب نه قبلوي او د حرمان حجب په اساس له میراثه نه محرومېږي، یعنې په ورثه کـې د بـل کـس وجـود د دوی د حرمان لامل نه کېږي او دا عبارت ده له: پلار، مور، مېره، ښځه، لور او زوی. دا شپږ تنه مړي ته پرته لـه واسـطې منسوب شـوې دي، کله چې د ورثې له ډلې وګرځي، د میراث وړ پېژندل کېږي او د بل تن موجودیت هغوی له میراثه نشي محرومولی.
۷ـ هغه ورثه چې د حرمان حجب په اساس له میراثه محرومېږي یعنې په ورثه کې د بل تن موجودیت د دوی د میراث نـه د حرمـان سـبب کېږي او هغه د هغو شپږو تنو څخه پرته نوره ورثه ده چې مخکې ذکر شوېده، دا کسان هر کله چې مستقیماً مړي تـه منـسوب شـوي نـه دي، بلکې د بل کس په واسطه منسوب دي، نو په ځینو حالتونو کې د میراث مستحق او په ځینو نورو حالتونو کې له میراثه محرومېږي.
د تدریس طریقه:
پوښتنه او ځواب، انفرادي، مباحثوي او تشریحي.

وخت	فعالیتونه
۵ دقیقې	ښاغلی ښوونکی ټولګي ته په داخلېدو د سلام او روغبړ څخه وروسته تېر شوی لوست ارزوي. د ځوابونو په اورېدو د نوي لوست سرلیک په لوی خط په تخته لیکي او زده کوونکو ته وایي چې لوسـت د ځانونو سره په پټه خوله مطالعه کړي او ستونزمنې کلمې دځان سره نښه کړي او ښوونکی په خپله د لوسـت بغلي سرلیکونه په تخته لیکي او بیا یې ورته شرح کوي او د لوست په ترڅ کې زده کوونکو تـه د پوښـتنو موقع ورکوي او ځوابونه ورته وایي.
	د لوست لنډیز: د عصبه وو حق له میراث څخه مېره ته په نږدې والي او لرې والي سره تاکل کېږي، نو هر څـوک چـې مـړي تـه نږدې وي د هغه وارث حق په لومړۍ درجه کې دی او که لومړۍ درجه ورثه شتون ونلري، نو بیـا د وراثـت حـق د دویمې درجې دی، یعنې د مړي زامن تر ټولو مخکې دي، دویم د مړي پلار او نیکه او پورته ... دي. درېـم د مـړي د پلار اجزاء دي. یعنې وروڼه، څلورم د مړي د نیکه اجزاء دي، لکه کاکا او د کاکا زامن. هر کله که د مړي د عصباتو درجې مساوي وي په هغه صورت کې خپلوۍ ته ارزښت ورکول کېږي. بیا حجب ورته په لنډه توګه شرح کوي. بالاخره زده کوونکي د درسي کتاب په پوښتنو ارزوي او کورنۍ دنده ورکوي چې د عـصباتو د میـراث د استحقاق قانون ولیکي او بیا یې له ځانونو سره راوړي.

لوست: شپږ دیرشم

سرلیک: د برخو مخرجونه

مخ: ۱۱۵

وخت: یو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ د مخارجو برخې وپېژني.

۲_ د میراث د استحقاق قانون بیان کړای شي.

۳_ د مسئلو د مخرجونو شمېر وپېژني او بیان یې کړی شي.

لازمي پوهه:

هر کله چې ربع د اولې نوعې د ټولې دویمې نوعې یا ځینې سره په مسئله کې یو ځای شي، مسئله له دوو لسو څخه پیل کېږي، په دې مسئله کې ربع د ثلث سره مختلطه او ګډه شوې ده، نو د مسئلې مخرج (۱۲) دی.

۱– هرکله چې نیم د اولې د ټولې دویمې نوعې یا ځینې سره په مسئله کې مختلطه او ګډه وی د دې مسئلې اصل د شپږمې کیږي. ۱۲

۲– هرکله چې د اولې ربع نوعی یا ځینې سره مختلطه وی اصل د مسئلې دولس دی ۱۲.

۳– هرکله چې ثمن د اولې نوعی یا ټولې نوعی یا ځینې سره مختلطه وی اصل د مسئلې ۲۴ کیږی.

مسئله له ۱۲ څخه

ښځه (ربع)	علاتي خور (ثلث)	مورنۍ خورانې (سدس)
۴	۳	٦

د ربع مخرج څلور او د ثلث مخرج درې او د سدس مخرج شپږ دی، نو ثلث په سدس کې داخل دی او د ربع او سدس ترمنځ تباین دی او د تباین قانون دا دی چې د یوه نصف په بل کې ضرب شي، مثلاً ربع چې نیم یې دوه دی د سدس په مخرج کې چې شپږ دي ضربېږي چې حاصل یې ۱۲ راځي. (۱۲=٦×۲).

او که اتمه د اولې نوعې د ټولې دویمې نوعې یا د ځینې سره په مسئله کې مختلطه او ګډه وي، د دې مسئلې صورت له (۲۴) څخه پیل کېږي.

مسئله له ۲۴ څخه

ښځه (ثمن)	لورانې (ثلثان)	مور (سدس)
۲\۱	۳\۲	٦\۱

چې د برخو ټول مخرجونه ۲۴، ۱۲، ٦، ۳، ۲ دي او برخې یې (۴) دي.

د تدریس طریقه: توضیحي، تشریحي، پوښتنې او ځوابونه:

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د سلام او نورو مخکینیو موضوعاتو له وړاندې کولو وروسته د تېر لوست په هکله زده کوونکي ارزوي. ښوونکی د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرلیک د ((برخو مخرجونه)) په تخته لیکي او په ساده ژبه یې زده کوونکو ته شرح کوي. بیا ښوونکی زده کوونکي په دریو ګروپونو وېشي او دنده ورکوي چې مسئله څه وخت له (۱۲) څخه او څه وخته له (۲۴) څخه او څه وخت له (٦) څخه اخیستل کېږي، وروسته د هر ګروپ یو استازی یوه یوه مسئله عملاً په تخته حلوي.
۱۰ دقیقې	**د لوست لنډیز:** په قرآن کریم کې د برخو شمېر شپږ ذکر شوی او په دوه ډوله دي: ۱_ نصف (نیم)، ربع (څلورمه) او ثمن (اتمه). ۲_ ثلث (درېمه) ثلثان (دوه درېمې) او سدس (شپږمه) که چېرې نصف د اولې نوعې د ځینې یا ټولې دویمې نوعې سره په مسئله کې موجود شي، نو د مسئلې صورت له شپږو څخه اخیستل کېږي. که ربع د اولې نوعې څخه د ټولې دویمې نوعې یا ځینې سره په مسئله کې یو ځای شي، مسئله د دولسو څخه اخیستل کېږي. که ثمن د اولې نوعې د ټولې دویمې نوعې یا د ځینې سره په مسئله کې یو ځای شي، د مسئلې صورت له (۲۴) څخه اخیستل کېږي.
	ارزونه: ښاغلی ښوونکی د خپل اطمینان او ډاډېنې لپاره زده کوونکي د درسي کتاب له ارزونې څخه ارزوي او بالاخره په کورنۍ دنده کې څو مسئلې ورکوي، څو په کور کې یې حل کړي.

لوست: اووه دیرشم

سرلیک: عول

مخ: ۱۱۷

وخت: یو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي باید:

۱ــ د عول لغوي او اصطلاحي معنا وپېژني.

۲ــ د میراث د وېش وس په ځانونو کې وومي.

لازمي پوهه:

عول په لغت کې په لاندې معنا ګانو استعمال شوی دی:

۱ــ د ظلم او د حق نه د کږېدو په معنا دی، لکه چې وایي: ((عال القاضي من الحکم)) یعنې قاضي په خپل حکم کې ظلم وکړ او له حق نه کوږ شو.

۲ــ د غلبې په معنا دی، لکه چې وایي: ((عال صبره)) صبر یې غلبه وکړه.

۳ــ د لوړتیا په معنا دی، لکه چې وایي ((عال المیزان)) تله جګه شوه.

د میراث د علماؤو په اصطلاح کې عدل د ذوی الفروضو په برخو کې د اصل مسئلې څخه زیاتوالی او د ترکې نه د ذکر شوي زیاتوالي په پرتله د دوی د برخو نه کموالی دی.

د عول موضوع په میراث کې د لومړي ځل لپاره د حضرت عمرﷺ د خلافت په وخت کې رامنځ ته شوه او د میراث په یوه مسئله کې چې په هغې کې مېړه او دوه اعیانې (پلرنۍ او مورنۍ) خویندې د مړي ورثه وې صحابه وو ته یې وویل: که چېرې د ورثې هر یوه ته له ترکې څخه خپله برخه ورکړ شي، نو بل ته کامله برخه نه رسېږي. ما ته مشوره راکړئ چې په دې هکله څه وشي؟ حضرت علي کرم الله وجههُ او زید بن ثابتﷺ په ذکر شوې مسئله کې د عول مشوره ورکړه او حضرت عمرﷺ د صحابه کرامو د مشورې په اساس په موضوع کې د عول حکم صادر کړ او دا حکم د ټولو صحابه وو د منلو وړ وګرځېده او هیچا پکې مخالفت ونکړ. د حضرت عمرﷺ د خلافت نه وروسته ابن عباسﷺ د لاندې دلایلو په استناد له دې حکم څخه مخالفت څرګند کړ:

۱ــ د قرآني نصوصو په بنسټ چې د هر وارث برخه پکې ټاکل شوې ده د هر وارث حق باید په بشپړه توګه ورکړی شي او که د ترکې نه هر وارث ته د پوره حق ورکولو امکان نه و، نو د هغه وارث په برخه کې باید کمی وشي چې کله له ټاکلې برخې څخه غیر ټاکلې برخې ته انتقال مومي، لکه لور او خور چې د خپلو وروڼو په واسطه د فرضیت صفت له لاسه ورکړي، عصبه ګرځي او د ټاکلې برخې نه غیر ټاکلې برخې ته انتقال کوي.

۲ــ کله چې وروڼه او زامن د ورثې له ډلې واوسي، پاتې ترکه د ذوی الفروضو له برخې وروسته د عصوبت په توګه مستحق ګرځي. لور ا و خور هم باید په دې حالت کې یعنې کله چې دمړي د ترکې نه د هغو د برخې ورکول په بشپړه توګه ممکنه نه وي، نو د پاتې شوي مال مستحق ګرځي.

۳ــ د مړي په ترکه کې چې ډېر حقوق وریپورې تړلي وي او ټول حقوق ورځنې اجراء کېدای نشي، نو د ترکې نه د استخراج قوي حق د اولیت حق لري.

په دې ځای کې هم هغه ذوی الفروض چې په ترکه کې ټاکلې برخه لري د هغه ذوی الفروضو نه چې ټاکلې برخې نه دریو غیر ټاکلو برخو ته انتقال کوي، ډېر قوي دی، ځکه ذوی الفروض د عصبه په پرتله د میراث په استحقاق کې وړاندې والی لري او د هغه په اساس باید په نوره ورثه په استحقاق کې غوره والی ولري.

اما نور قدرمن صحابه او د ځلورو واړو مذهبونو فقها، د میراث په مسئلو کې عول د لاندې دلیلونو په استناد د تطبیق وړ ګڼي.

۱ــ قرآني آیتونو چې د ورثې برخه ټاکلې ده، هغه د ذوی الفروضو ترمنځ تفرقه نه مني او د یوه وړاندې والي په بل بانــدې کوم اساس نه لري.

۲ــ کوم حقوق چې په ترکې پورې تعلق ونیسي او ټول په قوت او ضعف کې مساوي واوسي باید مساوي اداء شي او کــه په ترکه کې ټولو ته د ورکولو امکان نه وي، نو ضرر باید د هر یوه د حق په پرتله د حق خاوندانو ته متوجه شي، نه دا چــې یوه ته پر بل ترجیح ورکړه شي. په دې ځای کې هم ټوله ورثه د ذوی الفروضو له ډلې څخه ده باید یوه ته پر بل د ترکې پــه استحقاق کې ترجیح ورکړه شي او که کله د ترکې نه په کامله توګه د دوی د حق ورکولو امکان نه وي، ضرر باید د حق په پرتله هر یوه ته متوجه شي.

۳ــ په میراثي مسئلو کې د عول حکم چې د ترکې نه د هر وارث د مکمل حق اجراء ممکنه نه وي، مخکې له دې نه چــې ابن عباس رضي الله عنه خپل مخالفت څرګند کړي په اجماع سره صورت نیولی، نو د ده مخالفت د اجماع له تړلو وروســته د قبــول جوګه نه دی.

که ذکر شوو دلیلونو ته نظر واچول شي د صحابه کرامو او د مذاهبو د فقها دلیلونه چې په میراثي مسئلو کې د ترکې نــه د هر وارث شتون په بشپړه توګه پکې امکان ونه لري، نو حکم یې په عول سره کړی او دا د حق او عدالت سره ډېــر نــږدې دی.

د عول د مسئلې د حل صورت دا رنګه دی چې نصف ته ثلث سره جمع شوی او د مسئلې صورت له څلــورو څخــه دی. مېړه ته نیمه (۳) عمې ته نیمه (۳) او مور د ثلث (۲) ده.

د مسئلې اصلي مخرج (٦) عول یې کړی (۸) ته
مېړه (۳) مور (۲) عمه (۳)

که د مسئلې مخرج (۷) وي هم جفتو هم طاقو (۱۰، ۹، ۸، ۷) ته عول کوي.

او که مسئله (٦) او عول (۷) و داسې ده چې:

مسئله ٦ عول ۷
مېړه نصف (۳) عمه ثلثان (۴)

هر کله که مسئله ٦ عول (۸) ته وکړي دا رنګه ده:

اصل مسئله ٦ عول ۸
مېړه (۳) دوه علاتي خویندې (۴) اضافي خور (۱)
۸=۳+۴+۱

که مسئله د (٦) څخه (۷) ته عول وکړي، څرنګه حل کېږي وروسته د ګروپونو له استازیو څخه غواړي چې کومه مــسئله یې په کتابچو کې حل کړې ده هغه په تخته ټولګیوالو ته حل کړي، د بېلګې په توګه: ښځه وفات شوه او وارث یې مېــړه او دوه اعیاني خویندې دي:

ښځه مسئله (٦) (۷) ته عول کوي	
مېړه (۱/۲)	دوه اعیاني خویندې (۲/۳)
۳	۴

کله چې د وارثانو برخې جمع شي مجموعه يې (۷) کېږي، نو د (٦) عدد (۷) ته عول کوي او (۷) عدد د مسئلې حل ګڼل کېږي او د هغو مطابق ترکه پر ورثه وېشل کېږي.
وروسته د لوست خلاصه ورته بيانوي او د درسي کتاب له مخې دوی ارزوي.
او په کورنۍ دنده کې ورته داسې مسئله ورکوي، څو دوی يې حل کاندي.
سکينه مړه ده مېړه، مور او عمه ترې پاتې دي مسئله له څو څخه نيول کېږي او حل يې کړئ.

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې	ښاغلی ښوونکی د مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته د تېر لوست ارزونه کوي، مثلاً وايي: ۱ـ څوک ويلای شي چې د عول لغوي او اصطلاحي معنا څه ده؟ ۲ـ د عول په هکله لومړنی حکم چا صادر کړی دی؟ د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرليک (تماثل، تداخل، توافق او تباين د دوو عددونو ترمنځ) په لوی خط ليکي او زده کوونکو ته دنده سپاري څو لوست په چوپتيا سره ولولي او ستونزمنې کلمې يادابنت کړي. بيا وروسته ښوونکی د بغلي سرليکونو په نظر کې نيولو سره لوست شرح کوي او په مهمو ټکو ډېر ترکيز کوي ا و هغه په تخته ليکلي. بيا زده کوونکي په ګروپونو وېشي څو د دوو عددونو ترمنځ د توافق او تباين په هکله په خپلو کې بحث او څېړنه وکړي او بيا يې استازي ټولګيوالو ته شرح کوي. په پای کې ښوونکی ټول ګروپونه تشويقوي. **د لوست لنډيز:** تماثل: د عددونو ترمنځ مساوي حالت ته تماثل ويل کېږي. ـ توافق: د دوو عددونو ترمنځ نسبت ته ويل کېږي چې يو او بل نشي محو کولای اما درېيم عدد دواړه محوه کولای شي. تداخل: د دوو عددونو ترمنځ هغه نسبت دی چې يو پر بل باندې په مکمله توګه تقسيمېږي، دېته تداخل ويل کېږي. تباين: د عددونو ترمنځ هغه نسبت دی چې نه يو بل محوه کولای شي او نه درېيم عدد دواړه محوه کولای شي. **ارزونه:** ښوونکی د درسي کتاب له ارزونې څخه زده کوونکي ارزوي او کورنۍ دنده ورکوي، مثلاً که د مسئلې اصل برخې په يوه طايفه پوره تقسيم نشي او د برخو او د طايفې د عدد ترمنځ نسبت موافقت ولري، نو د مسئلې تصحيح څرنګه صورت نيسي په خپلو کتابچو کې يې حل او راوړئ.

لوست: اته دیرشم او نهه دیرشم

سرلیک: تماثل، تداخل ... او تصحیح

مخ: ۱۱۹-۱۲۲

وخت: دوه درسي ساعتونه

موخې: دزه کوونکي باید:

۱_ تماثل، تداخل، توافق او تباین وپېژني.

۲_ د دوو عددونو ترمنځ د توافق او تباین د پېژندلو طریقه پیدا کړی شي.

۳_ تصحیح وپېژني او د میراث په مسئلو کې یې تطبیق کړای شي.

لازمي پوهه:

د ۳۸ او ۳۹ لوست لپاره:

په ځینو مسئلو کې د ځینو ورثه وو برخې د ورثې په شمېر پرته له کسر څخه د تقسیم وړ نه وي، یعنې که چېرې د ورثه برخې د دوی په تعداد تقسیم شي د صحیح عدد د مخارجو قسمت صحیح په لاس نشي راتلی، بلکې کسري عدد وي، په دې حالت کې دا چې د ورثه برخه د دوی په تعداد د صحیح عدد په توګه د تقسیم وړ وګرځي، حسابي معامله باید ترسره شي چې د دې عملیې ترسره کول د میراث د علماؤ په اصطلاح کې تصحیح یادېږي.

تصحیح د هغه وړوکي عدد څخه عبارت ده چې د هر وارث برخه له هغو نه د صحیح عدد په توګه لاس ته راشي، تر ټولو د وړوکي عدد لاس ته راوړل چې د مسئلې تصحیح واوسي او د هر وارث برخه د هغه نه د صحیح عدد په توګه لاس ته راشي، د ورثې د نوعې په اختلاف سره چې د هغو برخې د دوی د شمېر په پرتله په صحیح توګه د تقسیم وړ نه وي، مختلف کېږي.

د میراث په مسئله کې چې د یوې نوعې یا یو صنف برخه د هغوی په شمېر د تقسیم وړ نه وي د وړوکي عدد د لاس ته راوړلو لپاره چې د مسئلې تصحیح وګرځي، د هغې ورثې برخه او تعداد چې د دوی برخه د دوی په تعداد د تقسیم وړ نه وي د بحث مورد ګرځي چې په کوم عددي تناسب د تماثل، توافق او تباین له نسبتونو څخه یو د بل سره قرار لري.

که چېرته د ورثې برخه او شمېر په یوه بل عدد باندې د تقسیم وړ وو یعنې د میراث د علماؤ په اصطلاح هر کله که د برخې او د ورثه وو د تعداد ترمنځ توافق شتون درلود، نو د هغه نوعې د ورثې تعداد په هغه تقسیمېږي او خارج قسمت د مسئلې په اصل کې ځای نیسي او د ټولې ورثې برخه له هغه څخه پرته له کسره لاس ته راځي، مثلاً یو نفر وفات شو او له هغه څخه پلار، مور او لس لوراني پاتې شوې:

مسئله له (٦)

پلار ۱/٦ مور (۱/٦) ۱۰ لوراني ۴/٦

هر وارث برخه د اصل مسئلې څخه:	۱	۱	۴
	سدس	سدس	ثلثان

مضروب: ۵ او تصحیح ۳۰

د هر وارث برخه له تصحیح	۵	۵	۲۰

په دې مثال کې د لورانو شمېر لس نفره دی او برخه یې (۴) ده او هغه په لورانو د صحیح عدد په توګه تقسیمېږي. د دې لپاره چې هره لور د صحیح برخې لرونکې وي، د تصحیح عملیه باید ترسره شي او هغه داسې ده چې د ۱۰ د تعداد او ۴ برخو ترمنځ عددي نسبت پیدا کېږي، نو لیدل کېږي چې د دې عددونو څخه هر یو په یو درېیم عدد چې (۲) دی، د تقسیم

وړ دی، نو د ورثې شمېر په هغه تقسیمېږي او خارج قسمت چې (۵) دی د مسئلې اصل (٦) کې ضربېږي، د ضرب حاصل (۳۰) د تصحیح څخه عبارت دی.

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د مقدماتي موضوعاتو څخه وروسته د تېر لوست ارزونه کوي، مثلاً وایي: ۱_ څوک ویلای شي چې د عول لغوي او اصطلاحي معنا څه ده؟ ۲_ د عول په هکله لومړنی حکم چا صادر کړی دی؟ د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرلیک (تماثل، تداخل، توافق او تباین د دوو عددونو ترمنځ) په لوی خط لیکي او زده کوونکو ته دنده سپاري څو لوست په چوپتیا سره ولولي او ستونزمنې کلمې یادښت کړي. بیا وروسته ښوونکی د بغلي سرلیکونو په نظر کې نیولو سره لوست شرح کوي او په مهمو ټکو ډېر ترکیز کوي او هغه په تخته لیکلي. بیا زده کوونکي په ګروپونو وېشي څو د دوو عددونو ترمنځ د توافق او تباین په هکله په خپلو کې بحث او څېړنه وکړي او بیا یې استازي ټولګیوالو ته شرح کوي. په پای کې ښوونکی ټول ګروپونه تشویقوي. د لوست لنډيز: تماثل: د عددونو ترمنځ مساوي حالت ته تماثل ویل کېږي. _ توافق: د دوو عددونو ترمنځ نسبت ته ویل کېږي چې یو او بل نشي محو کولای اما درېیم عدد دواړه محوه کولای شي. تداخل: د دوو عددونو ترمنځ هغه نسبت دی چې یو پر بل باندې په مکمله توګه تقسیمېږي، دېته تداخل ویل کېږي. تباین: د عددونو ترمنځ هغه نسبت دی چې نه یو بل محوه کولای شي او نه درېیم عدد دواړه محوه کولای شي. ارزونه: ښوونکی د درسي کتاب له ارزونې څخه زده کوونکي ارزوي او کورنۍ دنده ورکوي، مثلاً که د مسئلې اصل برخې په یوه طایفه پوره تقسیم نشي او د برخو او د طایقې د عدد ترمنځ نسبت موافقت ولري، نو د مسئلې تصحیح څرنګه صورت نیسي په خپلو کتابچو کې یې حل او راوړئ.

لوست: څلوېښتم

سرليک: د ورثې ترمنځ د متروکې د وېشلو طريقه:

وخت: يو درسي ساعت

مخ: ۱۲۳

موخې: زده کوونکي بايد:

۱ــ د ورثې ترمنځ د متروکې د تقسيم طريقه وپېژني.

۲ــ د مړي د متروکې مال تقسيم کړای شي.

۳ــ د وارثانو د هر يوه برخه وټاکي او نورو ته يې هم بيان کړی شي.

لازمي پوهه:

ترکه او په هغه پورې اړوند حقوق:

ترکه: د ميراث بنسټيز رکن دی، نو که ترکه شتون ونلري ميراث او وصيت شتون نه لري. ترکه لـــه ((الترکـــه)) څخـــه اخيستل شوې ده او هغه څه ته ويل کېږي چې مړی يې تر شا پرېږدي.

يا په بله وينا ترکه هغه مالونه دي چې مړی يې د مرګ نه وروسته پرېږدي.

اما د ترکې د ماهيت په ټاکلو کې چې کوم شيان پکې شاملېږي او کوم نه پکې شاملېږي فقهاء د دې په هکله اختلاف لري په دې توګه:

الف ــ جمهور فقهاء عقيده لري چې لاندې څيزونه په ترکه کې شاملېدای شي:

۱ــ مالونه: برابره ده غير منقولي وي، لکه ځمکه، فابريکه، کور يا منقولي وي، لکه پيسې، طلا، نقـــره، کتـــاب، د کـــور سامان، موټر ... نو په دې ټولو د «ما» وصفيت ريښتينی کېږي.

همدارنګه د مړي قرضونه چې په خلکو وي او که مورث وژل شوی وي ديت هم په ترکه کې حسابېږي.

۲ــ منافع او ګټې: لکه څوک چې کوم کور يا اداره په اجاره ونيسي، نو هغه د هغه کور يا ادارې عين مالک نه دی، بلکـــې د اجارې په عقد او د تړون د شرطونو سره سم د منافعو مالک وي او دا حق د جمهورو فقهاؤ په نـــزد پـــه ميـــراث وړل کېږي.

۳ــ حقوق: لکه د مؤلف لپاره د نشر او خپرونې حقوق چې وارثانو ته نقل کېږي او د شفعې حق چې د مورث لـــه مرګـــه وروسته وارثانو ته د يوه ثابت حق په توګه پاتې کېږي او د وصيت د قبلېدو حق، يعنې که کوم نفر چا ته د خپل مال په دربمه کې وصيت وکړ، نو د ده په مرګ سره هغه څوک چې وصيت ورته شوی د وصيت مستحق ګڼل کېږي، اما که د وصيت له اخيستلو مخکې مړ شو، دا د ده حق وارثانو ته نقل کېږي.

او د ګروی حق هم همداسې دی، مثلاً احمد د علي نه لس زره افغانۍ قرض اخلي او يو څه علي ته په ضمانت کـــې ګـــرو ورکوي، بيا علي مړ کېږي او په احمد يې قرض پاتې کېږي، نو هغه ګرو شوی شی د علي ورثې ته د قرض تـــر اداء کولـــو پورې پاتې کېږي.

دا مالونه، حقوق او منافع د جهورو فقهاؤ په نزد په ميراث وړل کېږي او دليل يې هغه روايت دی چـــې د رســـول الله ﷺ څخه يوه صحابي روايت کړی، فرمايي: له چا څخه چې څه مال يا حق پاتې شي هغه يې د ورثې دی او د کورنۍ کفالت يـــې

زما سره دی او حدیث تینگار کوي چې مالونه او حقوق وارثانو ته رسېږي او هغه منافع چې د مال سره د ارزښـــتنې وړ وي، هغه هم په مال پسې پیوست کېږي.

احناف وايي یوازې مال په میراث پاتې کېدای شي، منافع او حقوق او د اجارې او ګروی‌ تړون د ترکې جزء نه ګڼي، مـــثلاً که یو څوک مړ شي او ده کوم کور اخیستی وي او قیمت یې نه وي ورکړی دا حق په میراث نه وړل کېږي.

د کور د خاوند حق دی چې خپل کور بېرته واخلي او چې یې چې پیسې نه وي حاصلې کړې د معاملې څخـــه دې رجـــوع وکړي او دلیل یې هغه روایت دی چې پیغمبرﷺ فرمايي: د چا نه چې مال پاتې شي مال یې د وارثانو دی او پـــه دې روایـــت کې د حق کلمه نده راغلې او منافع هم د احنافو په نزد مال نه دی.

ب_ په ترکه پورې اړوند حقوق:

۱_ کفن، غسل او د مړي خښول:

لومړنی شی چې د مړي له ترکې څخه اخیستل کېږي، دمړي تکفین، تجهیز او خښول دي. د عرف او دود له مخې چـــې د شریعت سره خلاف نه وي او د اعتدال او انډول څخه کار واخیستل شي، څکه الله فرمايي: ((وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُـــسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا))(الفرقان/٦٧)

ژباړه: او هغه کسان چې کله لګښت کوي نو نه بې ځایه لګښت کوي (اسراف) او نه بخیلي بلکې د هغو لګښت د دغـــو دواړو ترمنځ ولاړ وي.

هو! خاورو ته د سپارلو مراسم، غسل، کفن او هدیرې ته وړل او خښولو ته شاملېږي او دا لګښتونه د قرضونو په ورکولـــو او وصیت پوره کولو مقدم او وړاندې دي او کوم لګښتونه چې د ریا او ویاړ او شهرت لپاره کېږي او په دریمـــه، اوومـــه، څلوېښتمه او کلنۍ مراسمو کې کېږي هغه ټول بدعتونه دي او کوم اصل نه لري. که د وړو یتیمانو په مال کې هـــر چـــا د شرعې خلاف لګښتونه وکړل ذمه واري یې په همده ده. د یتیم له ماله نه اخیستل کېږي.

او که کوم مړی مال او شته نه لري، نو دا لګښتونه دې یو مالدار سړی په ذمه واخلي او که نه، نو بیا د مسلمانانو د بیـــت المال څخه اجراء کېږي.

د مېرمنې د مړینې لګښتونه هم په مېړه دي نه په ښځه ولو که دواړه یو ځای مړه شي او یا ښځه مړه شي او مېـــړه ژونـــدی وي، ځکه د ښځې نفقه په هر حال په مېړه ده هم په ژوند کې او هم له مرګه وروسته.

۲_ د قرضونو اداء کول:

کوم قرضونه چې د انسان په ذمه باندې اړه لري برابره ده د شرعي نصوصو په واسطه پرې واجب شوي وي، لکه د ښـــځې او اولادونو نفقه یا د زکات او نذر ورکول او یا د کوم تړون په وسیله تر انسان پورې اړوند وي، لکه په یوه معامله کې چـــې څوک قرضدار وي یا د اجارې تړون وي، یا د نکاح تړون وي چې مېړه باید مهر ورکړي.

یا دا چې د چا مال یې خراب کړی وي یا یې د مضاربت په معامله کې قصداً کمی کړی وي، نو ضامن ګڼل کېږي. دا ټول قرضونه باید د وصیت او ترکې له وېش څخه مخکې اداء شي. همدا رنګه نااداء شوی زکات باید اداء شي، ځکـــه دا د الله حق دی او د فقیرانو او مسکینانو حقوق باید پرته له غوښتلو ورکړ شي.

اما هغه قرضونه چې تر خلکو پورې اړه لري، لکه د ښځې مهر یا د تجارتي معاملو قسطی ورکړې یا میاشتنۍ اجاره، ګـــروي او ... د هغو په ورکړه کې هېڅ اختلاف نشته.

همدارنګه هغه قرضونه چې ورکړه یې د دین له امله واجب ده نه د قضا له امله یعنې که د مړي کورنۍ له کوم قرض څخه خبرتیا حاصله کړي او هغه یې اداء کړي د مړي لپاره خیر دی او د ده ذمه پرې خلاصیږي اما قاضي نشي کولای چې په اداء کولو یې د مړي کورنۍ مجبوره کړي. د حنفي مذهب مطابق د یوه سړي په مرګ سره الهي قرضونه ورځنې ساقطیږي، ځکه په هغه کې د عبادت معنا ده او د خاوند تر نیته پورې اړتیا لري.

۳ـ د مړي د وصیتونو ترسره کول د شریعت په پولو کې:

وصیت یو بیله عوضه تملیک دی چې د مرګه وروسته جاري کیږي او اجراء یې په دریمه برخه مالونو کې ده د تکفین او تجهیز وروسته پرته د ورثې له اجازې اما که تر دریمې برخې یې زیات وصیت کړی و، بیا د وارثانو اجازه پکې شرط ده. که ټول اجازه ورکړي وصیت جاري کیږي.

همدارنګه که څوک خپل نیم میراث د قرآن کریم د حفظ مرکز ته یا دیني مدرسو ته وصیت وکړي، دریمه یې پرته د ورثې له اجازې اجراء کیږي او له دریمې زیات د ورثې تر اجازې اړه لري. که ځینې اجازه وکړي او ځینې یې ونکړي د اجازې ورکوونکو له حقه اخیستل کیږي، نه د نورو څخه .

د قرض وړاندې والی پر وصیت باندې:

دلته سوال پیدا کیږي چې ولې د وصیت اداء کول د قرض نه وروسته راغلی حال دا چې قرآني آیت وصیت په قرض وړاندې کړی دی، لکه: ((مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ)) (النساء/۱۱)

که څوک وارث ونلري او خپل ټول شته چاته وصیت کړي او یایې د خیر په لارکې وصیت کړي پرته له مراجعه کولو چاته نافذ دی.

قرطبي داسې ځواب وایي:

۱ـ د اجماع سره سم د قرض ورکول په وصیت مقدم دي او علماؤ هم په دې عمل کړی دی او د ترمذي په روایت نبي کریمﷺ هم د قرض اداء کول په وصیت وړاندې کړې دي.

۲ـ د آیت مرام د قرض او وصیت وړاندې والی په ارث دی نه د وصیت وړاندې په دین باندې.

۳ـ کله چې د وصیت لازموالی د دین څخه کم وي، باید د قرض اداء کولو ته پاملرنه زیاته وشي.

۴ـ او ویل شوي چې وصیت په غالبه توګه شتون لري او همېشه واقع شوی، نو پر قرض وړاندې دی.

۵ـ او ویل شوي چې وصیت د فقیرانو او بېوزلانو برخه ده، باید وړاندې شي او قرض د قوي او بډایانو خلکو برخه ده هغه وروسته کیږي.

شیخ دکتور مصطفی شبلي وایي: د وصیت وړاندې والی پر قرض بل حکمت لري، هغه دا چې: وصیت بې له عوضه اخیستل کیږي دا د میراث په شان دی او اداء کول یې وارثانو ته سخت دی او په هغه کې د سستۍ او نه پاملرنې احتمال لار لري او په آیت کې یې وړاندې ذکر کړی، څو مقام او ارزښت یې زیات وښودل شي او اداء کولو ته یې هڅه او تشویق وشي، په خلاف د قرض ځکه قرض د عوض په مقابل کې اخیستل شوی، ممکنه ده په ترکه کې شتون لري، نو قرض قوي او پیاوړی حق دی، سستي او غفلت پکې نشي کېدای، نو د صیت نه یې وروسته ذکر کړی دی.

که څوک وارث ونلري او خپل ټول شته چا ته وصیت کړي یا یې د خیر په لار کې وصیت کړي وصیت یې پرته له مراجعه کولو چا ته نافذ دی.

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی ټولګي ته د ننوتلو سره د سلام اچولو او روغبړ څخه وروسته تېر شوی لوست په څو پوښتنو سره ارزوي او بیا د نوي لوست سرلیک ((د ورثه ترمنځ د متروکې د وېش طریقه)) پــه تختــه لیکــي او زده کوونکو ته امر کوي څو لوست د ځانونو سره په چوپتیا سره ولولي، وروسته یې په ساده او روانه ژبــه ورتــه شرح کوي او د کتاب مثالونه عملاً په تخته ورته حلوي وروسته زده کوونکي په څو ګروپونو وېشي او دارنګه مسئله ورکوي، عبدالله وفات شوی او له ده څخه پلار، مور او دوه لورانې پاتې دي. د مړي پانګه شــپږ ســوه (۶۰۰۰۰۰) زره افغانۍ دي، نو دا د وارثانو ترمنځ تقسیموي او ښوونکی ورسره مرسته کوي. مسئله (۶) څخه پلار – سدس (۱/۶) – ۱ ام – سدس(۱/۶) – ۱ دوه لورانې – ثلثان (۲/۳) – ۴ د پلار لپاره سل زره (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ د مور لپاره سل زره (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ د لورانو لپاره څلور سوه زره (۴۰۰۰۰۰) افغانۍ رسېږي. وروسته د لوست لنډیز ورته شرح کوي، بیا د درسي کتاب له ارزونې څخه دوی ارزوي او په کورنۍ دنده کې دا مسئله ورکوي د احمد مړ دی او له ده څخه یوه ښځه دوه زامن او یوه لور پاتې دي او ټوله پانګه یې ســل زره افغانۍ دي، دا باید پرې تقسیم کړي او نتیجه یې د ځانونو سره راوړي.

لوست: یو څلویښتم

سرلیک: تخارج

مخ: ۱۲۵

وخت: یو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ د تخارج لغوي او اصطلاحي معنا وپېژني.

۲_ د متروکې د وېش طریقه په ورثه باندې زده کړي.

۳_ وارثانو ته پوره حقوق ورکړای شي.

لازمي پوهه:

کله چې یو تن له ورثې څخه د نورې ورثې په رضایت او موافقه د ترکې څخه د یوه شي په اخیستلو مصالحه وکړي دې، ته د میراث د علم د علماؤ په اصطلاح کې تخارج ویل کېږي.

تخارج په حقیقت کې د معاوضې عقد دی چې یو د عوضینو څخه د ترکې څخه د وارث برخه ده او بل عوض مال دی چې د ترکې یا بل څه نه د ده د برخې په مقابل کې ورکول کېږي چې د هغه په اساس وارث د یوه ټاکلي او معین مال خاوند ګرځي او د ده ملکیت د هغه معینې برخې څخه چې د مړي په ترکه کې یې لري زائلېږي.

د تخارج د مشروعیت دلیل د میراث د علماؤ په وړاندې دا دی چې عبدالرحمٰن بن عوفﷺ وفات شو او ده څلور ښځې درلودې، یوې ښځې ته یې چې د تماضر په نامه وه طلاق ورکړی و، حضرت عثمانﷺ دا طلاقه شوې د میراث مستحقه وګڼله او نورې ورثې دې ته (۸۳۰۰۰) زره دیناره د ترکې د برخې په مقابل کې ورکړې او مصالحه یې ورسره وکړه او هېڅ یوه صحابي هم په دې مسئله کې د حضرت عثمانﷺ سره مخالفت ونکړ او دا د صحابه وو، نه مخالفت د اجماع حکم لري.

په تخارج کې د ترکې د تقسیم کیفیت د حالتونو په اختلاف توپیر لري چې دلته د دوو مثالونو په ذکر کولو بسوالی کوو.

په داسې حالت کې چې د ورثې څخه څوک د معین مال په اخیستلو د نورو ورثه وو سره د مړي په ترکه کې د خپلې برخې په مقابل کې صلح وکړي، په دې حالت کې د ورثه وو برخه د مړي په ترکه کې ټاکل کېږي او دغه مصالحه کوونکي وارث ته چې په ترکه کې د خپلې برخې څخه تنازل کوي، هغه معین مال ورکول کېږي.

مثلاً یو تن وفات شو دوه زامن او یوه لور ورڅخه پاتې شول او ۵۰ جریبه ځمکه ترکه لري او یو د زامنو څخه د پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانیو په مقابل کې د مړي د لور سره مصالحه وکړه چې د مړي د ترکې نه څه مه غواړه، دا روپۍ واخله، نو اوس اول د مړي په ترکه کې د ورثه وو برخه تعینېږي.

ورث: لور زوی زوی

فروض: د عصوبت په اساس د میراث مستحق دي او زوی ته د لور په پرتله دوه چند برخه ورکول کېږي.

اصل مسئله (۵) ده.

د هر وارث برخه د اصل مسئلې څخه یوه لور ته دوه زوی ته دوه بل زوی ته

د هرې برخې قیمت	۵۰/۵=۱۰
د لور برخه	۱۰.۱=۱۰
د زوی برخه	۱.۲=۲۰
د بل زوی برخه	۱.۲=۲۰

له دې تعین څخه وروسته د مړي د لور برخه چې د یوه زوی سره یې د (۵۰۰۰۰۰) افغانیو په مقابل کې صلحه کــړې ده، نو ددې برخه دې زوی ته ورکول کېږي، نو د یوه زوی برخه ۳۰ جریبه او د بل زوی برخه ۲۰ جریبه کېږي.

یا مثلاً یوه ښځه وفات شوه او ورثه یې مېړه، مور او کاکا وو او ۳۰ جریبه ځمکه او مهر چې د مېړه په ذمــه دی، دا ترکــه ده، نــو اوس مېړه د هغه مهر په مقابل کې چې د ده په ذمه دی د ترکې نه د نورې ورثې په رضایت د خپلې برخې څخه تېرېږي.

د مسئلې حل: اول د ورثې برخې تاکل کېږي.

ورثه:	مېړه	مور	کاکا
فروض:	۱/۲	۱/۳	عصبه

اصل مسئله: ۶

برخې د اصل مسئلې نه:	۳	۲	۱
	نصف	ثلث	سدس

د ورثې د برخو له تعین وروسته د مېړه برخه د اصل مسئلې څخه وضع کېږي او ترکه د ورثې د برخې مطابق د مېړه نه پرته په هغوی تقسیمېږي او د هغه په اساس ۳=۳−۶ .

د مور برخه: (۲) د کاکا برخه (۱) د یوې برخې قیمت ۱۰=۳۰/۳

د مور برخه: ۲۰=۲×۱۰ د کاکا برخه: ۱۰=۱×۱۰

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د سلام له اداء کولو او حال پوښتنې څخه وروسته د تېر شوي لوست پــه هکلــه لــه زده کوونکــو څخــه پوښتنې کوي. وروسته د نوي لوست سرلیک (تخارج) په تخته لیکي او بیا لوست شرح کوي او مثالونه یې په تخته لیکي. بیا زده کوونکي په څو ډلو وېشي او هرې ډلې ته یوه یوه مسئله ورکوي، څو هغه حل کړي. د مثال په توګه عبدالرحمن مړ دی او وارثان یې ښځه، پلار او زوی دي او ۴۸ جریبه ځمکه په ترکه کې ورځنــې پــاتې ده او ښځې یې د سل زرو (۱۰۰۰۰۰) افغانیو په مقابل کې صلحه وکړه او په ترکه کې له خپل حق څخه تېره شوه. عبدالرحمن مسئله له(۲۴) ښځه ۱/۶ — پلار ۱/۶ — زوی ۳ — ۳ — (عصبه) ثمن — سدس — ۴ — ۱۷ د یوې برخې قیمت ۲=۴۸/۲۴ د ښځې برخه: ۶=۳×۲ د پلار برخه: ۸=۴×۲ د زوی برخه: ۳۴=۱۷×۲
۱۰ دقیقې	د لوست خلاصه: درسي کتاب ته دې مراجعه وشي ارزونه: له درسي کتاب څخه دې زده کوونکي وارزوي. کورنۍ دنده: احمد مړ دی او له ده څخه (۲۰۰۰۰۰) افغانۍ او یو موټر پاتې دی، وارثان یې ښځه، دوه زامن او یوه لور ده، لور یې د موټر په مقابل کې له ترکې څخه تنازل کوي، نو دا مسئله حل کړئ.

لوست: دوه څلويښتم

سرليک: رد

مخ: ۱۲۷

وخت: يو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي بايد:

۱ـ د رد لغوي او اصطلاحي معنا وپېژني.

۲ـ د رد هدف وپېژني او نورو ته يې بيان کړی شي.

۳ـ وپوهېږي چې رد په کومو ذوی الفروضو باندې کيدای شي.

۴ـ د متروکې د مال تقسيم د ورثه وو او حاملې ښځې ترمنځ وپېژني.

لازمي پوهه:

رد په لغت کې رجوع، ګرځېدنې او راستنېدنې ته وايي او په اصطلاح کې د ذوی الفروضو څخه د بقيه برخو راګرځېدل دي، نسبي ذوی الفروضو ته نه سببي ته، د دوی د برخو په تناسب کله چې عصبه شتون ونلري.

د ميراث د مسئلو په حل کې يادونه وشوه چې د هر وارث د برخې د ټاکلو لپاره، هغه کسر چې د ده په برخه دلالت کوي، هغه د مسئلې په اصل کې ضربېږي، د ضرب حاصل د اصل مسئلې نه د هر وارث له برخې څخه عبارت دی. او په هغه ميراثي مسئلو کې چې په هغو کې عول واقع شوی وي، نو کوم عدد چې په هغه باندې عول صورت نيولی وي او د ذوی الفروضو د ټولو برخو نه په لاس راغلی دی، هغه د اصل مسئلې قايم مقام دی او د هغو نه د هر وارث برخه تعينېږي.

په ميراثي مسئلو کې چې کله رد واقع شي، نو د هر وارث د برخې پېژندلو او ټاکلو طريقه دا ده چې که چېرې يو د زوجينو د وژنې په ډلو کې قرار ولري، نو خپله برخه د اصل مسئلې نه اخلي او هغه څه چې د زوجينو له برخې څخه وروسته په ترکه کې باقي پاتې کېږي، نو هغه ذوی الفروضو ته پرته له زوجينو څخه د دوی د برخې په پرتله د اصل مسئلې نه ورکول کېږي چې په دې توګه د زوجينو برخه اصل مسئلې ته منسوبېږي او ټولې برخې چې د اصل مسئلې نه د زوجينو د برخې نه وروسته باقي پاتې کېږي اصل ردي مسئله د نورو ذوی الفروضو لپاره پرته له زوجينو څخه قرار نيسي او د دوی د برخو په پرتله ترکه باقي پاتې کېږي او پر دوی وېشل کېږي.

لومړی په رديه مسئله کې که يوه نوع ورثه شتون ولري په دې حالت کې مسئله له دوو احتمالونو خالي نه وي:

۱ـ که چېرې د مړي په ورثه کې يو د زوجينو څخه د ورثې په ډله کې موجود نه وي په دې حالت کې که وارث يو تن وي ټوله ترکه د فرضيت او رد په اساس مستحق ګڼل کېږي او که ورثه له يوه څخه زياته وي، نو ترکه د دوی په شمېر مساوي وېشل کېږي.

د مثال په توګه: يو نفر وفات شو او له هغه څخه يوه لور پاتې شوه، نو ټوله ترکه د لور لپاره د فرضيت او رد په اساس ورکول کېږي او که لوراني يې له يوې څخه زياتې وي، يعنې پنځه وي، نو د لورانو شمېر اصل مسئله نيول کېږي او هره يوه لور ۱/۵ ترکه د فرض او رد په اساس اخلي. لنډه دا چې په ميراثي مسئله کې که يو له زوجينو څخه نه وي او ورثه يوه نوعه يا يو صنف ذوی الفروض واوسي او عصبه هم شتون ونلري، نو ترکه د ورثې په شمېر وېشل کېږي او د ورثې شمېر درد يه مسئلې اصل نيول کېږي.

۲ـ هر کله که د ورثې سره يو د زوجينو هم شتون ولري، نو که په دې حالت کې يو د زوجينو خپله ټاکلې برخه د کسري مخرج نه چې د ده برخه ټاکي، واخلي نو باقې نورې ورثې ته ورکول کېږي او د دوی ترمنځ مساوي. د فروضو او رد په

اساس تقسیمېږي. د مثال په توګه که د یوه مړي وارثان ښځه او مور وو، نو په ښحه په دې حالت کې رد صورت نه نیسي او د ربع ۱/۴ مستحقه ده، نو کسري مخرج چې د دې برخه ټاکي، یعنې (۴) عدد اصل مسئله نیول کېږي او ښځه له هغې څخه خپله برخه اخلي او پاتې ترکه د ښځې له برخې وروسته (۳/۴) لپاره د مور ده، البته د فرضیت اورد په اساس.

او یا که ښځه وفات شي او وارثان یې مېړه او درې لورانې وي، په دې حالت کې هر کله چې په مېړه رد صورت نه نیسي، نو هغه د ترکې نه ۱/۴ د فرضیت په اساس خپله ټاکلې برخه اخلي او کسري مخرج چې د هغه برخه ټاکي یعنې (۴) عدد اصل مسئله نیول کېږي او مېړه له هغه نه خپله برخه اخلي او باقي د مېړه د برخې نه وروسته ۳/۴ د دریو لورانو لپاره ده. د فرضیت او رد په اساس او د دوی ترمنځ مساوي وېشل کېږي.

او که یا ښځه مړه شي او وارثان یې مېړه او درې لورانې وي، په دې صورت کې مېړه مستحق د $\frac{1}{4}$ دی چې د فرضیت په اساس به یې اخلي او هر کله چې په مېړه په دې صورت کې رد نشي کېدای، نو د خپلې ټاکلې برخې ۱/۴ مستحق ګرځي او باقي ترکه د لورانو ده د فرضیت او رد په اساس.

هر کله چې په دې مسئله کې وارثان له دوو جدا نوعو څخه دي، یعنې مېړه له اولې نوعې څخه چې برخه یې ۱/۴ (ربع) ده او لورانې له دویمې نوعې څخه دي چې برخه یې ۲/۳ (ثلثان) دي اصل مسئله د ۱۲ څخه نیول کېږي او د دې اصل ربع د مېړه لپاره او ثلثان د لورانو لپاره ورکول کېږي او یوه برخه د ردیه په سرلیک هم لورانو ته ورکول کېږي، لکه په دې مثال کې ښه واضح شوېده:

اصل مسئله ۱۲

مېړه درې لورانې

۳ د فرضیت برخه (۸) او ردیه برخه (۱)

لور (۳)، لور (۳)، لور (۳)

دویم: هر کله که په ردیه میراثي مسئله کې له یوې نوعې څخه زیاتې یا یو صنف وارث شتون ولري، په دې حالت کې به هم مسئله له دوو حالتونو خالي نه وي:

۱_ دا چې د ورثې سره به یو له زوجینو د ورثې له ډلې څخه نه اوسېږي، نو د ترکې په وخت کې به د ورثې په برخو چې د اصل مسئلې نه یې اخیستې وي وېشل کېږي او د ورثې ټولې برخې چې د اصل مسئلې نه لاس ته راغلې، اصل نوې مسئله چې د ردې اصل په نامه یادېږي قرار نیسي او د ترکې اساس تقسیم دی، مثلاً یو تن وفات شو او ورثه یې مور او علاتي خور او مورنۍ خور ده او (۶۰) جریبه ځمکه ترې پاتې ده. د دې مسئلې د حل لپاره هغه مرحلې چې د میراثي مسئلو د حل لپاره په کار وړل کېږي، په نظر کې نیول کېږي.

د مسئلې حل:

ورثه:	مور	علاتي خور	اخیافي خور
فروض:	۱/۶	۱/۲	۱/۶
	۱	۳	۱
	سدس	نصف	سدس

د ورثې ټولې برخې ۵=۱+۱+۳

د ورثې ټولې برخې چې د اصل مسئلې څخه لاس ته راغلې د اصل مسئلې څخه کمې دي، نو ذکر شوې مسئله ردیه ده د ورثې په ډله کې یو د زوجینو هم وجود نه لري، نو ترکه د برخو په پرتله چې ورثه یې د اصل مسئلې نه لري، په ورثه باندې

د فرض او رد په لاره وېشل کېږي او د ورثې ټولې برخې د مسئلې ردي اصل نيول کېږي او د تقسيم اساس ترکه ده، نـو د هر وارث د برخې معلومولو لپاره د مړي د ترکې نه ترکه په ردي اصل (۵) تقسيموو او خارج قسمت د هر وارث په برخـه کې ضربوو، د ضرب حاصل د ترکې نه د هر وارث برخه ده، نو د يوې برخې قيمت د (۶۰) جريبه ځمکې نـه ردي اصـل ضرب او مسئله له (۱۲) څخه نيول کېږي.

اصل مسئله: (۱۲)

د مور برخه: ۱۲=۱×۱۲ (۱۲) جريبه ځمکه

د علاتي (پلرنۍ خور) برخه ۳۶=۳×۱۲ (۳۶) جريبه ځمکه

د اخيافي (مورنۍ خور) برخه ۱۲=۱×۱۲ (۱۲) جريبه ځمکه

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې	ښوونکی د لومړنيو موضوعاتو وروسته تېر شوی لوست په څو پوښتنو سره ارزوي، مثلاً: ۱ـ د متروکې د تقسيم طريقه په ورثه وو څرنګه ده؟ ۲ـ د ميراث په علم کې تخارج تعريف کړئ؟ **د لوست وړاندېز:** ښوونکی د ځوابونو اورېدو وروسته د نوي لوست سرليک (رد) په تخته ليکي او زده کوونکو ته دنده ورکـوي چې لوست په چوپتيا سره ولولي او بيا نوی لوست په ساده توګه ورته شرح کوي او مثالونه په تختـه حلـوي. وروسته يې په څو زده کوونکو تکراروي. وروسته زده کوونکي په څلورو ډلو وېشي او دوی ته د رد له مسئلو څخه يوه مسئله چې د ښوونکي په لارښـود کتاب کې حل ده ورکوي، ترڅو په خپلو منځو کې يې حل کړي او په پای کې نتيجه د ټولګيوالو په مخ کې پـه تخته اعلانوي. **د لوست لنډيز:** د درسي کتاب له مخې ورته بيانوي او بيا زده کوونکي ارزوي او بالاخره کورنۍ دنده ورته سپاري، د مثال پـه توګه دا مسئله: هر کله که د مړه په ورثه کې حامله ښځه يې هم وي د هغه متروکه څنګه تقسيمېږي.

لوست: درى څلويښتم

سرليک: جهاد

وخت: يو درسي ساعت

مخ: ۱۲۹

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ د جهاد لغوي او اصطلاحي معنا وپېژني.

۲_ د جهاد د مشروعيت دليل زده کړای شي.

۳_ د جنګ او جهاد له شرطونو سره آشنا او نورو ته بيان کړی شي.

لازمي پوهه:

د اسلام د سپېڅلي دين له مخې حق جهاد د باطل په وړاندې او مبارزه د تکبر او زور په وړاندې او هلې ځلې د دې لپاره چې د انسان سلطه او قدرت پر انسان باندې له منځه ولاړ شي او خالص الٰهي حکومت تر قيامته پورې په ټوله نړۍ برقرار شي، ادامه لري.

د جهاد کلمه د جَهَدَ يجهد جهداً له باب څخه اخيستل شوې ده چې مصدر يې جُهد د جيم په ضمه سره دی او د جيم په فتحه هم راغلی. البته په ضمې سره يې معنا: دسعی کوشش او تحمل کول دی د حق په لار کې مبارزه کول او د حق دين لوري ته بلنه ورکول دي او د جيم په فتحې سره د وس او توان او همدارنګه د رنځ او ستونزې په معنا هم راغلی دی.

نو جهاد په لغت کې د آخري توان او وس په کار اچول دي، څو هدف ته پرې ورسېږي او ناوړتياوې دفع شي.

علماء وايي: جهاد په اسلام کې د انسان څخه د دفاع لپاره يو حرکت دی او د ده خپلواکي ده په ځمکه کې په هغو وسيلو او آلاتو سره چې د بشري ژوند ټول اړخونه په خپله احاطه کې راولي او په ټاکلو مرحلو کې رامنځ ته کېږي چې هره مرحله يې د خپلې زمانې سره سمې آلې لري، نو په ځمکه کې د ټولو انسانانو خپلواک کول څو د بندګانو له بندګۍ او غلامۍ څخه خلاص شي او د بې نيازه الله ﷻ بندګي ومني، دا د اسلامي جهاد انګېزه او آرمان دی.

علماء د جهاد د تعريف په هکله وايي: د اسلام تر ټولو وروستنی هدف په نړۍ کې د انسان د سلطې او برلاسۍ له منځه وړل برلاسي باندې او د يو الٰهي مطلق حکومت برقراري ده په ټول عالم باندې.

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې	ښاغلی ښوونکی د لومړنيو مرحلو او موضوعاتو څخه وروسته د تېر لوست ارزونه کوي، مثلاً ۱_ څوک د رد معنا ويلی شي؟ ۲_ رد په کومو ذوی الفروضو باندې صورت نيسي؟ د لوست وړاندېز: ښوونکی د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرليک (جهاد) په تخته ليکي او زده کوونکو ته امر کوي څو لوست په چوپتيا سره ولولي او دی په خپله بغلي سرليکونه په تخته ليکي. او بيا هر يو د دوی د سوېې سره سم مفصل شرح کوي او بيا له يوه زده کوونکي څخه غواړي څو ټولګيوالو ته يې تکرار کړي. بيا زده کوونکو ته وخت ورکوي څو د جهاد د حکمت او مشروعيت په هکله په خپلو کې بحث او څېړنه وکړي او بيا د بحث او څېړنې نتيجه يو زده کوونکی بيانوي. بيا ښوونکی د لوست لنډيز بيانوي: يعنې جهاد لغتاً او اصطلاحاً ورته تعريفوي او دا ورته واضح کوي چې د جهاد د مشروعيت دليل درې منابع لري: قرآنکريم، سنت او اجماع. د جهاد په هکله د هجرت په دويم کال د دفاع اجازه ورکړ شوه او لومړني آيتونه چې په دې هکله نازل شول د حج سورت ۳۸_۴۱ آيتونه دي. بيا ښوونکی د درسي کتاب په پوښتنو سره زده کوونکي ارزوي او کورنۍ دنده ورسپاري څو د جهاد د ګټو په هکله يوه لس کرښيزه مقاله وليکي.

لوست: څلور څلویښتم

سرلیک: د جهاد لاس ته راوړنې

مخ: ۱۳۲

وخت: یو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ د جهاد هدفونه او حکمتونه وپېژني.

۲_ د اسلام د پیل جنګونه د شلمې پېړۍ له جنګونو سره مقایسه کړای شي.

۳_ د جهاد هدفونه نورو ته بیان کړای شي.

لازمي پوهه:

رسول اللهﷺ د خپلې پېغمبرۍ دیارلس کاله په مکه مکرمه کې تېر کړل، په داسې حال کې چې په دې موده کې د اسلام د سپېڅلي مقدس دین په رسونه او تبلیغ بوخت و او د مشرکانو د ډول ډول رنځونو او کړاوونو سره مخ ؤ او صحابه یې هم ورځنې خلاص نه وو مشرکانو خلک د قرآن کریم او د سپېڅلي دین له بلنې څخه منع کول.

قدرمن صحابه د خپل دین د ساتنې لپاره د ناچارۍ له کبله حبشې ته په هجرت کولو مجبور شول، ځکه دوی د دښمن د ناروا تېریو په وړاندې د دفاع وس نه درلود خو د اللهﷻ اراده داسې تللې وه چې د یثرب (مدینې منورې) د اوس او خزرج قبیلې به د اسلام د مقدس دین بلنه مني، نو همدا وجه وه چې رسول اللهﷺ ورسره بیعت وکړ، یعني لکه څنګه چې دوی د ناخوالو په وړاندې د خپلو ځانونو او اولادونو څخه دفاع کوي، همدارنګه به یې د رسول اللهﷺ څخه هم کوي او کله چې مکه والو په کلي توګه د پېغمبرﷺ د وژلو هوډ ونیوه، نو ده مبارک مدینې منورې ته د هجرت لاره ونیوله او وروسته قرآن کریم په زیاتو ځایونو کې مسلمانانو ته د ډېرو لاملونو له کبله د جهاد اجازه ورکړه او دا اجازه دوو لاملونو ته راجع کېږي.

لومړی_ دا چې د تېر یو په وخت کې د نفس نه د دفاع په وخت کې.

دویم_ د اسلام مقدس دین ته د دعوت او بلنې په نیت په داسې حال کې چې د بلنې د لارې تلونکي پوهېږي چې مؤمن د فتنو په لومه کې ګېر پاتې دي، په داسې توګه چې په ډول ډول عذابونو عذابېږي، څو د اسلامي عقیدې نه وګرځي یا هغه څوک چې د اسلام په دین کې د ننوتو اراده لري د اسلام دین ته د داخلېدو څخه منع شي او یا د اسلام بلونکي ته د تبلیغ موقع ورنکړل شي دا هغه کړه وړه دي چې قرآن کریم د دوی سره د جنګ اجازه کړېده.

الله تعالی د حج په سورت کې چې د جهاد په هکله لومړی بیان پکې راغلی داسې فرمایي: ((أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلاَّ أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلاَ دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ))(الحج/۳۹_۴۰)

ژباړه: هغو کسانو ته اجازه ورکړل شوه چې د هغو په خلاف په جګړې لاس پورې کیږي ځکه هغوی مظلومان دي او الله په ریښتونې توګه د هغو د ملاتړ وس لري.

دا هغه کسان دي چې له خپلو کورونو څخه په ناحقه وایستل شول یوازې په دې جرم چې هغوی وایی زمـــوږ رب الله دی، که الله خلک یودبل په وسیله دفع نکړي نو ټول هغه ځایونه به ونړیږي چې د الله نوم پکې ډیر یادیږي الله به هرومرو له هغـــو کسانو سره مرسته وکړی چې (د الله د دین) مرسته کوي، الله ډیر ځواکمن برلاسی دی.

د حج سورت په دې آیتونو کې دوه ډېرې مهمې نکتې شتون لري چې باید هغه وپېژنو:

۱ـ دا چې د مسلح جهاد اساسي هدف دا دی چې د ظالمانو قوت او دبدبه وځپل شي، هغه کسان چې د حقې لارې مـــانع کېږي او د الله ﷻ بندګانو ته آزار او رنځ رسوي او بیا قدرت هغو کسانو ته وسپارل شي چې الله ﷻ پېژندونکي، الله والـــه او پرهېزګاره وي او د ښېګنو په خپرولو او د بدیو نه د مخنیوي په هکله هلې ځلې کوونکي وي.

۲ـ دا چې هغه ډله مسلمانان چې د جهاد او قرباني لپاره متې رانغاړې او په دې سپېڅلې لاره کې قدم پورته کوي باید پـــه هغه کې روزل شوي او پالل شوي وي چې که د زیار او جهاد په نتیجه کې قدرت ته ورسېږي، نو دغه قدرت او دبدبه باید د ټولنې په جوړولو او د ښېګنو په رواجولو او د ناوړو چارو نه د مخنیوي په هکله وکاروي نه دا چې قدرت او حکومت د دنیا د راجلبولو او د عیش او عشرت وسیله وګرځوي.

قرآني آیتونه او قیمتي نبوي احادیث د الله ﷻ په لاره کې د جهاد او هلو ځلو د غوره والي او فضیلت په هکله دلیـــل دی. د نورو عملونو (عبادتونو) په پرتله او د اسلام زیاتره علماء د ذکر شوو نصوصو په نظر کې نیولو سره عقیده لري چې د الله ﷻ په لاره کې جهاد تر ټولو ډېر غوره عمل دی چې په اسلامي ټولنه کې باید وربانديې ټینګار وشي، متأسفانه چې جهاني استعمار او استکبار د الله ﷻ په لاره کې د جهاد ځلېدونکې څېره کم رنګه کړې ده او ډېر پراخه هلې ځلې یې په لاره اچـــولې دي، څو د الله په لاره کې جهاد د خلکو په ذهنونو کې د ترور او خشونت مصدر وپېژني.

د جهاد غوره والی:

لکه څنګه چې وویل شوه د قرآن کریم صفحې د الله ﷻ په لار کې د جهاد نه ډکې او ښکلې شوې دي، په دې برخه کـــې په عامه اصطلاح موتې د خروار بېلګه ده د جهاد څو فضیلتونه بیانوو. الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ((يَا أَيُّهَـــا الَّـــذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُـــمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ))(الصف/۱۰ـ۱۱)

ژباړه: ای مؤمنانو ایا تاسې ته د داسې سوداګرۍ لارښوونه وکړم چې تاسې د (دوزخ له) دردناک عذاب څخه وژغوري، پر الله او دهغه پر رسول ایمان راوړئ او د الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد وکړئ دا (کار) تاسې لره غـــوره دی که پوهیږئ.

په غور او پاملرنې سره په دې آیت کې مومو چې د جهاد غوره والی او فضیلت په څه اندازه لویه درجه لري. په دې ذکـــر شوي آیت کې یې جهاد د یو ډول تجارت سره تشبیه کړی چې په هغه کې مالي ګټې شتون لري، اما لـــه غـــور او مطـــالعې وروسته مومو چې نه یوازې په دې آیت کې بلکې ټولو هغو آیتونو کې چې د جهاد فضیلت او لویي ذکر شوې ده، نو په هغـــه کې کامیابي او لویي د مادیاتو په لاس ته راوړنه او د حکومت په چارو تسلط او برلاسی بس والی نه دی شوی، بلکې د اعلی جنت او ښایسته آخرت ژمنه هم شوېده، لکه چې الله تعالی فرمایي: د الله په لار کې مال او ځان وښندئ او د هغه په بدله کې د دوزخ د شغله لرونکي اور څخه خلاصون حاصل کړئ. هغه آیت چې الله تعالی مجاهدین پرې ستایلي: ((إِنَّ اللَّـــهَ يُحِـــبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنيَانٌ مَّرْصُوصٌ))(الصف/۴)

ژباړه: بیشکه الله هغه کسان خوښوي چې د هغه په لار کې په ټینګو لیکو کې داسې جنګیږي (چی ته به وایې) دوی لکه ټینګ دیوال دی.

کوم ټولی چې پرته د عوض او بدلې له انتظاره، پرته د مال او شتو او پانګې له هیلې، پرته له شخصي ګټو طرح کولو، بلکې یوازې او یوازې د اسلام د حاکمیت او د الهي رضا او د خپلې عقیدې د حریم د پاکوالي لپاره او د دیني ارزښتونو او د فتنې او فساد او د ظلم د ماڼیو نړولو لپاره او د هغه په ځای عدل او انصاف قایمولو لپاره متې راونغاړي او په دې لاره کې د دې هدفونو د پیاوړتیا په خاطر مال او ځان، تجارتي ګټې د اولادونو، مور، پلار او ورونو، خویندو او ټول ژوند او کور کهول قرباني کړي، نو د داسې ټولي سره هېڅوک برابري نشي کولای، یوازې همدوی د اللهﷻ د مینې او رضا مستحق دي او یوازې همدوی ته د کامیابۍ او برلاسي غېږه پرانستل کېدای شي.

همدا د اللهﷻ په لار کې د جهاد غوره والی دی چې په الله تعالی باندې له ایمانه وروسته له ټولو اسلامي ارزښتونو څخه لوړه درجه ورته حاصله ده، نو که په غور سره تر څېړنې لاندې ونیوه شي، معلومېږي چې په حقیقت کې همدا جهاد دی چې د ټولو اخلاقي فضیلتونو او مکارمو روح دی او د الله تعالی پیمغبرﷺ د مجاهدینو په هکله داسې فرمایي: ((وَعَنْ أبي هُرَيـرَة، رضي اللَّه عنْه، قَال: قَالَ رسولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: « تَضَمَّنَ اللَّه لِمنْ خَرَجَ في سَبيلِه، لا يُخْرجُهُ إلاَّ جهَادٌ في سَبيلي، وإِيمانٌ بي وَتَصْدِيقٌ برُسُلي فَهُوَ ضَامِنٌ أنْ أدْخِلَهُ الجَنَّة، أوْ أرْجِعَهُ إلى مَنْزِلِهِ الذي خَرَجَ مِنْهُ بما نَالَ مِنْ أجْر، أوْ غَنيمَة، وَالَّذي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بيَدِهِ ما مِنْ كَلْمٍ يُكلَم في سبيلِ اللَّهِ إلاَّ جاءَ يوْم القِيامةِ كَهَيْئَتِهِ يوْم كُلِم، لَوْنُهُ لَوْن دَم، وريحُهُ ريحُ مِسْك، والَّذي نَفْسُ مُحمَّدٍ بيدِهِ لَوْلا أنْ أَشُقَّ على المُسْلِمينَ ما قعَدْتُ خِلاف سريَّةٍ تَغْزُو في سَبيلِ اللَّه أبَدا، ولكِنْ لا أجِدُ سعَة فأَحْمِلَهمْ ولا يجِدُونَ سعَة، ويشُقُّ علَيْهِمْ أن يَتَخلفوا عنِّي، وَالذي نفْسُ مُحَمَّد بيدِه، لَوددْتُ أن أغزوَ في سبيلِ اللَّه، فَأُقْتَل، ثُمَّ أغْزو، فَأُقتل، ثُمَّ أغزو، فَأُقتل))(الحديث)

ژباړه: رسول اللهﷺ فرمایلي دي: الله داسې ژمنه کړې ده، د هغه چا لپاره چې د ده په لاره کې راووځي (او الله تعالی داسې فرمایلي دي) ((او دی یوازې زما په لاره کې جهاد او په ما ایمان او زما د پیغمبرانو تصدیق راایستلی وي، نو د ده لپاره (الله تعالی فرمایي) زه ژمن یم چې جنت ته به یې داخلوم.

یا دا چې دی به د مزد یا غنیمت سره خپل کور ته راګرځوم او په هغه ذات قسم چې د محمد نفس د ده په لاس کې دی هیڅ زخم نشته چې د اللهﷻ په لاره کې منځ ته راغلی وي، مګر دا چې د قیامت په ورځ به په همغه بڼه راځي چې کومه ورځ یې زخم خوړلی و چې د زخم د وینو رنګ به د وینو وي او بوی به یې د مشکو. او قسم په هغه ذات چې د محمدﷺ روح د ده په لاس کې دی که په مسلمانانو کړاو او سختي نه راتلی، نو هېڅکله به په یوه غزا کې هم د اللهﷻ په لار کې له جهاده نه شاته کېدم، خو دا وس نلرم چې دوی د ځان سره بوځم او دوی هم دا وس او توان نلري او دا په دوی ډېره ستونزمنه تمامېږي چې زما څخه وروسته پاتې شي او قسم په هغه ذات چې د محمد روح د ده په لاس کې دی، دا خوښم چې د اللهﷻ په لار کې جهاد وکړم او ووژل شم او بیا جهاد وکړم او ووژل شم او بیا جهاد وکړم او ووژل شم.

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د لومړنیو موضوعاتو وروسته د تېر شوي لوست په هکله زده کوونکي داسې ارزوي: ۱_ د جهاد لغوي او اصطلاحي معنا څوک ویلای شي؟ ۲_ د جهاد د مشروعیت دلیل څوک ویلای شي؟ ۳_ جهاد څه وخت فرض شوی دی؟ ښاغلی ښوونکی د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرلیک (د جهاد لاس ته راوړنې) په تخته لیکي او زده کوونکو ته امر کوي چې لوست په چوپتیا سره ولولي او دی په عین مهال کې د لوست بغلي سرلیکونه پــه تخته لیکي او بیا یې شرح کوي. ښوونکی بیا زده کوونکي په څو ډلو وېشي، بیا دنده ورکوي څو د اسلام د لومړنیو جنګونو په هکله یو د بــل سره بحث او خبرې وکړي او هغه د شلمې پېړۍ له جنګونو سره مقایسه کړي. بیا د یوه زده کوونکي څخه غواړي څو د بحث نتیجه ټولګیوالو ته بیان کړي. **د لوست لنډیز:** جنګ په اسلام کې د مقدساتو څخه د دفاع په هدف او د ظلم د ټغر ټولېدلو او ربښو ایستلو لپاره رامــنځ تــه کېږي او جهاد لاندې هدفونه لري: ۱_ د دیني سپېڅلتیاوو او مسلمانانو د حقوقو څخه دفاع. ۲_ د بېوزلو خپلواکي. ۳_ د دعوت او بلنې آزادي. **ارزونه:** ښوونکی د خپل ډاډ او اطمینان په خاطر د درسي کتاب له پوښتنو څخه زده کوونکي ارزوي. **کورنۍ دنده:** ښوونکی زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي.

لوست: پنځه څلویښتم

سرليک: په جهاد کې کوم کسان مکلف دي

مخ: ۱۳۵

وخت: يو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي بايد:

۱ـ وپوهېږي چې کوم کسان په جهاد مکلف دي؟

۲ـ د ناروا جنګونو په معنا او مفهوم وپوهېږي او خپل نظريات وليکلی شي.

۳ـ په دې مهمه نکته هم وپوهېږي چې کوم کسان د عصبيت او قومي او نژادي احساساتو په خـاطر جنګېـږي د هغـوی برخليک به څرنګه وي.

لازمي پوهه:

لکه څنګه چې الله تعالی په قرآن کريم کې انسانانو ته د زغم او حوصلې لارښوونه کړېده، همدارنګه په هغه مهال چې د اسلام روښانه دين په خطر کې وي او د دښمنانو يرغلونه د اسلام د نړولو لپاره چمتو والی ښيي، څو په ټولنه بل نظام حـاکم او برلاسی کړي، نو په دې صورت کې د زغم او حوصلې نه کار نه اخلي، بلکې اسلام په پوره شدت او سختی حکم کـوي چې که چېرې څوک ستاسو انساني حقوق تر پښو لاندې کوي، پر تاسو ظلم او تېری کوي او تاسو د خپلو شتو او ملکيتونو څخه محروموي او ستاسو څخه د ايمان او ضمير خپلواکي سلبوي او تاسو د خپل دين د معيارونو سره سم ژوندانه تـه نـه پرېږدي، ستاسو د ټولنيز نظام ستنې نړوي او تاسو ته له دې کبله رنځ او آزار درکوي چې د اسلام د روښانه دين پيروي مـو غوره کړې ده، نو د همداسې قوت په وړاندې هېڅکله بېوزلي او سستي مه ښيئ، خپل قوت او وس د داسې ظلمونو په دفـع کولو کې ولګوئ. الله تعالی آيتونو کې فرمايي: ((وَقَاتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُواْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبِّ الْمُعْتَـدِينَ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ وَلاَ تُقَاتِلُوهُمْ عِندَ الْمَـسْجِدِ الْحَـرَامِ حَتَّـى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِن قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاء الْكَافِرِينَ فَإِنِ انتَهَوْاْ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُـونَ الدِّينُ لِلّهِ فَإِنِ انتَهَواْ فَلاَ عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَـدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ)).

ژباړه: او د الله په لاره کې د هغو کسانو سره جګړه وکړئ چې له تاسې سره جګړه کوي خوله حد څخـه مـه تيرېـږئ بېـشکه چې الله هغه کسان نه خوښوي چې له حده اوړي. او په هر ځای کې چې مشرکان ومومی ويې وژنی او له هغـه ځايـه بـې وباسـی چې تاسې يې ترې ايستلي ياست او فتنه (شرک) له وژلو څخه (هم) ډېره سـخته ګنـاه ده، او د دوی سـره د مـسجدالحرام پـه څنګ کې جګړه مه کوئ ترهغې چې دوی له تاسې سره هلته جګړه وکړي نو که دوی له تاسې سره (پـه مـسجد الحـرام) کـې جګړه وکړه تاسې هم دوی (هلته) ووژنی د کافرانو سزا هم داده. نوکه دوی (له تيري څخه) ډډه وکـړه نـو پـه رښـتيا چـې الله ښه ښښونکی لورورنکی دی. او له دوی سره ترهغې جګړه وکړئ چې فتنه (شرک) پاتې نشي او د الله ديـن (حکـم) يـوازې د الله شي خوکه دوی له تيري لاس پرسرشي نو تيری له تيري کوونکو پرته پربل چا نه دی راو. د حرامی مياشـتې بـدل هماغـه حرامـه مياشت ده او د ټولو حرمتونو مراعاتُ يوشان برابر وي نوکله چې څوک پرتاسې تيری وکړي تاسـې هـم پرهغـه همغـسې تيـری وکړئ چې پرتاسې يی کړی دي او له الله څخه وويرېږئ او پوه شی چې بيشکه الله له متقيانو سره دی.

هو د دین او د اسلامي خاورو نه دفاع په هغه کچه مهمه او ضروري ده چې هر کله کوم قدرت او طاقت د اسلام د بېوزلۍ یا د اسلامي نظام د نړولو او نابودولو لپاره یرغل وکړي، نو پر ټولو مسلمانانو فرض عین دی چې ټول خپل کارونه پرېږدي او د دوی د دسیسو او فتنو د دفع کولو لپاره راووځي او چې چې اسلامي نظام او کړنلاره له داسې خطرونو څخه ونه ژغوري هېڅکله آرام او هوسایي ونه پلټي، لکه څنګه چې په ټولو فقهي کتابونو کې دا دستور موجود دی، یعنې هر کله که جنګي کافران په اسلامي هېواد یرغل او حمله راوړي، نو په هر مسلمان وګړي دفاع په داسې غوښه توګه لازمه ده، لکه لمونځ او روژه. د فقهې په مشهور کتاب ((بدائع الصنائع)) کې راغلي چې: ((فاما اذا عم النفير بان هجم العدو على بلد فهو فرض عين يفترض على كل واحد من احاد المسلمين ممن هو قادر عليه لقوله سبحانه و تعالى «انفروا خفافاً و ثقالاً» قيل نزلت فى النفير.

و قوله سبحانه و تعالى: ما كان لاهل المدينة و من حولهم من الاعراب ان يتخلفوا عن رسول الله ولايرغبوا بانفسهم عن نفسه...))

کله چې د جهاد عمومي اعلان وشي او دښمن په یوه اسلامي هېواد یرغل راوړي، نو په دې صورت کې جهاد په هر مسلمان وګړي نر او ښځې چې د جهاد وس او توان لري، فرض عین ګرځي. د دې مبارک آیت په بنا چې الله فرمایي: ((ووځئ د جهاد لپاره سپک او درانه)) ویل شوي دي چې دا آیت د نقیر په هکله نازل شوی او بله د الله وینا ده چې فرمایي: ((لایقه او وړ نده د مدینې منورې اوسېدونکو او د هغه د چاپېریال اوسېدونکو صحرایانو ته چې په غزوه کې له رسول اللهﷺ څخه وروسته پاتې شي او نه دا چې خپلو نفسونو ته د رسول اللهﷺ د نفس په پرتله زیاته هڅونه او پاملرنه وکړي.

او دا چې د نفیر عام وجوبي حکم پر ټولو مسلمانانو باندې ثابت دی، ځکه د ځینو مسلمانانو ګډون په عام نفیر کې هدف لاس ته نشي راوړی، نو جهاد په داسې حالت کې فرض عین ګرځي، لکه لمونځ او روژه نو په داسې مهال غلام پرته د بادار له اجازې او ښځه پرته د مېړه له اجازې په جهاد کې ګډون کړای شي، ځکه په فرض عین عبادتونو کې بادار او مېړه په غلام او ښځه د خدمت حق نلري، لکه لمونځ او روژه، همدارنګه اولاد کولای شي چې پرته د مور او پلار له اجازې د جهاد صفونو ته ورودانګي، ځکه د مور او پلار حق ساقطېږي، لکه څنګه چې په نورو فرض عین عبادتونو کې ساقط دی.

البته دا فرض عین والی یوازې تر مذهبي، ملي او قومي انګېزو پورې موقوف نه دی، بلکې باید د عقیدې او اسلامي ارزښتونو د دفاع لپاره او د اسلام په حریم باندې د تجاوز له کبله چمتووالی وښیي. د هر ظالمانه یرغل او لوټمار په وړاندې چې پر اسلامي حکومت باندې صورت نیسي دفاع په عین قاطعیت او شدت فرض عین ده، ځکه یرغل او حمله پر اسلامي حکومت باندې په حقیقت کې په عین اسلام باندې یرغل دی. که هر څو د دښمن هدف د اسلام له منځه وړل نه وي، بلکې یوازې د مسلمانانو د سیاسي قدرت نړول وي. اما یوه پوښتنه داسې مطرح کېږي چې ایا کله په یوه اسلامي هېواد او یا د مسلمانانو په یوه منطقه د اسلام دښمنان یرغل کوي ایا د ټول جهان په مسلمانانو جهاد فرض عین ګرځي او یا د همغه هېواد یا منطقې په خلکو؟ ځواب دا دی چې کله د جهاد عمومي اعلان وشي، نو یوازې په هغو کسانو جهاد فرض عین ګرځي چې هملته دښمن ته نږدې او په لرې کسانو فرض کفایي ګڼل کېږي، اما په هغه صورت کې که انساني قوت ته ضرورت پیدا شو او مسلمانانو د دښمن د یرغل توان نه درلود بیا په هغو مسلمانانو جهاد فرض عین کېږي چې دې هېواد یا منطقې ته نږدې وي، بیا په هغو خلکو فرض عین ګرځي چې همدې دویمې ډلې ته نږدې دي.

وخت	فعالیتونه
۵دقیقې	ښاغلی ښوونکی د لومړنیو مراحلو څخه وروسته د تېر شوي لوست په هکله زده کوونکي ارزوي، مثلاً: ۱_ د جهاد ځینې هدفونه او حکمتونه څوک ویلای شي؟ ۲_ جهاد په کوم وخت کې فرض عین او په کوم وخت کې فرض کفایي ګڼل کېږي؟ ۳_ آیا د مذهبي، ملي او قومي انګېزو په صورت کې جهاد فرض کېدای شي؟ ښوونکی د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرلیک «کوم کسان په جهاد مکلف دي» په تخته لیکي او زده کوونکو ته امر کوي څو لوست په چوپتیا سره ولولي او دی په خپله د لوست بغلي سرلیکونه لیکي او بیا هر سرلیک شرح کوي. بیا د لوست خلاصه بیانوي او وایي چې کوم کسان عملاً په جنګ کې راښکېل دي، د هغو وژل روا دي او کوم چې د جنګ نه ګوښه دي، لکه ښځې، ماشومان، بوډاګان، مریض او معیوب یا کوم کسان چې په عبادت خانو کې په خپل عبادت لګیا دي، د هغو وژل جواز نلري. جنګ په اسلام کې یوازې د الله ﷻ په لاره کې دی، نه د خواهشاتو، مقام او دبدبې یا په نورو د برلاسی یا د خاورې د پراختیا لپاره. په اسلام کې جنګ د قومیت او نژاد لپاره حرام دی. په پای کې ښوونکی زده کوونکي د درسي کتاب په ارزونې سره ارزوي او کورنۍ دنده ورسپاري، څو په ټولنه کې د عصبیت او دهغه د ناوړو پایلو په باره کې یوه مقاله ولیکي او په راتلونکي ساعت کې یې له ځانونو سره راوړي.

لوست: شپږ ځلویښتم

سرلیک: د اسلام له نظره د جهاد ډولونه

مخ: ۱۳۸

وخت: یو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي باید:

۱_ د جهاد ډولونه د اسلام له نظره وپېژني.

۲_ د جهاد په معنا او مفهوم وپوهېږي.

۳_ د جهاد سیاسي هدف وپېژني او نورو ته یې بیان کړی شي.

لازمي پوهه:

لکه څنګه چې دالهي لارښوونو او نبوي احادیثو څخه معلومېږي دوه ډوله جهاد شتون لري: جهاد اکبر او جهاد اصغر، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ((وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ))(الحج/۷۸) یعنې د الله په لاره کې جهاد وکړئ او حق د جهادیې اداء کړئ. دلته زیاتره مفسرینو جهاد ددښمن په وړاندې د ځانګړې مسلحانه مبارزې په معنا نه دی اخیستی، بلکې لکه څنګه چې د جهاد له لغوي مفهوم نه استفاده کېږي د الله په لاره کې د هر ډول هلو ځلو او د نیکیو او ښېګڼو په ترسره کولو او د ناوړو کړو وړو او د نفس د بدیو او ناروا غوښتنو په وړاندې مبارزه جهاد اکبر او د ظالمو او کافرو دښمنانو په وړاندې مبارزې ته جهاد اصغر وایي.

الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته فرمایي: ((فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ)) (الفرقان/۵۲) په هېڅ توګه د کافرانو پیروي مه کوه یعنې د دوی دانحرافاتو او کړیو په وړاندې د سازش او جوړښت لاره مه خپلوه، ځکه دا کار د دعوت او بلنې په خپرولو کې ډېر لوی خطرونه رامنځ ته کوي. د دوی اصلاح کوه او خپل قدمونه ثابت ساته او هېڅ کله د دوی غوښتنو او هوسونو ته تسلیم نه شی.

او دویم قرآني امر دا دی: ((وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا))(الفرقان/۵۲) د هغوی سره لوی جهاد کوه. یعنې داسې لوی جهاد چې د خلکو د روح او فکر ټول اړخونه راونیسي او مادي او معنوي خواوو ته شامل شي پرته له شکه د جهاد نه هدف دلته عقیدتي، فکري، فرهنګي او تبلیغاتي جهاد مراد دی، نه مسلحانه جهاد. علامه طبري هم په مجمع البیان کې وایي دا آیت دلیل دی چې د ګمراهانو او د حق د دښمنانو په وړاندې ډېر لوی جهاد فکري او تبلیغاتي جهاد دی او د پیغمبرﷺ مشهور حدیث: ((رَجَعْنَا مِنَ الْجِهَادِ الْاَصْغَرِ اِلَى الْجِهَادِ الْاَكْبَرِ)) همدې جهاد ته اشاره ده، یعنې موږ له وړوکي جهاد نه لوی جهاد ته راوګرځېدو.

دا تعبیر د قرآن کریم لوی مقام او دبدبه هم را په ګوته کوي، ځکه قرآن کریم د لوی جهاد د ثبوت لپاره داسې وسیله او پرې کوونکې سلاح ده چې د بیان او استدلال بیان او ژوره اغېزه او جاذبیت یې د انسانانو له تصور او قدرت څخه لوړ دی.

وړوکی جهاد هم په اسلام کې ډېر ډولونه لري: ابتدایي جهاد، دفاعي جهاد، د شرک او بت لمانځنې او فتنو د اور مړه کولو لپاره جهاد.

الله تعالی فرمایي: ((فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا...))(محمد/۴)

ژباړه: کله چې د کافرانو سره مخامخ شی.

او فرمایي: کله چې د جنګ په ډګر کې د کافرانو سره مخامخ کېږئ، نو په ټول توان او وس له هغوی سره وجنګېږئ او غاړې یې ورووهئ، یعنې له پښو یې وغورځوئ، اما هر کله چې غاړه وهل د وژنې روښانه مصداق دی، نو په هغه باندې تکیه شوېده او دلته مراد ورځنې جنګ دی، نه مطلق د کافر سره مخامخ کېدل.

او دا طبيعي خبره ده چې کله انسان د خپل دښمن سره مخ کېږي، نو په هغه سخته حمله کوي ورنه دی په خپله له منځه ځي او دا شديدې حملې تر هغه دوام مومي څو دښمن له پښو نه وي لوېدلی او کله چې د پښو ولويد بيا يې بنديانول په کار دي، نه وژنه.

او دا چې د اسلام او کفر جنګ کله ختمېږي؟ دې پوښتنې ته مفسرينو مختلف ځوابونه ورکړي دي، په دې هکله عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وايي دا تر هغه پورې دی چې د بتانو عبادت د نړۍ له صفحې ورک شي او د شرک او بت لمانځنې تغر ټول شي. ځينو نورو ويلي د اسلام او کفر جنګ تر هغې دوام مومي څو مسلمانان په دجال برلاسي شي، لکه چې نبوي حديث دی: ((الجهاد ماض منذ بعثنى الله الى ان يقاتل خر امتي الدجال)) (مسندابي يعلی) يعنې جهاد جاري دی د هغه وخت نه چې الله زه پيغمبر کړی يم، تر دې چې زما وروستنی امتي د دجال سره جنګ وکړي.

چې چې دجالان د ځمکې پر مخ ژوند کوي د حق او باطل مبارزه او جهاد روان دی. په حقيقت کې اسلام د کفر سره دوه ډوله جهاد لري: يو پرې کوونکي جنګونه دي لکه پيغمبر صلی الله علیه وسلم چې د کافرانو سره درلوده چې د هر جنګ نه وروسته به توره په تيکو کې اېښودل کېدې او بل دوامدار جهاد دی، د شرک، کفر، ظلم او فساد په وړاندې او دا تر هغه دوام مومي څو په نړۍ کې د الٰهي عدل حکومت خور شي او يوازې اسلام حاکم واوسي.

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې	ښاغلی ښوونکی د لومړنيو مراحلو وروسته تېر شوی لوست ارزوي، مثلاً: ۱_ څوک ويلای شي چې په جهاد کوم خلک مکلف دي؟ ۲_ د جنګ په حالت کې د کومو کسانو وژنه روا نده؟ ۳_ کوم ډول جنګونه حرام دي؟ ښوونکی د ځوابونو له ا وربدو وروسته د نوي لوست سرليک ((جهاد د اسلام له نظره)) په تخته ليکي او يوه زده کوونکي ته وايي چې لوست د کتاب له مخې ولولي، بيا لوست شرح کوي. وروسته زده کوونکي په دوه ډلو وېشي او لارښوونه ورته کوي، څو د لوست په هکله په خپلو کې بحث او خبرې وکړي او بيا يې نتيجه اعلان کړي. **د لوست لنډيز:** جهاد په آخري اندازه هلې ځلې او قوت په کار اچول دي او د اسلام له نظره په څو ډوله دی: ۱_ مالي جهاد ۲_ دعوتي جهاد ۳_ تعليمي جهاد ۴_ سياسي جهاد ۵_ مسلحانه جهاد په پای کې ښوونکی د خپل ډاډ او اطمينان په خاطر د درسي کتاب له ارزونې څخه زده کوونکي ارزوي او بالاخره کورنۍ دنده ورکوي.

لوست: اووه څلويښتم

سرليک: صلح او احکام يې

مخ: ۱۴۲

وخت: يو درسي ساعت

موخې: زده کوونکي باید:

۱ـ صلح او احکام يې وپيژني.

۲ـ د صلح د ګټو په باره کې بحث وکړای شي.

۳ـ د لوست ګټې په ټولنه کې تطبيق کړای شي.

لازمي پوهه:

صلح عربي کلمه اسم مصدر دی او د انسانانو ترمنځ په يوه سالمه، همغږې، آرامه او هوسا فضا کې د ژوندانه حاصـــل دی. مفهوم يې د يوې کورنۍ د اړيکو ترمنځ او د يوه دين د پيروانو او د بين المللي او مختلفو اديانو د پيروانو ترمنځ د تطبيق وړ دی.

د اسلام سپېڅلی دين صلحې ته په ټولو ذکر شوو امورو کې ځانګړې ارزښت ورکوي او په قرآن کريم کې په مختلفو وجو په هغې ټينګار شوی دی او مسلمانان يې صلحې ته رابللې دي. د صلحې ضد فساد دی، لکه چې ويل کېږي، يو شـــی هغـــه وخت صالح ګرځي چې فساد ورځنې لرې شي. مثلاً کله چې مرض له مريضه لرې شي، مريض روغتيا مومي او يا يو تن هغـــه وخت صالح ګرځي چې ناوړه اخلاق ورځنې لرې شي. او د صلحې په اصطلاحي معنا کې علماءمختلفې ويناوې لـــري او د اختلاف سبب دا دی چې صلح ډېر مصداقونه او مختلف حالتونه لري، لکه د مېړه او ښځې ترمنځ صلح، په معـــاملاتو کـــې صلح، په جنګ کې د لګيا خلکو ترمنځ صلح او نورو حالتونو کې صلح.

په پايله کې صلح د اوربند او د دوو خواوو ترمنځ د اختلافاتو او جګړو له منځه وړل دي. هغه هم د شرطونو په رڼـــا کـــې چې د صلحې د شرطونو په نامه يادېږي.

يا په بله وينا صلح د موافقت نامې په معنا ده چې جنګ او جګړې ته د پای نقطه ږدي. برابره ده چې لفظي جنګ وي (سوړ جنګ) او يا مسلحانه جنګ وي (تود جنګ) دا د صلح لپاره يو جامع تعريف دی چې د صلح ټولو ډولونو ته شاملېږي، لکـــه د معاملاتو صلح، کورنۍ صلح، د جنګ صلح برابره ده د مسلمانانو او کافرانو ترمنځ صلح وي او يا د مـــسلمانو ډلـــو او مشرانو ترمنځ وي.

د اسلام مقدس شريعت د صلحې ټول ډولونه چې جګړو او جنګونو ختمېدو ته منجر کېږي روا ګڼي، په داسې شرط ســـره چې هغه صلح حلال حرام او حرام حلال ونه ګرځوي او د صلحې په ترڅ کې عدل او انصاف ته پاملرنه او د دوامداره مثبتو اړيکو ساتل چې دښمن له منځه يوسي ضروري ده.

د اسلام د سپېڅلي دين له مخې د اسلامي امت ترمنځ د صلح عملي کول ډېره زياته ارزښتناکه ده او کله چې د دوو وګړو يا دوو ډلو يا دوو ملتونو ترمنځ دعوې او جنجال وي، نو د دوی ترمنځ د صلحې په راوستلو کې دروغ هـــم روا دي، لکـــه پيغمبرﷺ فرمايي: ((عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّهُ قَالَ: أَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أُمِّهِ أُمِّ كُلْثُومِ بِنْتِ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ، أَخْبَرَتْـــهُ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ: " لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَقُولُ خَيْرًا أَوْ يَنْمِي خَيْرًا " وَلَمْ أَسْمَعْهُ يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبًا إِلَّا ثَلَاثٍ: الْحَرْبِ، وَالْإِصْلَاحِ بَيْنَ النَّاسِ، وَحَدِيثِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ))

ژباړه: د حضرت ابن شهاب څخه روایت دی، وايي: ما ته حمید بن عبدالرحمٰن د خپلې مور نه خبر راکړ، یعنې د ام کلثوم بنت عقبه ابن ابي معیط نه چې د رسول الله ﷺ څخه مې واورېده چې فرمایل یې: ((دروغجن نه دی هغه څوک چې د خلکو ترمنځ اصلاح کوي او په خپلو دروغو سره خلکو ته ګټه او ښېګڼه رسوي او یا ګټوره او نېکه خبره کوي او راوي وايي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه نه دي اورېدلي چې څه خلک دروغ ګڼي او ده اجازه ورکړې وي، مګر په دريو ځایونو کې: په جنګ کې د خلکو ترمنځ په جنګ کې یعنی صلح راوستل او کومه خبره چې مېړه یې خپلې مېرمنې ته کوي.

د خلکو ترمنځ صلح یو الهي امر دی، لکه چې ا لله تعالی په قرآن کریم کې فرمايي: ((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بِيْنِكُمْ وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ)) (الانفال/۱)

ژباړه: نو له الله څخه ووېرېږئ او خپل منځي اړیکې سمې کړئ او د الله اود هغه د رسول پیروي وکړئ.

او د احنافو په مذهب صلح یو رکن لري چې هغه د ایجاب او قبول صیغه ده چې د دوی په رضایت دلالت کوي. اما د امام مالک، شافعي او امام احمد حنبل رحمهم الله په نزد صلح درې رکنونه لري: د ایجاب او قبول صیغه، عاقدین (تړون کوونکي) او د صلح محل چې مصالح به او مصالح علیه دي چې هر یو ځانګړي شرطونه لري.

د اسلام له نظره د صلح ارزښت:

د اسلام په ټولنیز نظام کې صلح د خلکو ترمنځ ډېر لوی مقام او غوره والی لري، آن تر دې چې رسول الله ﷺ صلح د ټولې شپې له نفلي عبادت او نفلي روژې څخه غوره ګڼلې ده، لکه چې په یوه حدیث کې راځي: ((عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ «أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلاَةِ وَالصَّدَقَةِ». قَالُوا بَلَى. قَالَ «إِصْلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ))

ژباړه: له حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دی، وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا تاسې ته په داسې عمل خبر درکړم چې د هغه ترسره کول د نفلي روژې، نفلي لمانځه او صدقاتو نه زیات ثواب ولري؟ صحابه کرامو وویل: بلې، ده مبارک وفرمایل: دا د خلکو ترمنځ صلح کول دي او د خلکو ترمنځ فساد پیدا کول هلاک کوونکی دی.

همدارنګه د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، وايي رسول الله ﷺ وفرمایل: ((سمعت رسول الله ﷺ یقول: من اصلح بین اثنین استوجب ثواب شهید))

ژباړه: له رسول الله ﷺ څخه مې واورېدل چې فرمایل یې: څوک چې د دوو خواوو ترمنځ صلح راولي د شهید ثواب لاس ته راوړي.

همدارنګه د انس رضي الله عنه څخه روایت دی: ((قال رسول الله ﷺ من اصلح بین اثنین اعطاه الله بکل کلمة عتق رقبة))

یعنې څوک چې د دوو خواوو ترمنځ صلح راولي، الله تعالی په هره خبره باندې د یوه غلام آزادولو بدله ورکوي.

د خپلو ورونو ترمنځ صلح راولئ:

الله فرمايي: ((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ)). یعنې په باوري توګه مؤمنان د یو او بل ورونه دي، نو د خپلو ورونو ترمنځ صلح او جوړښت راولئ او د الله جل جلاله نه ووېرېږئ، چې په تاسې رحم وشي.

او کوم څه چې په دې وروروليٰ مرتب کېږي، هغه د مسلمانانو ترمنځ مینه او محبت، صلح او یو د بل سره مرسته او په خپلو کې اتحاد او اتفاق دی او مخالفت او جنګ جګړه مستثنیٰ حالتونه دي او کله چې منځ ته راشي، باید هغه خپل اصل ته چې مینه، محبت، صلح او یو د بل سره مرسته، اتفاق او یووالی دی، وګرځول شي او د دې اصل د ټینګښت لپاره په نورو

مسلمانانو لازمه ده چې په جګړه کې ښکېل لورى په خپلو ځايو کښېنوي او د دوى ترمنځ صلح راولي او که صلحې ته نـــه راګرځي د تېري کوونکي لوري په ضد بايد وجنګېږي او هغوى صلحې ته مجبور کړي او د دې اصل غوښتنه دا ده چـــې د داسې جنګ ټپيان او بنديان ونه وژل شي او کوم کسان چې د جنګ څخه په شا کېږي او اسلحه په ځمکه ږدي، هغو تـــه بايد عفوه وشي او تعقيب نشي. مالونه او شته يې غنيمت ونه ګڼل شي، ځکه د سرکشو مسلمانانو سره د جنګ هدف دا نـــه دى چې دوى نابود شي، بلکې هدف د مسلمانانو صف ته د دوى ګرځول دي او دوى د اسلام تر بيرغ لاندې راوستل دي.

وخت	فعاليتونه
۵دقيقې	ښاغلى ښوونکى د لومړنيو مرحلو څخه وروسته د تېر شوي لوست په هکله زده کوونکي ارزوي، مثلاً: ۱_ د الله ﷻ په لار کې جهاد په څو جبهو کې کېداى شي، نومونه يې واخلئ؟ ۲_ د سياسي جهاد مفهوم څوک ويلاى شي؟ وروسته ښوونکى د ځوابونو له اورېدو وروسته د نوي لوست سرليک ((صلح او احکام يې)) په تخته ليکي او يوه زده کوونکي ته امر کوي چې لوست د کتاب له مخې ولولي او نور زده کوونکي ورته غوږ کېـــږدي او دى پـــه خپله بغلي سرليکونه په تخته وليکي. بيا زده کوونکي په څو ډلو وېشي او ورڅخه غواړي چې د صلح او پخلاينې په هکله يو د بل سره بحث وکـــړي او استازى يې د ټولګي مخې ته راځي او نتيجه يې بيانوي.